د

رحمان بابا

دیوان

مصحح مدون او مقابله کونکی
عبدالرؤف بینوا

۱۳۲٦هـ ش/۱۹٤۷ ع

مقدمه

رحمان بابا

۱۰۴۲ـ۱۱۱۸هـ

پیژندنه:

د رحمان بابا د پیژندني دپاره همدومره بس دي چه ټول پښتانه ورته بابا وایي. په پښتوکښي د بابا لقب یا هغو شاهنشو ته ورکړي شوي دي چه د توري او توپک په زور ئې پښتنو ته ملکونه نیولي دي او یا هغو فقیرانو ته ورکړی شوي دي چه نه ئې توره نه ئې توپک او نه ئې زور و، خو د خبرو په سحر ئې د پښتنو د زړونو عالم تسخیرکړي او د هر پښتانه د زړه په تخت ناست پاچهی ئې کړې ده لکه چه رحمان بابا وایي:

د پالنګ او د پیړیې حاجت ئې نشته
د یارانو نشستن د زړه په تخت دي

احمد شاه بابا ته ځکه بابا وایو چه د ډهلی تخت ئې پښتنو ته ګټلی و، خو رحمان بابا د خاوروکنډولې په لاس د پښتنو بابا ؤ:

پاچهان که د ډهلي په تخت نازیږي
خوار فقیر لره د خاورو کنډولی دي

رحمان بابا په ۱۰۴۲ هجري کال د پښتونخوا د پیښور په علاقه په بهادرکلی کښي زیږیدلي دي او د پلار نوم ئی عبدالستار وُ، قوم ئې که څه هم مومند دي مګر د رحمان بابا مقام له دینه ډیر اوچت دي چه دي کومي خاصی قبیلی یا کوم خاص ټبر ته منسوب شي، ځکه چه لوي او حقیقي شاعران بین الانساني شخصیتونه لري. رحمان بابا هم د ټولو انسانانو دي خو بیا په خاص طور د ټولو پښتنو بابا دي. دی پخپله هم ځان کومي قبیلې ته نه منسوبوی وایي:

زه عاشق یم سر وکار می دي له عشقه
نه خلیل، نه داودزی یم، نه مومند

رحمان بابا فقه او تصوف له ملا محمد یوسف یوسفزی څخه ولوستل او نور علوم ئې د هغه وخت په

هندوستان کښې زده کړل. لوی عالم او بزرګ زاهد شو، د پښتنو د لویو او وړو عقیده پرې راغله او ورته بابا وویل؛ خو د ده زاهدي د ریا زاهدي او خود نمائي زاهدي نه وه چه تر خرقې لاندي د خدای مخلوق ته دام وغوړوی، په زړه یو څه په خوله بل څه وي. رحمان بابا له داسي زاهدۍ څخه توبه باسي:

د ریا له زاهدۍ ځما توبه ده
چه ئې کاندي څوك په رسم او په عادات
په ورځ پیدا و نصیحت وایي و بل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات
دین ئې دام وي د دنیا په لار کښې
ایښې پرې را اړوي وحشیان د مخلوقات
د هغو په لور ئې سترګي وي ختلي
چه په لاس ئې سرمایه وي یا زکات
زه رحمان له هسي خلقه پناه غواړم
هر چه لافه کړي خلاف د مقامات

دي زاهد وو مګر نه تش د خرقې زاهد:

د ریا خرقه ئې خداي مکړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلي قلندر دي

رحمان بابا په غریبه کورنۍ کښې پیدا شوي و، او پخپله هم غریب و، خو دې غریبۍ هیڅکله د ده لوړ همت ټیټ کړي نه دي او نه ئې د ده غاړه چا ته کږه کړې او نه ئې لاس د چا خوا ته اوږد کړي دي، وایي:

څوک دي را کاندي قسم په کرد ګار
که درم لرم په کور کښې یا دینار
زه درم او دینار نه لرم په کور کښې
ولې نور عالم مي بولي دنیا دار
هم په دا چه نه له ځایه چیرته خوزم
نه د هیڅ یوه مخلوق یم منت بار
آب و خور لکه آسیا په ځاي را رسي
پخپل کور کښې مي سکون دي هم رفتار
لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان را باندي راشي که بهار

د رحمان بابا د لوړ شخصیت پیژندنه د ده له دې یوې غزلي څخه هم‌ګرانو لوستونکو ته څرګندیدلاي شي:

په ښه خوي له بد خواهانو بې پروا یم
په نرمیِ لکه اوبه د اور سزا یم
و هر چا ته پخپل شکل څرګندیږم
آئینه غوندي بې رویه بې ریا یم
قناعت مي تر خرقې لاندي اطلس دي
پټ د درست جهان پادشاه ظاهر ګدا یم
د غنچې په څیر په شل ژبو خاموش یم
لکه بوي هسي په پټه خوله ګویا یم
هم په دا سپینو جامو معلومیږم
لکه ابر هم ګوهر یم هم دریا یم
دراز عمر مي حاصل شوله راستیه
لکه سر و مدام سبز و تازه پایم
که چا لار د عاشقیِ ده ورکه کړې
زه رحمان د ګمرهانو رهنما یم

د رحمان بابا شعر

رحمان بابا پخپله د خپل شعر په باب کښې فیصله کړې ده چه وایي:

چه منکر پرې اعتراض کولي نشي
دا دئ شعر دي رحمانه که اعجاز

ځکه چه اعتراض خو به د یو پښتون له خوا کیده مګر پښتون خو ده ته بابا ویلي دي نو بیا چرته دا اعتراض او انکار ځاي پاتیدي شي! بې له دې چه بیرته د ده له خولې ووایو:

هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر ترکي د باګرام

هو، دا یوه خبره شته چه د رحمان بابا شعر یوازي د باګرام د ترکو نه دي بلکه د ده د اشعارو لوي او مهم خصوصیت دا دي چه د هر چا او هري ډلې په زړه جوړ او په خوله جاري دي: یو پلو ته که د باګرام ترکي پرې نځا کوي بل پلو ته د زاهدانو له صومعې نه هم د ده د اشعارو ږغ راځي چه وایي:

خرقه پوشه په خرقه کښې دي موندلي
هغه خط چه په دنیا کښې دنیا دار کا

له يوې خوا که ئې مستان په ميخانه کښې په ويلو مست زنګيږي او د هر مست له خولې دا چيغه خيژي:

چه د څنګه مي دلبر په لاس کښې جام دي
نن اورنګ د زمانې ځما غلام دي

له بلي خوا ئې واعظان په منبر لولي:

په دنيا کښې که څه کار دي خو د دين دي
د دې کار په کننده وُ آفرين دي

د دنيا تارکان او پرينښودونکي ئې په دې بيت خوشحالي کوي:

دا دنيا په احمقانو ده ودانه
دانا نه کا په دنيا باندي غرض

خو دنيا دار ئې بيا دا شعرونه وائي:

ښـــــه ده ښـــــه ده دا دنـــــيـــــا
چـــه تـــوښـــه ده د عـــقـــبـــا
د دنـــيـــا پـــه بـــازار کـــيـــږي
د هـــغـــه جـــهـــان ســـودا
پـــه دنـــيـــا کـــښـــي بـــدي نـــشـــتـــه
کـــه بـــدي نـــه وي لـــه تـــا
پـــه دنـــيـــا کـــښـــي لـــوي حـــکـــمـــت دي
پـــرې پـــوهـــيـــږي حـــکـــمـــا

غرض دا چه د رحمان بابا د اشعارو يو لوي مزيت دا دي چه د هر چا د ذوق سره برابر مطالب لري او د هر چا د تنهائۍ ملګري دي. په پښتو کښې به ډير داسي کم کور پيدا شي چه د رحمان بابا ديوان هلته نه وي. حتي پښتنې ميرمني د رحمان بابا له روح څخه استمداد کوي او په اشعارو ئې فال ګوري، دا ځکه چه د ده اشعار له هره لوڅه پاک او سپيڅلي دي، نه د چا بې ځايه هجو او نه د چا د مبالغې نه ډکه مدح او ستاينه پکښې ليدله کيږي داسي نه چه ګوندي رحمان بابا په دې خبرو نه پوهيده، پوهيده خو پرې خوښ نه وُ. لکه چه وايي:

په اشعار کښې قوتناک لکه زمري يم
ولي نه يم د زمري په څير ګزند
هم په مدح هم په هجو ښه پوهيږم
ولي نه يم په دا چارو ډير خرسند

بې له عشقه که مي عيب که مي هنر دي
ما غوخ کړي دي له ځانه بل پيوند

ښاغلي راورټی او پادری هيوز انګريزی مستشرقين او اډورن روسی پښتو پيژندونکي رحمان بابا د پښتو د ادب پيشوا بولي. که څه هم پښتانه د پردیو مستشرقينو قضاوت ته څه اړه لري، ځکه چه پردي هيڅکله د رحمان بابا د اشعارو په خصوصيتونو د يو پښتون په شان پوهيداي نشي خو به هم له دې څخه د رحمان ادبي منزلت د پردیو په نظر کښې څرګنديږي چه رحمان بابا نه يوازي پښتنو په بابائې منلي بلکه د دنيا نور پوهان هم د پښتو په ادب کښې د ده لوړ مقام ته قائل دي.

مړينه: رحمان بابا په ۱۱۱۸ هجري کال له دې فاني دنيا څخه ستړګي پټې کړې او د پښتونخوا پيښور په علاقه د هزار خانې په هديره کښې ښخ شو چه اوس ئې عام خلق زيارت ته ورځي.

ديوان: د رحمان بابا ديوان څو څو ځلي چاپ شوي دي چه ډيره زړه او چاپي نسخه ئې هغه نسخه ده چه په ۱۲۹۳ هجري کال د مولوي احمد په تصحيح او اهتمام په لاهور کښې چاپ شوې ده، ځما په عقيده دا نسخه تر ټولو چاپي نسخو صحيح او مکمله ده ځکه نو مور په دې کتاب کښې هغه نسخه اساس ونيوله او له نورو نسخو سره مو مقابله او تصحيح کړه؛ دوهمه چاپي نسخه هغه ده چه پروفيسر عبدالمجيد افغاني يو مختصر تمهيد پرې ليکلي دي، د پروفيسر صاحب تمهيد ډير خوږ او ادبي دي، خو افسوس چه پخپله د ديوان متن د کاغذ د نازکوالي له کبله مغشوش دي؛ کومه دريمه چاپي نسخه هغه نسخه ده چه پروسږ کال يعني په ۱۹۴۸ عيسوی کال په لاهور کښې چاپ شوي او مولانا عبدالقادر صاحب د پښتو پياوړي ليکونکي پرې يو خورا عالمانه تمهيد ليکلي دي په دې تمهيد کښې که څه هم يو دوه ځايه د رحمان بابا ژوند او کلام د سياسي اغراضو دپاره استخدام شوي دي مګر د تمهيد هغه برخي چه هغه يوازي د رحمان بابا د ژوند او شاعرۍ په باب کښې ليکلي شوي خورا عميقي او مفيدي دي، بر سيره په تمهيد د دې کتاب کاغذ او ليکل هم ښه دي خو د محشي صاحب بې ځايه حاشيو ئې د صحافت رنګ ګډ وډ کړي او ډير ځايونه ئې بې لزومه حاشيې پرې ليکلي دي مثلا داسي لغتونه ئې ترجمه کړي چه ترجمې ته اړ نه دي او يا ئې ډير عربي مشهور لغات چه پښتانه ورسره ډير ښه آشنا دي بيرته په عربی ترجمه کړي دي.

دا درې سره نسخې او يا نوري چاپي نسخې ټولې په دو وو دفترونو کي چاپ شوي دي چه هر دفتر ځانته ځانته رديف لري خو دا راته څرګنده نشوه چه د رحمان بابا ديوان په دو دفترونو ويشل له کومه وخته شروع شوي دي؟ آيا دا تقسيم پخپله رحمان بابا کړي که بل چا؟ د رحمان بابا له ژونده چه ښکاريږي خو وايي چه هغه خپل اشعار لا پخپله را غونډ کړي نه دي. دا د دفترونو مردف کول خو لا ځانته خبره ده.

دا ديوان:

له ډيري مودې ځما دا خواهش ؤ، چه د رحمان بابا ديوان پښتو ټولنه په يوه ښکلي صورت چاپ کړي چه هم ئې ليکل ښه وي او هم ئې املا سره سمه وي او هم په يوه داسي قطع او حجم چاپ شي چه هر لوستونکي ئې په ډيره آسانۍ له ځان سره وګرځولاي شي؛ د مطبوعاتو د مستقل رياست مسلکي مجلس د

پښتو ټولنې دا خواهش ومانه، او ما د رحمان بابا د ديوان په تصحيح او مقابله او تدوين شروع وکړه. لمړی مې د دوو دفترو تقسيم له منځه ليرې کړ او دواړه دفترونه مې د يوه ديوان په شکل مرتب او مردف کړل وروسته مې دا ديوان د اوسنې رسم الخط او املا په اساس تصحيح کړ، په پای کې مې پورتنۍ درې نسخې په کوم ځای کښې چه ضرورت وُ سره مقابله کړې، مگر څنگه چه په دې ترتيب دا لمړی ځل دي چه د رحمان بابا ديوان مدون، مرتب او چاپيږي نو دا احتمال لري چه هغه شانته به چه د پښتو اديبانو انتهائي خواهش وي دا ديوان تصحيح او مقابله شوي نه وي، خو بيا هم يو نوي قدم دي هيله لرم چه د پښتو پوهانو ملگرو په مرسته به د دوهم چاپ کې دا نسخه ښه بشپړه او تکميله شي.

عبدالؤف بينوا
د پښتو ټولنې مشر
۱۹٤۷/۱۳۲٦

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيمُ

ا

گوره هسي کردګار دي رب ځما چه صاحب د کل اختيار دي رب ځما
همګي بزرګواران چه څوک ئې وايي تر همه ؤ بزرګوار دي رب ځما
نه ئې هيڅ حاجت په چا باندي موقوف دي نه د هيڅا منت بار دي رب ځما
له نيستۍ ئې د هستۍ صورت پيدا کړ هسي رنګ پروردګار دي رب ځما
هم صانع دي د جمله ؤ مصنوعاتو هم سامع د هر ګفتار دي رب ځما
چه ئې هيڅري نه مثل نه مثال شته د هغو عطر و عطار دي رب ځما
هر تعمير چه د دنيا او د عقبيٰ دي د همه واړو معمار دي رب ځما
خواننده د نانويسو صحيفو دی داننده د هر اسرار دي رب ځما
که ظاهر دي که باطن دي که مابين دي له همه ؤ خبردار دي رب ځما
که پيدا که پوشيده دي که اوسط دی په همه ؤ وقوف دار دي رب ځما
شريك نه لري په خپلې پادشاهی کښې بې شريکه شهريار دي رب ځما
هسي نه چه واحدي ده له عجزه په واحد وجود بسيار دي رب ځما
حاجت نه لري د هيڅا و ياري ته له هغو سره چه يار دي رب ځما
څه حاجت دي چه و بل خوا ته ئې وغواړم په خپل کور کښې همکنار دي رب ځما
هيڅ تغيير و تبديل نه لري رحمانه تل تر تله بر قرار دي رب ځما

که صورت د محمد نه وي پيدا پيدا کړې به خداي نه وه دا دنيا
کل جهان د محمد په روی پيدا شه محمد دي د تمام جهان آبا
نبوت په محمد باندي تمام شه نشته پس له محمده انبياء
نور هاله د محمد وُ په جهان کښې چه بوی نه وُ د آدم او د حوا
په صورت که آخرين دي پيدا شوي په معني کښې اولين دي له هر چا
خداي يې مه ګڼه بې شکه چه بنده دي نور ئې کل واړه صفات دي په رښتيا
که نبي دي که ولي دي که عاصي دي محمد دي د همه واړو پيشوا

چه ئې دین د محمد دي قبول کړي جنتي دي که فاسق دي که پارسا
محمد د ګمرهانو رهنما دي محمد دي د ږندو د لاس عصا
که رښا ده پیروي د محمد ده ګټه نشته په جهان بله رښا
محمد د بیچاره ؤ چاره ګر دي محمد دی هر دردمند لره دوا
زه رحمان د محمد د در خاکروب یم که مي خداي نه کا له دي در مجدا

دوباره دي راتله نشته په دنیا نن دي وار دي که دروغ کړې که رښتیا
هره چار چه تر وقت تیره شي عنقا شي عنقا نه دي په دام نښتي د هیچا
تر ورخ تیرې اوبه بیرته نه جار وزي نه جار وزي تیر ساعت نه بیرته بیا
تیر ساعت په مثال هړي د لحد دي هر چا نه دي ژوندی کړي په ژړا
که مقصود لرې تلوار کړه وقت کوتاه دي غره مه شه د دې عمر په بقا
هره نبسه چه صحیح ګڼې په زړه کښي په غرور به هغه ننبه کړې خطا
په امید امید ئې خلق نا امید کړه د ایام له مکره مه شه بې پروا
چه د مرګ په تماچه دي شي خوله ماته ترو په ماته خوله به څه کوی ثنا
ویر ژړلي ارتیدنې چه وینا وایي تا ته وایي که پوهیږې په وینا
هلك بې ته چه په زور دي څوك تعلیم کا هم عاقل یې هم بالغ یې هم دانا
په عمل د نیکو بدو فهم وکړه چه په دا کښي دي بهبود دي که په دا
سر دننه په ګریوان کړه سترګي رونې ډیر په پورته پورته مه څه سرهوا
سرهوا سرهوا مه څه و آسمان ته ته په اصل کښي له زمکي یې پیدا
د عمل په ځاي به دا پوښتنه نه وي چه ته زوي یې یا نمسي د فلانا
په خپل ځان ښیګړه وکړه غره مه شه په ښیګړه دا دي او د بابا
هغه ناوې چه په ځان ښایسته وي څوك یې څه کوي ښایست د مور ونیا
دا خبره زه و ځان ته کړم اې یاره دلګیر مه شه که مي نوم واخیست ستا
نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته وایم نه مي کار نه مي غرض شته په بل چا
که مي ځاي د دې غمونو وي په زړه کښي ما به څه لره کوله دا انشاء
چه د مرګ سختئ خواری دا ستا په خوا دي اې رحمان ولي نه مرې لا پخوا

هوښيار مه ګڼه هوښيار د دې دنيا بې وقوف دي وقوف دار د دې دنيا
روښنائی په هغو زړونو ده حرامه چه پرې کښيني ګرد غبار د دې دنيا
پوچ ګوئی ده چه ئې اهل د دنيا کا هر کلام و هر ګفتار د دې دنيا
د طفلانو په څير واړه خاکبازي کړي هر چه کاندي کار و بار د دې دنيا
واړه ډکي خولې د پيو هلکان دی کار ديده و پخته کار د دې دنيا
هميشه به بې وقوف او بې شعور وي چه مخمور وي په خمار د دې دنيا
د شرابو هم لا همره مستي نه وي لکه مست وي خمر خوار د دې دنيا
هر بيمار لره د لرو په جهان شته دي دارو نه لري بيمار د دې دنيا
د هر سوی علاج وشي په جهان کښي مګر سوی په شرار د دې دنيا
هر چه واچوي و اور ته وار سوځي مور به نشي طلبګار د دې دنيا
ګرفتار ئې هميشه په غم کښي ډوب وي هيڅوک مه شه ګرفتار د دې دنيا
تل به پروت وي په ظلمت و په تور تم کښي چه اسير وي په ګفتار د دې دنيا
په مسلمو کښي خاصه مسلم هغه دي چه ئې وشلاوه زنار د دې دنيا
تن ئې پاتي شي بې سره سر ئې لاړ شي سردار کله دي سردار د دې دنيا
زوی و لونړه يتيمان کا ځني درومي بې وفا دي مور و پلار د دې دنيا
هميشه به ئې يو پند د غم په سر وي چه په سر ئې وي دستار د دې دنيا
واړه غم دي که ئې پيری که ئې پلوري نور څه نشته په بازار د دې دنيا
همګي واړه ټګان دي ټګي کاندي فروشنده و خريدار د دې دنيا
په دنيا به مينه نه کاندي هيڅري چه خبر وي په اصرار د دې دنيا
چه نظر د چا په دين و په ايمان وي هغه نه کا انتظار د دې دنيا
لوی هلک ئې همه واړه مکاران دي څه ويسا ده په مکار د دې دنيا
آشنايان ئې همه واړه اغياران دي يار دي چری په ديار د دې دنيا
چه پيدا شي همګی واړه فنا شي راشه وګوره ناتار د دې دنيا
چه ويريږي له کوهی او له کړنګه هغه نه درومي په لار د دي دنيا
هر سړی لره چې ورشي ځني درومي ما ليدلی دي رفتار د دې دنيا
که هزار هزار پشتې ورته ته کيږدې بې بنياده دي ديوار د دې دنيا
که د اوسپنو حصار تر ځان چاپير کړې ښيښه وګڼه حصار د دې دنيا
لکه سوری د آفتاب په مخ کښي ګرزي نشته هيڅري قرار د دې دنيا
هيڅ ګمان د بهترې ورباندي مه کړه کهتري ده وار په وار د دې دنيا

بې مقراضه غوڅوي د سړی عمر هم دا ليل و هم نهار د دې دنيا
پس له مرګه به حساب له سړی غوښت شي په انداز و په مقدار د دې دنيا
عاقبت خو به يو موټی شي د خاورو ګلعذار و ګل رخسار د دې دنيا
برابر به له ګدايه سره پاڅي شهزاده و شهريار د دې دنيا
پاس به داغ وي د لئم په ټټر باندي هر درم و هر دينار د دې دنيا
د قانع تر قناعته صدقه شه هم دنيا و هم دينار د دې دنيا
پس له مرګه به همه واړه مظلوم وي ظالمان و ستمګار د دې دنيا
تر قيامته دغه لس او دغه شل دی پوره نه کړ هيڅا شمار د دې دنيا
چه ايام پرې د کفن د غسل ورشي بې پردې شي پرده دار د دې دنيا
په تخته باندي بيرون شي له حجابه شرمناک او شرمسار د دې دنيا
له هر چا به پيغمبر څخه وه ډيره که څه قرب وي يا وقار د دی دنيا
يو فساد به ئې بيان په رحمان نشي فسادونه دي بسيار د دې دنيا

هيڅ ثابته نه کړه چا د دې دنيا وفا واړه مينی کاندي بې وفا په دا دنيا
هر څوک چه دعوې په دا دنيا د څپلوی واړه باطل وايي دنيا نه ده د هيڅا
دا فلک کلال دي سازول او ماتول کا ډير ئې ما و تا غوندی پيدا کړه هم فنا
هر سنګ و کلخ چه څرګندیږي د دې دهر واړه ککری دي څوک د شاه څوک د ګدا
دام دي هيڅوک نه ږدي د دنيا و رهګذر ته ښکار به وکړی نه شي د سيمرغ او د عنقا
هر څوک چه له دې فانی نفس وابستګي کا نه به شي ترلی په زنځير سره هوا
ماه دي که آفتاب دي عاقبت واړه خراب دي ګل که هميشه وي هسی نه تر ابدا
مه درومه رحمانه په خلاف د دانايانو مينه د دنيا پسندلې نه ده هيڅ دانا

ښه ده ښه ده دا دنیا — چه توښه ده د عقبا
مذمت د دنیا مه کړه — واوره پند کړه دا وینا
د دنیا په بازار کې ږي — د هغه جهان سودا
په دنیا کښې ډیر حکمت دي — پرې پوهیږي حکما
که تر سر ئې صدقه کړي — رفع دفع کړي بلا
که غلیم لره ئې ورکړی — غلیم دوست کا په هوا
که په اور باندي ئې کیږدی — بوي د عودو وکړي پیدا
که ئې توی کړې په صحل کښې — ښایسته کاندي صحرا
که ئې نذر کړې و پیر ته — خوشحال درومي په خندا
څو ژوندي وي په دنیا کښې — یادوی دي په دعا
د حاتم په څیر دي ستائی — خطاب درکړي د سخا
سخی هر دود و دوست د خدای دي — ولوکانَ فاَسقاً
هر بخیل د خدای دښمن دي — ولوکانَ زاهداً
دنیا کښت د آخرت دي — دا خبره ده رښتیا
د دنیا طالبان ډیر دي — که ئې مومي څوک له چا
ولی مرد په کښې هغه دي — چه سخي وي هم پارسا
په دنیا کښې بدي نسته — که بدي نه وي له تا
دنیا بحر دی بهیږي — آئینه غوندي صفا
خپل خپل مخ په کښې لیده شي — که څوک زشت وي که زیبا
هم خطر په کښې د شر سته — هم گوهر دي د بې بها
وفا دار لره وفا شوه — جفا کار لره جفا
له یوه مخه ئې درد وي — له بل مخه ئې دوا
چرته خوندکاندي د زهرو — چرته خوندکا د حلوا
کار همه واړه موقوف دي — د سړی په مدعا
مالکان دی نندارچي شي — د خپل ځان په تماشا
هر چه کا هغه به مومي — دنیا ځای دي د جزا
لکه دئ هسی به پاځي — که نادان وي که دانا
که دانا ئې وپوهیږه — په روا په ناروا
فتویٰ ونیسه په مخ کښې — پسې مټ کړه په تقوا
دنیا نه ده واړه دین دي — چه له نهی وي سوا

وطـــــاعـــــت وتـــــه ولاړ وي هـــمـــيـــشـــه تـــړلي مـــلا
لـــه حـــرامـــو ئـــې پـــرهـــيـــز وي مـــشـــغـــول وي پـــه پـــنـــج بـــنـــا
كـــلـــمـــه ئـــې وي قـــبـــولـــه هـــم پـــه جـــهـــر پـــه اخـــفـــا
د دنـــيـــا دكـــار دپـــاره فـــرض لـــمـــونـــځ نـــه كـــانـــدي قـــضـــا
هـــم صـــائـــم د رمـــضـــان وي هـــم زكـــوة كـــانـــدي ادا
كـــه ئـــې تـــوان د حـــج رســـيـــږي حـــج هـــم وكـــړي پـــســـې بـــيـــا
دا پـــنـــځـــه بـــنـــا د ديـــن دى چـــه بـــيـــان ئـــې وكـــړ مـــا
چـــه ئـــې يـــون پـــه دا طـــريـــق وي هـــغـــه كـــس دي اولـــيـــأ
كـــه ئـــې مـــال د دنـــيـــا ډيـــر وي هـــيـــڅ دي نـــه كـــانـــدى پـــروا
دنـــيـــا بـــده د هـــغـــو ده چـــه ئـــې كـــســـب وي ريـــا
يـــا ئـــې ټـــولـــه كـــا پـــه ظـــلـــم يـــا د خـــمـــرو پـــه ســـودا
يـــا ئـــې ورکـــا پـــه شـــرابـــو يـــا ئـــې ورکـــا پـــه زنـــا
يـــا نـــاحـــق خـــونـــونـــه كـــانـــدي يـــا مـــالـــونـــه خـــوري د چـــا
عـــبـــادت كـــا پـــه ځـــان فـــرض د پـــادشـــاه د امـــرا
حـــق بـــاطـــل كـــا بـــاطـــل حـــق كـــا پـــه ســـبـــب در وي ريـــا
نـــه ئـــې ويـــره وي لـــه خـــدايـــه نـــه ئـــې شـــرم نـــه حـــيـــا
د يـــوې ګـــيـــډى دپـــاره هـــزار خـــونـــي كـــا بـــيـــديـــا
هـــمـــيـــشـــه ئـــې لـــه ســـتـــمـــه واړه خـــلـــق وي پـــه غـــوغـــا
ګـــوش و هـــوش ئـــې هـــر ګـــز نـــه وي د مـــظـــلـــومـــو پـــه ژړا
د فـــرعـــون پـــه خـــير بـــه نـــاســـت وي بـــى پـــروا وكـــبـــريـــا
بـــتـــخـــانـــې وتـــه ئـــې مـــخ وي و مـــســـجـــد وتـــه ئـــې شـــا
اخـــتـــلاط كـــا لـــه بـــدانـــو لـــه نـــيـــكـــانـــو وي ســـوا
هـــيـــڅ نـــه وي پـــه خـــاطـــر كـــښـــي تـــولاً و تـــبرًا
و رحـــمـــان تـــه پـــيـــښـــه مـــه كـــړې خـــدايـــه هـــســـي رنـــګ بـــلا

هغو بيا موند سعادت په دا دنيا چه ئې وکړ قناعت په دا دنيا
نه ملکونه د سليمان په هزار کاله نه يوه کړۍ طاعت په دا دنيا
يو نفس د خدای په ياد واولۍ تر دي نه د درست جهان دولت په دا دنيا
په دنيا کښې لوټ هغو عالمو وکړ چه ئی وکړ عبادت په دا دنيا
که نعمت دي خو طاعت او عبادت دي ګټه نشته بل نعمت په دا دنيا
که محنت که مشقت دي خو د دين دي پکار نه دي بل محنت په دا دنيا
بې له خدايه هر چه دي واړه فاني دي که لذت دي که زينت په دا دنيا
که بادشاه وي آخر خاورو له به درومي څه عزت دي څه حرمت په دا دنيا
له هغه به زيات نادان په جهان نه وي هر چه غواړي فراغت په دا دنيا
ته چه څو وقته فرصت په دنيا غواړې چا موندلي دي فرصت په دا دنيا
عمارت په سر د ريګ روان کاندي هر چه کاندي عمارت په دا دنيا
د مستانو تر لغزشه څه کم نه وي د سړی استقامت په دا دنيا
هر ژوندی چه د مرده په قبر ورشي بس دي همره نصيحت په دا دنيا
په روانو اوبو ورشه عمر ګوره ډير دي همره اشارت په دا دنيا
دا پاڅه پاڅه سرايونه محلونه خو به وران شي عاقبت په دا دنيا
وړی سترګي د آسمان څه هسي نه دي چه څوک پريږدي سلامت په دا دنيا
هر چه راشي همه واړه ځنی درومي مسافر دي هر صورت په دا دنيا
رياضت په قيامت نه شي مرد هغه دييي چه ئې وکړ رياضت په دا دنيا
هم په دا خوي و خصلت به سبا پاڅي خدای څوک مه کړه بد خصلت په دا دنيا
هم هغه به ئې خرمن وي پس له مرګه هر چه کاندی زراعت په دا دنيا
که هغه جهان په دا کښې ليدي نه شي زه ئې وينم علامت په دا دنيا
په قيامت به سبه توښه ځپله نه شي ما ليدلی دی قيامت په دا دنيا
امانت به د لحد په ميان کښې پروت وي هر چه اوسي امانت په دا دنيا
نيک عمل حضور جنت دي طاعت بويه چه حاصل کا څوک جنت په دا دنيا
نيک کردار هم نيک عمل هم نيک خويونه هم جنّت دي هم راحت په دا دنيا
ضديّت د سړی عمر په عذاب کا پکار ندي ضديت په دا دنيا

لاس په سر په سینه ایښي و هر چا ته هم دغه دي شرافت په دا دنیا
که بلنده مرتبه د چا پکار وی لوی مقام دي عدالت په دا دنیا
بل ارمان به له جهانه یووړ نه شي مګر مهر، محبت په دا دنیا
د هغه جهان سودا واړه دلې ده که څوک کاندی تجارت په دا دنیا
که طالع د سړی نه وي جار وتلي هیڅ پټ نه دي حقیقت په دا دنیا
نیک له نیکو سره بویه بد له بدو که څوک غواړي ولایت په دا دنیا
ولایت دی خدای هغو لره ورکړي چه ئې ورک کړ سکونت په دا دنیا
که تمام دنیا واړه سره یو شي نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که څوک مرد دي خو هغه دي په دنیا کښي هر چه نه لری حاجت په دا دنیا
په رحمان باندي دا عمر هسي تیر شه لکه تیر شي یو ساعت په دا دنیا

راشه مه کوه له چا سره جفا لږ ژوندون دي ضایع کیږي بی وفا
په دنیا کښي هیڅوک نه دي پاتي شوني واړه تلونی دي که نن دي که سبا
دا یاران چه نن و تا ته جلو کا په دوه ورځي پس په واړه شي فنا
که دیدن د دوی دي خوښ وي ورته ګوره چه فنا شي بیا به کله شي پیدا
د خزان پای چه بیل شي له ښاخه په حکمت به ئې پیوند نه کا حکما
چه په زمکه څاڅکي پریوزی له آسمانه بیا له زمکی ختی نه شي په سما
ګمان مه کړه چه بیا سترګو لره در شي هغه اوښی چه له سترګو شي جدا
دا په هره ورځ چه خیژی بیل بیل نمر دي هر چه پریوزي هغه نه شي ختي بیا
که جنت په زهد نه دي بې له فضله هر سړی دي خپله غاړه کړي ادا
که د نس دپاره سل محنته وکړې یو محنت به دي پکار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګیډه وخورې یاد به نه شي په درود او په دعا
که یوه دانه دوړی په لاس ورکړې هم دغه به دي توښه شي د عقبا
که یو څاڅکي اوبه تږي لره ورکړې د دوږخ او ستا تر مینځ به شی دریا
که یوه ځله سر د خدای دپاره ټیټ کړې په قیامت به سر بلند شې له هر چا
بازار دا دي که څوک سود و سودا کاندي په هغه جهان نه سود شته نه سودا
آشنایان که څوک پوهیږی نن ئې وقت دي چه ځاریږي یو آشنا تر بل آشنا
که ژوندون دي خو هم دا دي په جهان کښي چه له چا سره تیریږې په خندا

سود و زیان د دنیا واړه سهل کار دي
خداي دي نه کا څوک په سهل کار رسوا

چه د ورور او عزیز زړه پرې آزار شي
حاصل مه شه هغه خپله مدعا

کله د نورو رضا بویه ګاهي خپله
په کار نه ده همیشه خپله رضا

ښه خواړه چه یو ئې خوري بل ورته ګوري
خواړه نه دي هغه زهر دي ګویا

چه ښادی ئې یو زمان وي غم تر تله
دغه هسي چاري نه کاندی دانا

لکه ځان هسي و بل وته نظر کړه
لکه ستا دي هسي ځان دي د هر چا

منصفانو لره بویه چه انصاف کړي
نه چه نغوته کا د حرص و د هوا

د سړی په خاطر هر څه هر څه ګرزي
هسي نه چه واړه وګڼي روا

دینداران دي و خپل دین وته نظر کا
څوک فکرونه د صواب څوک د خطا

خدای دي نه کاندي خطا د چا له لاسه
څه نسبت دي د خطا او د عطا

هسی نه چه سړی واړه سره سم دي
څوک اعلیٰ دي څوک اوسط دي څوک ادنا

د هر چا حرمت په خپله اندازه دی
نه چه مومي نفر ځاي د امرا

زه رحمان له چا شکوه شکایت نه کړم
نشته بل دوست و دښمن ځما بې تا

که څوک یار په جهان غواړی یار دي دا
یار دي دا که د جهان سنګار دي دا

خیال د زلفو ئې ځما تر زړه چاپیر شه
یار تر ګنجه چاپیر شوي مار دي دا

دا جهان دی خداي له عشقه پیدا کړي
د جمله ؤ مخلوقاتو پلار دي دا

تر عشق غوره بل څه کار په جهان نشته
تر همه کارونو غوره کار دي دا

بل بلبل به د ګل نوم اخیستي نه و
که خبر وي چه ګل نه دي خار دي دا

بیا راتله دي دې جهان ته بل وار نشته
بل وار نشته بل وار نشته وار دي دا

د حباب عمر دي وګوري چه څه دي
که څوک شمار کاندی د عمر شمار دي دا

د مجنون صورة په زړه کړه رحمان ګوره
ستا په عشق کښي هسي خوار و زار دي دا

چه له تا سره په سر کاندی سودا
بل به نه وی هسي ما غوندی شیدا

نه به ما غوندي شیدا وي په جهان کښي
نه به تا غوندي دلبر شي بل پیدا

ما دا ستا جور و جفا دي قبول کړې
ولي نشي د ژړا په ځاي خندا

بې د ستا له مخه کون دي که مکان دي
ښه توښه مي نه په دا شي نه په دا

جدائې به دي هیڅ رنګ قبول نه کړم
څو مي نه دی روح کالبوت سره جدا

لکه ورستو مقتدیان وړاندی امام وی
ما په تا پسې ده کړې اقتدا

زه یو نه یم درست جهان په تا مین دي
که بادشاه دي د دې دهر که ګدا

کاشکی خط د امانیِ و ما له را کړې
چه له ما سره وعده کړې د فردا

زه پخپله په تا نه یم مین شوي
ستا له لوری په ما شوې ده ندا

زه په تا باندي مین یم له ازله
نه چه کړې می نن ورځ ده ابتدا

چه د ستا د عاشقیِ په تیغ شهید شي
د رحمان غاړه به هله شي ادا

د رحمان و زیړي رنګ وته نظر کړه
چه مدام په تا پسې کاندي ژړا

که مین یې په خپل یار باندي رښتیا
آواره کړه اول دین پسې دنیا

په وفا د دلبرانو غلط مه شه
دغه قوم دي بې وفا و کبریا

د خوبانو طایفه ده هسي شوخه
چه غوږ نه باسي د چا په واویلا

د ډیر ناز او د ډیر کبر له سببه
عمل نه کا په ګفتار د اولیا

دل و دین په یو نګاه د سړي یوسي
نه یې ویر له چا کیږي نه حیا

بل به هسی سرګردان په جهان نه وي
یا عاشق دي یا آسمان دي یا آسیا

ته چه ژغورې سر و مال په عاشقیِ کښي
عاشقي دا هسي چري ده ویړیا

د جنت له حورو تیر شه که یار غواړې
خدای دي نقد د چا و نه کاندی نستیا

د ساقی له لاسه هسي پیاله نوش کړه
چه دي غوښ کا له زړه خیري د ریا

چه ئې کسب عاشقي شوه د دلبرو
نظر نه کاندی په کسب د کیمیا

یو ګفتار ورلره بس کانده رحمانه
څه به هر ساعت پوښتنه کړې بیا بیا

عاشقي مي ئې په زړه وکړ ګذر بيا
بيلتانه مي لنبې بلي کړې په سر بيا

که دفتر د خپل قسمت می په خپل لاس وی
ما به ستا له غمه وران کړ دا دفتر بيا

ما لا نوم د عاشقیِ آخستي نه و
جدایيِ دي راته جمع کړ لښکر بيا

پس له مرګه به ئې بيا له تا قربان کړم
که صورت مي خدای پيدا کړ په محشر بيا

د هجران محنت مي واړه له زړه هير شه
چه مي وليده په سترګو ستا بشر بيا

چه آسمان ئې مخ پټ کړي په سحاب و
خدای و ما وته ښکاره کړ هغه نمر بيا

چه رقيب راته تړلي په زنځير و
خپل حبيب را باندي پرانيت هغه در بيا

په يوه نظر ئې زړه را څخه يووړ
خدای دي خير کا چه لا وکړي بل نظر بيا

په وصال ئې منت بار اوسه رحمانه
په صدف کښې دخل نشته د ګوهر بيا

ته چه ما ته وايې چه په څه کوې ژړا
نه در معلومیږي دغه خپل جور و جفا

ته جور و جفا کړې زه ژړا کوم دلبره
ستا که دغه نه وي دا به هم نه وه ځما

څه ښادی به کاندي طائفه د عاشقانو
رسم د بتانو که هم دا وي لکه ستا

دا خصلت چه ستا دي که هم تل دغه شان وي
نه را معلومیږي د دردمند د زړه دوا

يو د ستا مانې شه بل غرور د رقيبانو
وار په وار مي وژني کله هغه کله دا

هر چه عاشقي کا که په قطع افلاتون وي
زه خو ئی مجنون ګڼم که نن وي که سبا

سپی هم په عذاب د جدایيِ د وژلو نه دي
زه خو ګوندي ستا د کوڅې سپی شوم په وينا

هيڅ ئې په کار نه دي رحمان تا غواړي دلبره
دا ځما رضا ده باقي هر چه ستا رضا

چه ئې نقش په زړه خيال شي د آشنا
صدقه ئې سر و مال شي د آشنا

پس له مرګه به ئې تيغ هسي مخ رونړ وي
چه آشنا په تيغ حلال شي د آشنا

په آسمان د آشنائي به ئې مکان وي
چه زمين غوندي پايمال شي د آشنا

خوشحالي ځما د زړه په هغه دم وي
په هر دم چه زړه خوشحال شي د آشنا

روح هغه ساعت داخل ګڼم په تن کښې
چه ئې دخل په وصال شي د آشنا

نور د هيڅا قيل و قال می پکار نه دي
چه تر غوږ مې قيل و قال شی د آشنا

هم هغه يوه ګړیِ را باندي کال وي
چه يوه ګړیِ محال شي د آشنا

زرغونه کاندي دانه زما د عيش
چه په زړه مي زرغون خيال د آشنا

نه بل څوک ځما طبيب بې آشنا شته دي
نه به بل څوک په مثال شي د اشنا

د رحمان نظر په هيڅا باندي نه وي
چه نظر ئې په جمال شي د آشنا

دل و دین می په هغه ترک کړه فدا لا ئې نه حسابوي د ځان بها
د ښایست صفت ئې څو کوم حیران یم په هیڅ شان ئې موندی نه شي انتها
د صورت له عیبه هسي پاکیزه دي لکه ذات د ویښته نشته دي په ها
که ئې مخ په زلفو پټ وي باک ئې نشته تل به ګنج باندي پراته وي اژدها
لکه نمر هسي جلو کا په شفق کښې چه په سر کاندي اودنړی د سوها
نه پوهیږم چه په کومه لاره درومم چپ و راست مي رقیبان دي هزارها
خدای دي هسی تنها نه کا څوک په غم کښې لکه زه د یار په غم کښې یم تنها
همیشه د بیلتانه له غمه لولم زه رحمان نعوذ بالله منها

ډیره شوه د یار پسې ژړا ځما نه ګروهیږي په ژړا آشنا ځما
که مي هره وینا در شي یا ګوهر شي ستا د غوږ نه ده لائق وینا ځما
په نارو به ما بیدار کړ که اوده وي راته ویښ اوده شه دلربا ځما
زه مکتوب غوندي په پټه خوله ګویا یم لاندي کړله خاموشي غوغا ځما
کښت د عشق په توده زمکه آسان نه دي سمندر بویه په دې صحرا ځما
دا یار نه دي چه هجران له ما نه بیل کړ دغه روح له تنه شه جدا ځما
زه رحمان بې خپله یاره هیڅ نه غواړم که قبوله خداي ته وي دعا ځما

عالمان دي روښنائي د دې دنیا عالمان دي د تمام جهان پیشوا
که څوک لار غواړي و خدای هم و رسول ته عالمان دي د دې لاري رهنما
کیمیا ګر که د کیمیا په طلب ګرزی همدمي د عالمانو ده کیمیا
په مجلس د عالمانو به سره زر شي که څوک کانې وي یا لوټه د صحرا
جاهلان دي په مثال د مردګانو عالمان دي په مثال د مسیحا
چه مرده ئې له نفسه ژوندي کیږي عالمان دي واړه هسي اولیا
هر سړی چه رتبه نه لري د علم سړی نه دي خالی نقش دي ګویا
زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم یم که اعلیٰ دي که اوسط دي که ادنا

چه واده ئې کا په ډول او په سرنا بيا پرې وايي زمانه د وير وينا
که مي هر څو دلبري او دلجوئي کا زه پوهيږم د خپل يار په استغنا
په يوه ګړۍ مې يار هم مي آشنا شي بيا مي بله ګړۍ نه ګڼي آشنا
دا زه خپله تسلي کړم يار ئې بولم څه ياري ده د ناتوان او د توانا
يو زمان و يو دم بې خپله صنمه زه بهتره تر بقا ګڼم فنا
هر سړی په يوې چاري خدای مشغول کړ زه مشغول کړم رب د ترکو په ثنا
ما بې عشقه بل هنر نه زده ناصحه بخښنده شه که نادان يم که دانا
چه مي غوږ په نارو نه باسي حيران يم پروا نه لري واړه دي که برنا
بې د يار له ښه ديدنه دي خدای نه کا د رحمان په زړه کښې بله تمنا

دا دنيا د بې وفا بې وفا ده بې بقا
نه ئې مخ شته نه ئې څټ شته لکه لوټه د صحرا
په يوه ګړۍ ئې مخ وي په يوه ګړۍ ئې شا
په يوه ګړۍ د ستا وي په يوه ګړۍ ځما
په يوه ګړۍ ئې درد وي په يوه ګړۍ دوا
په يوه ګړۍ ئې خوف وي په يوه ګړۍ رجا
په ساعت کښې بقا وي په ساعت کښې ئې فنا
په ساعت کښې ئې سکوت وي په ساعت کښې ئې غوغا
په ساعت کښې ئې خندا وي په ساعت کښې ئې ژړا
په ساعت کښې ئې وفا وي په ساعت کښې ئې جفا
په ساعت کښې ئې افلاس وي په ساعت کښې ئې غنا
چه نه شان لري نه شکل کله دا شي کله دا
خدای څوک پيښ مه کړه رحمانه په دا هسې رنګ بلا

په ښادۍ ښاد شوي نه يم د هيڅا تور ټپ سوي يم په غم د هر آشنا
که زه طمع توقع له بله نه کړم د بل طمع توقع کيږي له ما
که مي ورور که مي عزيز که مي فرزند دي واړه غواړي خپله خپله مدعا
په هر کور کښي رنځوران راته پراته دي لاس مي نه رسي د هيڅا په دوا
د دنيا خبري واړه په دنيا شي ما به څه کا څوک چه نه لرم دنيا
که په کلي کښي مي کور دي زه گمان کړم چه کور نه دي دا مي گور دي په صحرا
چه څه کار پرې نه پوره وي نه نيمگړي څوک به څه کا له هغو سره خندا
چه ئې ښه توښه و بله سره نشی تر هغه آشنا بهتر دي نا آشنا
په توده زمکه استوگنه ده مشکله څه به زيست شي له رحمان سره د چا

که خپل زړه غواړې له چا ځان صياد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه سپور په آس شه د هوا
لکه حضر هسي پاڅه اوبه وڅښه د بقا
له زمينه قدم کيږده په آسمان لکه عيسٰا
د هغه استاد شاگرد شه چه در وښيي کيميا
دا چه ما درته بيان کړه که حاصل کړې واړه دا
هاله طمع کړه رحمانه له خوبانو د وفا

که نماښام تر ستوني ښکته کړې حلوا سبا خواست کوې له خدايه د ښوروا
په هيڅ حال کښي دي قرار و صبر نه شي ليونی کړې ډير حرص ډيري هوا
تمام عمر تر آشنا تر عزيز پوري يوې گيډې مختورن کړې هم رسوا
چه په خپلي رسوايۍ دي پروا نشته نور به څه کړې په جهان د چا پروا
چه د نفس دپاره لاس و چا ته نيسې دا زحمت له خدايه غواړې که دوا
نفس بې شماره عالم پرې يست و کوهي ته خدای دي نه کا نابينا د چا پيشوا
په روا په ناروا کله پوهيږي و چارپای ته څه روا څه ناروا
چارپايان که غوږ و سترگي لري څه شو په معنیٰ کښي نابينا دي ناشنوا
زه رحمان له هغه علمه پناه غواړم چه له دينه له مذهبه وي سوا

سل ځله که وخوري ناصحان ځگر ځما بیل به وبله نه کا درد ستا و سر ځما
صبر ستا په عشق کښې دا خبره څه اوره څوک نشته د دې چاري توان یو موي قدر ځما
ستا له محبته جارواته ځما دروغ دي ولي خاوري نه شي په دا لار بشر ځما
واړه معشوقې د عاشقانو خبر اخلی بې له تا چه نه اخلې یو دم خبر ځما
هیڅ اندوه مي نشته بې د ستا له جدائیه نور اندوه به څه وي تر دغه بتر ځما
خوب د کور و کلي په نارو ځما برهم شه څه چل دي چه نه شي ستا په زړه اثر ځما
کل واړه جهان که ما رحمان لره دلبر شي چري دي دلبره بې تا بل دلبر ځما

هسي یاد یې همیشه مدام ځما چه اوراد یې په هر صبح و شام ځما
هر کلام چه بې د ستا له یاده وکړم سل توبې دي په هغه کلام ځما
بې له تا که زه آرام کړم په سل رنګه نه شي نه شي په هیڅ رنګ آرام ځما
ننګ و نام که ستا په مینه له ما درومي زار شه ستا تر مینې ننګ و نام ځما
چه قایم شوم په مقام د عاشقیِ هیر شه دلته واړه بل مقام ځما
څو د عشق په خمخانه ئې داخل نه کړم پخته نه دي دغه عقل خام ځما
نن دي وقت دي که مي آه و فریاد اورې څو چه خاوري نه دي هر اندام ځما
هزار جام و صراحی دې فلک مات کړه څو به ګرزي په دا دور جام ځما
زه رحمان به دا ناکام کوم تر کومه وایه کله به حاصل شي کام ځما

چه هر چا لیدلي نه وي یار ځما خیر دي دا که وایی بد په کار ځما
هر هغه چه وي دلبر ځما لیدلي نه به کا انشاءاللّٰه انکار ځما
سر ځما درګاه د هغه یار عزیز وي بې له دې نه شته بله لار ځما
ما بې له عشقه بل څه څیز نه دي زده کړي چه څه دي هم دا دي واړه کار ځما
خدای دي یو له بله هیڅوک آزار نه کا اي دلبره ماخله ته آزار ځما
یاره ستا په جدایيِ او په ډیر غم کښې سیند د اوښو درومي په رخسار ځما
لوي هلک کړي همه واړه ستا خبریي ګفت و ګو نشته بل څه په دیار ځما
زه رحمان به لاف په عشق څه وهمه خود به ځان څرګند کا انتظار ځما

سر ځما سامان ځما ځار شه تر جانان ځما ځار شه تر جانان ځما سر ځما سامان ځما
ریان ځما نقصان ځما واړه د یار هجر دي واړه د یار هجر دي زیارن ځما نقصان ځما
مښک ځما زعفران ځما ستا د کوځې خاوری دي ستا د کوځی خاورې دي مښک ځما زعفران ځما
ګل ځما ریحان ځما ستا رخسار و زلفي دي ستا رخسار و زلفی دی ګل ځما ریحان ځما
فکر ځما توان ځما ستا په غم کښې نه رسي ستا په غم کښې نه رسي فکر ځما توان ځما
آه ځما افغان ځما هیڅ په تا اثر نه کا هیڅ په تا اثر نه کا آه ځما افغان ځما
زړه ځما چشمان ځما بې له تا هیڅ حال نه لري بې له تا هیڅ حال نه لري زړه ځما چشمان ځما
دا پیران شیخان ځما ستا په غم کښې نه رسي ستا په غم کښې نه رسي دا پیران شیخان ځما
باغ ځما بستان ځما بې تا میوه نه نیسي بې تا میوه نه نسي باغ ځما بستان ځما
وصل هم هجران ځما اې رحمانه خیر دي اې رحمانه خیر دي وصل هم هجران ځما

بادشاهی لري هر یو غلام د ستا د خاصانو په ځای ناست وي عام د ستا
پخته کله دی چه لاف د پختګی کا پختګان دي په دې خم کښې خام د ستا
خو هم همره ئې نظر په ننګ و نام وي چا چه نه وي اوریدلي نام د ستا
همیشه به له مقامه بې مقام وي هغه څوک چه لټوي مقام د ستا
چه په خپلو وینو ګل غوندي غرق نه وي و به نه ویني رخسار ګلفام د ستا
صبح و شام په هغو خلقو باندي یو وي چه آرزو لري هر صبح و شام د ستا
بل کلام ئې په زړه کله اثر کاندي چه تر غوږ ئې شي شیرین کلام د ستا
فراموش کاندی همه نوري مستۍ هر چه نوش کاندي باده په جام د ستا
دام د ستا د تورو زلفو عالم ګیر دي تنها نه یم نښتی زه په دام د ستا
زه رحمان دعا سلام په هغو وایم هر چه ما لره راوړي سلام ستا

هر چه وويني په سترګو روي د ستا مخ ئې کور وي همیشه په سوي د ستا
بې دماغه په تر سر و تر مال تیر شي چه یې تیر شي تر دماغه بوي د ستا
که لوئي کړې څه بې ځایه خو ئې نه کړې چه په دا رنګه قامت دي لوي د ستا
نو بهار دي عالم سیر د بوستان کاندي خدای و ما و نه بوستان کړ کوي د ستا
د عیسیٰ له دمه دم وهلي نشم چه خوله بیرته شي په ګفت و ګوي د ستا
هم په دا مي له چشمانو رود بهیږی چه یادیږي مي قامت دل جوي د ستا
همیشه ئې زړه په اور باندی سپند وي و هغو ته چه څرګند شي خوي د ستا
د لړم لاشه ئې ما ته وي په زړه کښي چه ئې نقش وي په زړه آبرو وي د ستا
و زنځیر وته ئی څه لره را کاږې لیونیو لره بس دي موي د ستا
و ګرنګ وته پخپله ځان پرې باسي چه و زړه وته پرې باسي روي د ستا
که ته سل ځله ځما ئې زه د ستا یم تلوني نه دي له ما جست و جوي د ستا
ګل لنبه شه د بلبل په آه رحمانه! نه ګروهیږي یار په هاي و هوي د ستا

خوی که په دا شان وي دل آزار ستا څه ښادي به کاندي طلب ګار ستا
حیف چه اوریدي شي لیدی نه شي حسن و لطافت پرې وار ستا
بیا دوباره نه ګوري و بل ته هر چا چه لیدلي دي رخسار ستا
خدای زده چه ته یار د کوم یوه ئې هر طرف یاران دي صد هزار ستا
ځاي د پښو ایښودو مونده نه شي همره عاشقان دي په دربار ستا
بل به هسي نه وي که خدای کاندي ما غوندي خاکسار و هوادار ستا
بل ګمان په ما باندي و مه کړه عمر واړه زه و انتظار ستا
عشق له حُسنه حسن دي له عشق ته نګار ځما یې زه نګار ستا
ته ځما مطلوب یې زه طالب یم ته ځما طبیب یې زه بیمار ستا
ته که تازه ګل د نو بهار یې زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور دي که جفا ده که ستم دي واړه مي منلي دي یک بار ستا
جور و جفا څوک په بها پلوري زه یم د جورونو خریدار ستا
یو تار که ضایع شي ستا د زلفو ځان به صدقه کړه په هر تار ستا
سل ازمینښتونه دي را وکړه حیف دي چه لا نه شي اعتبار ستا
تیر یم زه رحمان له هره کاره اوس مي ملا ترلې ده په کار ستا

ستا په څير نه دي خوبان ليدلي ما نه په غوږو چري اوريدلي ما
هيڅ وفا له عاشقانو سره نه کا دلبران دي واړه ازمايلي ما
چه مي ستا و ښکلي مخ ته دي کتلي بل يو مخ ته نه دي بيا کتلي ما
د زړه غولي مي نيولي ستا غمونو نور غمونه نه دي له زړه ويستلي ما
چه مي کار د عاشقی په لاس کښي واخيست دي له بله کاره لاس وکښلي ما
نور غمونه مي له زړه نه دي وتلي ستا غمونه په کښي دي کرلي ما
زه رحمان بې ياره خوب و خندان نه کړم بې ده نه ده خوب خندا پسندلي ما

چه اميد په عمارت د دې دنيا کا د کاغذ په کشتي سير د دريا کا
د آسمان توسن هيڅا نه دي تېرلي څوک به څه زنګ سورلي د باد په شا کا
نه ليوه په آدميت آموخته کيږي نه اميد د مروت شي له افلا کا
له فلکه د وفا اميد باطل دي کله ديو له آدم زاد سره وفا کا
زمانه په اسلام کفر سمه ګرزی فرق د تور و د سپين کله نابينا کا
فما د دهر علامت په سترګو وليد په هر دم هزار پيدا هزار فنا کا
هيڅ اميد مي د ايام په ګردش نه شي چه فرصت به په خپل دور و مارا کا
په خپل عمر به هيڅا ليدلي نه وي هغه چاري چه دي هر ساعت په ما کا
که د ګلو غنچه کيږدم په دستار کښي شوم طالع مي هلته خار ځني پيدا کا
که وزورو وته لاس کړم خاوري کيږي که د خاورو په آرزو شم استغنا کا
جدائي د خدای بلا شوه نه نتوانيږم خوشي زړه مي په ديدن پسی ژړا کا
همره صبر دي عاشق څخه له کومه چه د نن وعده موقوفه په فردا کا
که د اور جامه را واغوندې دلبره په نظر ځما جلوه لکه ديبا کا
په خپل عشق کښي که څوک بد را باندي وايي زه ګمان کړم چه همه ځما ثنا کا
ملامت په عاشق ښائي دا دستور دي چه روغ خلق په رنځور پوري خندا کا
عاشقي ننګ و ناموس دي وبله لري په روښانه ورځ به څه رنګ څوک غلام کا
که زه طمع کړم د ګلو له طالع نه ما عاجز لره د ګل په ځاي خار را کا
که زه ځان ژغورم په عشق کښي له عالمه زمانه مي په جهان باندي رسوا کا
هميشه به په عالم کښي وي سرخ رويه چه ثنا لکه بلبل د خپل آشنا کا
دا ځواب رحمان هغه کا چه دولت وي که دلبر د ديدن مي پياپي را کا

هر چه ستا کوخه ماوا کا ځاي ئې بر شي تر افلا کا
ځان هاله ورته بادشاه شي چه ئې ستا د درګدا کا
چه د ستا د درګدا شي بادشاهئ وته نور شا کا
نظر بې د ستا له رویه نه په ارض نه په سما کا
مینه بې د ستا له مخه نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر و محبت کښې ځان جهان واړه فنا کا
د دنیا کورو وګړي ستا په مینه کښې تالا کا
رضا ستا په رضا کیږدي ترکه خپله مدعا کا
و هر خوا ته چه ستا مخ شي دي هم مخ په هغه خوا کا
چه له چا سره جفا کړې له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړې له هغه سره وفا کا
که په عمر چري خاندي خوله تا سره خندا کا
که په عمر چري ژاړي خو په تا پسې ژړا کا
که مطلب ئې د دیدار وي ستا په ذکر مشغولا کا
د رښتینو مقام دا دي که خوک مینه په رښتیا کا
عاشقان په عاشقي کښې چه رحمان وایي هم دا کا

هسی نه چه ځما یار واړه جفا کا صد چندان لکه جفا همره وفا کا
لکه زه چه په خپل یار باندي مین یم یو په سله همره مینه یار په ما کا
زړه ئې وړي په احسان دي نه په جور مجنون ځکه په لیلي پسي ژړا کا
درست جهان د خوبرویانو ناز بردار دي نه یوازي دغه ناز په ما و تا کا
نه به ګوري رحمان خشکل هغه مخ ته فرښتې چه ئې د حسن تماشا کا

هغه ژوي چه مین وي څه به خوب کا چه فرهاد غوندي کوهکن وي څه به خوب کا
هر نفس د سړي تله دي له جهانه چه ئې هر نفس رفتن وي څه به خوب کا
چه سبا له خپله یاره جدا کیږي که د سلو شپو کړمن وي څه به خوب کا
عاشقي ده خدای له اوره پیدا کړې چه په اور کښې ئې وطن وي څه به خوب کا
د رقیب له جوره خوب د عاشق نه شي د هغو چه یار دښمن وي څه به خوب کا
خوب خندا په بې غمۍ کیږي رحمانه هر چه تا غوندي غمجن وي څه به خوب کا

چه په سترګو کښې ئي خار وي څه به خوب کا
چه په زړه ئې غم د يار وي څه به خوب کا

خوب له ياره سره هم د عاشق نه شي
چه ئې يار په بل ديار وي څه به خوب کا

په دنيا کښې خوب هغه کا چه نادان وي
هغه ژوي چه هوښيار وي څه به خوب کا

کوم طالب مطلوب موندلي دي په خوب کښې
هغه څوک چه طلبګار وي څه به خوب کا

ديدار نه دي چا په پټو سترګي کړي
چه مطلب د چا ديدار وي څه به خوب کا

بله لار د مرګ له لاري ګرانه نشته
چه په خوا ئې هسي لار وي څه به خوب کا

هر نګاه د دلبرانو ذوالفقار دي
هر چه غوښ په ذوالفقار وي څه به خوب کا

زه رحمان د يار بنده و خدمتګار يم
چه بنده و خدمتګار وي څه به خوب کا

هغه ژوی چه بې خدايه محبت کا
همګي واړه بې ځايه محبت کا

محبت بې خدايه واړه د زړه رنځ دي
که مدام له چنګ و نايه محبت کا

خر خاري ده چه ئې يو له بله کاندي
هر خود راي چه له خود رايه محبت کا

نتيجه ئې ريش کنده جامه پاره وي
آدم زاد چه له چارپايه محبت کا

هغه سراي لره به تله ور باندي ګران وي
هر سړی چه له دې سرايه محبت کا

بلهوس به نه پتنګ و پروانه شی
د مګس په څير له ورايه محبت کا

چه د تورو زلفو سوزيدي چا وشي
هغه کله له همايه محبت کا

رحمان ځکه د ريبار متابعت کا
چه رهروله رهنمايه محبت کا

اورنګ زيب چه آرايش د تخت و تاج کا
تخت و تاج به ئې مرګي تاخت و تاج کا

به جهان کښې به ئې پاتي شه بد نوم شي
که دي چاري د کسرىٰ او د حجاج کا

اوبه سترګو لره لاړې اور د زړه شه
څوک به څشکله ژوندون په دا مزاج کا

جدائي ځما په زړه کا هسي چاري
لکه باز چه په تارو او په دراج کا

ځما اوښې چه پيدا د زړه له ريم شوې
لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا

زه غمجن د عيد په جشن خبر نه شوم
که نور خلق هاي و هوي ته احتياج کا

هر ناوک چه د قضا له شسته خيژي
زمانه د رحمان زړه ورته اماج کا

ورځ چه بده شي عاقل او دانا څه کا چه قضا شي ورد و څار حکما څه کا
مور و پلار خو نیک فرزند له خدایه غواړي چه بد بخت شی ادې څه که بابا څه کا
یار له یاره په لوی لاس کله ښلیږییپه ښیر و په دعا چه لاس نه رسي یار څه که آشنا څه کا
څه شي کړوني خداي دي چه خدای نه کا ښېړې څه که دعا څه کا
بخت په زور و په زر نه دي چا خپل کړي په دا کار کښي ناتوان څه که توانا څه کا
ای رحمانه پتنګ عذر شه چه وسه نور د شمع خندا څه که ژړا څه کا

د بې دردو همدمي به دي بې درد کا د نامردو همدمي به دي نامرد کا
صحبت بې تاثیره نه دي دا حدیث دي ګنګو نمري هم په ځیر د ګنګو زرد کا
هر کالي چه څوک په زمکه باندي کیږدي هغه زمکه ئې له جنسه د خپل ګرد کا
په مجلس د ویر ژړلیو څوک ور مه شه که صحیح که سلامت وي آه سرد کا
چه دوئی له میانه لري شي رحمانه معشوقه عاشق پخپله ناز پرورد کا

که په ګنج د شاهیِ فخر شهریار کا عاشقان ئې د دلبرو په رخسار کا
خرقه پوشه په خرقه کښي دي موندلي هغه خط چه په دنیا کښي دنیا دار کا
پتنګانو لره خدای ورکړه په اور کښي هغه عیش چه ئې بلبلی په ګلزار کا
نیک ساعت په بد بدل د هیچا مه شه په وصال کښي غم د هجر ورد و څار کا
نس د ګور و د مور یو دي په معنیٰ کښي خو په چا ئې تور لحد په چا بازار کا
د بېړیِ په ډوبیدو چه رب راضي شي بیا ملاح د زړونو کله هلته کار کا
هغه مخ چه مادر زاد ښایسته نه وي مشقت د مشاطې واړه مردار کا
یار د ناز له خوبه پاڅې پسي ګرزي چه فلک د عاشقانو بخت بیدار کا
نیمي شپې ئې یار تر سره پوري کښینې لکه شمع چه څوک بله په مزار کا
د مستیِ د هوښیاریِ یون څرګند وي په هر چا کښي چه څه وي هسي رفتار کا
د بلبلو نغمه زاغ کولي نشي هر سرود آواز په طور د خپل کار کا
رحمان هسي بې وقوف سوداګر نه دي چه د دین متاع بدله په دینا کا

که سړی د خپلي پوهي تقصير نه کا د خدای کړه به څوک په پوهه تغير نه کا
خواه مخواه به د تقدير شوی ور پيښ شي که څوک هيڅري نظر په تقدير نه کا
د هغو چه بخت بيدار وي غم ئې نشته که هيڅري بيداري و شبګير نه کا
دا له خپلي کم پوهۍ مونږه څه وايو چه فلاني سړی تالاش و تدبير نه کا
دلګيري او خوشحالي که په خپل لاس وي په خپل لاس به خپسر هيڅوک دلګير نه کا
معرفت د خدای څرګند دي په هر څه کښي سترګي وخوره چه څوک همره نظير نه کا
دا نفس په مثال برق صورت فانوس دي برق به هيڅوک په فانوس کښي اسير نه کا
د دنيا سړی همه واړه درماند دي کوم بادشاه دي چه منت د وزير نه کا
کوم واده کومه کوژدن ده په جهان کښي چه فلک ئې و آخر وته وير نه کا
په خوله هر يو سړی اسم د پير اخلي ياري څه پکار چه نغوته د پير نه کا
دغه نښي د قيامت نه دي نور څه دي چه د پلار ويل په زوي څه تاثير نه کا
هسي چاري له ناصحه واقع کيږي چه له شرمه ئې هيڅ غل وکا سير نه کا
په مرده پسې تکبير و کاروان شي څوک ګمان په ځان د هسي تکبير نه کا
په دنيا پسې درست عمر زهيريږي ځان يو دم د خدای دپاره زهير نه کا
د عيال دپاره تير تر سر و مال شي دل جوئي په يوه ټوک د فقير نه کا
رحمان ګرم دي چه نارې د هجران اوري و آشنا وته کاته په خير خير نه کا

چه اميد په عمارت د دې جهان کا لکه کرښه په اوبو هسي نشان کا
د اوبو په مخ د کرځي بقا نشته په نابود باندی ناحق د بود ګمان کا
نادانانو هسي دين په دنيا بايلو لکه وړکي دُر بدل په پاره نان کا
د دنيا و دين نسبت و بله نه شي اور اوبه سره استوګنه په څه شان کا
عشق د نفس له خاصيته ميره دي کالا سترګو به څوک څنګه په دهان کا
لکه کار د ګوش و چشم سره بيل دي هسي دين و دنيا حکم په ځان ځان کا
په پيرۍ کښي د ځوانۍ خيال دي هسي لکه څوک چه د باغ سير په خزان کا
بې درګاهه ئې بل ځاي د رحمان نشته په سفر استوګنه څو مسافران کا

عاشقان د ناصحانو وينا نه کا مست هاتي د ماوتانو پروا نه کا
واړه جور د دې دهر مي قبول دي که خدای ما له خپله یاره جدا نه کا
چه د ګلو پریشاني شوه ور څرګنده غنچې سر په زانو کښېښود خندا نه کا
و سیلاب ته د ډنډوکي څه حاجت دي زړه چه ژاړي سترګي څه رنګ ژړا نه کا
دنیا کل په احمقانو ده ودانه دانا ځکه وابستګي د دنیا نه کا
چه ئې زړه وي په هوا پوري تړلي د حباب عمارت ځکه بقا نه کا
بې هنر دي چه څوک دین په دنیا پلوریي هنرمند سړی دا هسي سودا نه کا
که څوک وائي هوښیار کوم دي وایه دا دي چه بې خدایه نوره مینه په چا نه کا
ګدائي که ورپېښېږي ځای ئې دا دي هر بادشاه چه دلجوئي د ګدا نه کا
چه بیدل ئې په یوه نګاه رغیږی څه انصاف دي چه دلبر ئې دوا نه کا
هر چه زړه ئې وي په یار باندي بایلوي نوره مینه په چا بې له آشنا نه کا
چه تر غوږ ئې وي وینا د آشنا شوې هغه غوږ هر ګز په نوره وینا نه کا
و به نه رسي د یار تر بلند بامه چه د زړه غولي روش په ژړا نه کا
زه رحمان د هغه یار په ژړا خوښ یم که اغیار مي خدای له میانه پیدا نه کا

زړه مي بې خپله نګاره آرام نه کا کامراني را څخه غواړي ناکام نه کا
بې ناکامه زیست محال دي په دنیا کښې د کوم آس په خوله کښې دخل لګام نه کا
د آسمان مانې به هم قرار نه وي مالک ځکه قصد د قصر و د بام نه کا
ګاه ئې کښینوي په تخت کله په خاورو زمانه رضا د هیچا مدام نه کا
بې له سروي چه آزاده خدای پیدا کړه ترکې ځکه و هیچا ته سلام نه کا
کوه و دشت هم د خزان له غمه ږیږدي ځکه زرکه و چمن ته خرام نه کا
چا چه سر دي په سجده و یار ته ایښي دوباره له دې سجوده قیام نه کا
چه ئې کړه د یار په لوري لوښتې لکه بحر هسي درومي مقام نه کا
نشستن د عاشق نشته لکه شمعه څو صورت د عشق په اور کښې تمام نه کا
چه محظوظ وي په تش بوي د مهرویانو هغه فکر د بوسې د پیغام نه کا
چه لذت ئی د سرو شنډو وي موندلي نوره مینه د شرابو په جام نه کا
په هغو د لعلو لبو مي حرام دي څو دا نور لذت په خپل سر حرام نه کا
رحمان هسی و خپل یار ته بې حجت دي لکه عذر چه صاحب ته غلام نه کا

ځما اوښی چه دا هسي شست و شو کا دا محنت واړه ځما د مخ آبرو کا
د عاشق د سینې چاک به ور څرګند شي که څوک سر و خپل ګریوان وته فرو کا
تل ئې مخ وي تر خوبانو پوري وللي عاشقي چه د چا اوښي په شیبو کا
د عشق اور چه شمع خود په سر قبول کړ پروانه به څه حجت د ځان په سود کا
ګل څه نه وایي چه غرق په وینو ناست وي بلبل څه لره بې ځایه ګفتګو کا
زه که مرګ غواړم بې یاره خو ګرم نه یم جدائي سړی په ځان پوري به کوه کا
معشوقې په محنت نه دي چا موندلي مګر خدای ئې په رحمان باندي پېرزو کا

څو یو ځله ئې تاراج په جفا نه کا یار له یاره سره مهر و وفا نه کا
که ئې سر په بوسه ورکړم زه پوهیږم چه قبول به دغه عجز ځما نه کا
چه په خپله رضا تللي مادر زاد وي هغه هیڅري د نورو رضا نه کا
څو ئې خپله مدعا حاصله نه وي مهرویان په خوله د خضر سودا نه کا
که ئې سل ځله دعا کوم په عمر ګوش و هوش د دعاګو په دعا نه کا
که آهو نه آتشین پسې وکاږم لکه سروه له خزانه پروا نه کا
که رحمان په عاشقیِ کښي آرام غواړي دا خو واړه ناروا که ناروا نه کا

ب

هسي مست يم ستا د شونډو په شراب چه به نه وي بل دا هسي مست خراب
لاس د ستا په مينه اچوم و ګل ته لکه بوټي ته لاس اچوي غرقاب
دا سرخي و سفيدي ده ستا په مخ کښې که ځما په مخ باران دي د سحاب
څه اثر به ځما اوښي په تا کاندي لا تازه شي اور په اوښو د کباب
عاشقان دي سترګي رونې کا په عشق کښې دا خواب نه دي منزل ګاه دي د سيلاب
ما چه خال د ستا د ورځو په ميان وليد نه بل هسي رنګ امام شته نه محراب
ښاپيرۍ چه ليدئ نه شي سبب دا دي مخ د ستا له غمه نغاړي په حجاب
چه صباح شي ستا تر مخ پوري شرميږي ځکه زيست په توره شپه کاندي ماهتاب
حجاب واخله مخ کړه تور د هغو خلقو چه تحسين کا ستا په دور د آفتاب
هسي نه چه زه دلبر و تا ته وايم خداي دي تا لره درکړي دا خطاب
سستا د مخ په ورق باندي خط و خال دي د مصحف په صحيفو باندي اعزاب
ستا د حسن حساب هيڅ را څخه نه شي هم په دا چه بې حساب دي بې حساب
يو کتاب په سړه بن کښې چا و نه کړ بې رحمانه چه ئې وکړ دا کتاب

لاس مي وټړي د زلفو په طناب بيا مي وسپاري د سترګو په قصاب
هسي آب ئې دي د دوو سترګو په تيغ کښې چه بې سره په سر نه لري حباب
چه توسن د فلك زين کاندي له نازه دا هلال ئې په ځاي راشي د رکاب
په درګاه ئې درويزه کاندي د حسن کنډولی په لاس سپورمۍ هم آفتاب
چه په يادکښې مي سرې شونډې سپين رخسار دي له چشمانو مي بهيږي سره شهاب
چه د مخ و آب و تاب ته ئې نظر کړم راته هيڅ شي د ګلونو آب و تاب
چې نسيم ئې د زلفينو را پيدا شي درست مي ډوب کاندي په مښك و په ګلاب
چه د سپي آواز ئې واورم هسي خوښ يم لکه څوك په نغمه خوښ وي د رباب
ما وې مخ ئې ګوندي ووينم په خوب کښې باري چري شي بې ياره خورد و خواب
په غزل کښې خو دوه بيته انتخاب وي د رحمان تمام غزل دي انتخاب

هر مطرب چه غوږي تاو کا د رباب په دا تاو کښې ځما زړه کاندي کباب
چه سامع ئې په نغمه په ترانه شم ديوانه شم ګريوان څيري مست خراب
هم ئې تار هم ئې ګفتار هسي اثر کا چه هيڅوک ئې نه طاقت لري نه تاب
يو ئې ساز بل ئې آواز وي د لښتيو دريم شعر پرې آغاز کړي انتخاب
څلورم ئې يو ساقي د څنګه کښيني چه مخزي ئې نه آفتاب وي نه مهتاب
دا څلور واړه فتنې په څلور کنجه او پنځم ئې صراحي د مي ناب
شپږم وقت د نو بهار اووم ځواني وي اتم شغل د کباب نهم ريباب
چه دا همره آفتونه سره ټول شي ترو څوک څه رنګ ځني کاندي اجتناب
چه دا هسي دلبران پرې اثر نه کا يا به ديو يا به ديوار وي يا دواب
را څرګند به شي پرهيز د پرهيز کارو که قادر شي په شاهد و په شراب
زه رحمان له ريا زهده پناه غواړم د ريا زهد عذاب دي هم عتاب

ورقونه لټوم د هر مکتوب په کښې غواړم خال و خط د خپل محبوب
يا تنور دي يا دکان د آهنګرو چه په عشق کښې تصور کړم خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي واورته خداي څوک مه کړه په حذبه د عشق مجذوب
زه چه غم د مهرويانو را په زړه کړم له دې غمه لاړ شي زړه را څخه ذوب
ګوره عشق څه رنګ آسان کړه و عاشق ته دا مشکل مشقتونه د ايوب
په ژړا ژړا تر هسي حده راغئ چه ځان ړوند کړ په يوسف پسې يعقوب
عشق دي دا چه معشوقه شه و عاشق ته ښه رخسار د مهرويانو په اسلوب
هغه څه پوښتې له هجره له وصاله چه پخپله هم محب شي هم محبوب
چه نظر ئې له صورته په معنىٰ کړ و رحمان وته يکسان شو زشت و خوب

چه نظر کړم په قسمت او په نصیب راته هیڅ شي خپل تالاش و خپل ترتیب
مګر خود پخپله خداي د چا طبیب شي ګڼه نشته په جهان کښي بل طبیب
را څرګند دي سود و زیان د رقیبانو که خداي دي نه کاندي خپل یار د چا رقیب
چه خپل یار د چا طبیب شي مثال دا دي لکه څوك چه په وطن کښي شي غریب
چه غریب شي په وطن کښي فرق ئې نه وي که فرسنګ ئې وي تر میانه که جریب
ما په عشق کښي هیڅ حاصل نه کړه بي غمه هر چه وایي واړه ښه وایي ادیب
دښمن هم د سړي کله کله دوست شي دوستي نه کا د رحمان سره حبیب

زه په سل رنګه راغب ته په سل رنګه غایب
دا به څه رنګ شي دلبره چه زه مست یم ته تایب
که له جوره دي فریاد کړم دا هم نه دي مناسب
که څه وایم نه مي رسي زه مغلوب یم ته غالب
څه سیالي برابري ده د مطلوب او د طالب
دا ستا مهر محبت کړ خداي په ما باندي واجب
درد و غم دي همره نه دي چه ئې وکښم په کاتب
جدائي ده ډیره سخته د ارواح او د قالب
چه مجنون په ځانکندن شه زه ئې پریښودم نایب
وصیت ئې راته وکړ په څو رنګه عجایب
چه روزي دي شه رحمانه ځما واړه مراتب

ت

که مي وشي له دلبره ملاقات
بيا به نه ځم له دې دره په حيات

پس له دې مي دي استوګنه خداي نصيب کا
په دا در کښې که حيات وي که ممات

ښائي دا که زه خپل يار وته سجده کړم
هغه يار ځما قبله دي د حاجات

د خپل يار تر لعلو لبو به ئې ځار کړم
که شکري وي که قند وي که نبات

دا ځما د يار جلوه ده چه ليده شي
لکه نمر په صومعه و سومنات

تر ما لا په دلبرانو ډير مين دي
چه خبري کړي د کشف و کرامات

د ريا له زاهدي ځما توبه ده
چه ئې کاندي حوك په رسم و په عادات

په ورځ پند و نصيحت وايي و بل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات

دين ئې دام وي د دنيا په لار کښې ايښي
پرې را اړوي وحشيان د مخلوقات

د هغو په لور ئې سترګي وي ختلي
چه په لاس ئې سر سايه وي يا زکوات

زه رحمان له هسي اهله پناه غواړم
هر چه لاف کا په خلاف د مقامات

آفرين د عاشقانو په همت
چه په عشق کښې يك انداز وي يك جهت

نه ئې هيڅري تغيير و نه تبديل وي
که تمام جهان پرې وايي ملامت

که څوك سل نصيحتونه ورته کاندي
غوږ ئې نه وي د هيڅا په نصيحت

چه په يار پسې تر ځان و جهان تير شي
څوك کولي شي دا هسي مشقت

که تمام عمر ئې يار په سترګو ناست وي
تمام عمر ورته ښکاري يو ساعت

که يو دم شي هغه يار ور څخه لري
هغه دم شي ورته عمر د قيامت

که دوزخ لره د يار په مينه درومي
دوزخ هم ورته جلوه کا د جنت

د عشق لار د توکل په پښو غوڅيږي
نه په پښو د رياضت و ديانت

په تالاش او په تدبير کله مونده شي
چه موقوف وي هغه کار په عنايت

د عاشق خاطر له غيره پاکيزه دي
د درياب په مخ کښې نه وي نجاست

خداي چه زړه د طالب کاڼي کړ رحمانه
کاڼي پريوت د طالب په عمارت

ث

چه ويلي مي له تا دي دا حديث سر نامه د هر انشا دي دا حديث
چه آغاز مي کړ په مدحه د خوبانو ځکه ګنج بې بهار دي دا حديث
په ثنا د دل پسندو دلرباوُ دل پسند و دل ربا دي دا حديث
لکه باد د صبحدم چه غنچه وا کا هسي رنګه دلکشا دي دا حديث
چه اوصاف مي د سرو شنډو په کښې راوړه خورِ تر قند و تر حلوا دي دا حديث
نه پوهيږم چه اوبه دي د حياتو که نفس د مسيحا دي دا حديث
د غونډ ژبو شاعرانو د خولې نه دي ځکه هسي رنګ صفا دي دا حديث
ستا و مخ ته که ځوک شمس و قمر وايي دروغ نه دي په رښتيا دي دا حديث
که ځوک وايي چه چا کړي دا حديث دي رحمان وايي چه ځما دي دا حديث

د وصال شپه مي بدله په بيلتون شوه الغياث د قيامت خواري را پيښه په ژوندون شوه الغياث
ما لا طمع د وصال د نعمتونو ترې کوله نا ګهان پياله نسکوره د ګرودن شوه الغياث
هغه چار چه مي په لاس وه زه پرې نه ومه پوهيدلي اوس چه پوه شوم له اختيار مي بيرون شوه الغياث
د وصال په طمع طوق د جدائيۍ شه را په غاړه هغه طمع چه ځما وه اوس طاعون شوه الغياث
په حکمت په عقل پيتې د عشق ځوک اخستي نه شي په دا کار کښې ما ته ملا د افلاطون شوه الغياث
ما رحمان د يار وصال په آسايۍ موندلي نه دي زرد روئي مي سر خروئي په جګر خون سوه الغياث

يار ياري را سره نه که الغياث نه ئې ترس شي نه ئې کرکه الغياث
سرو و مال واړه ځما و دل آرام ته نه ارزيږي په کنجکه الغياث
په حملو حملو مي زړه وړې نه پوهيږم آفريدۍ ده که خټکه الغياث
خو چه را کاږي چوګان په مخ د زلفو کوي ځما دا خراب زړه که الغياث
بيلتانه ئې پيښاور راته تنور کړ له خيبره تر اټکه الغياث
هيڅ سبب ئې موندی نه شي جفا کارندي نه پوهيږم چه په څه که الغياث
په اخلاص و په راستيۍ ورته ولاړ يم يار جفا همره په څه که الغياث
سل خبري که له صدقه ورته وکړم يار يوه را سره نه که الغياث
چه مي ويني له رقيبه سره خاندي په ژړا مي ليمه سره که الغياث
زه رحمان مدام د يار په زما دروم يار په خپله رضا تله که الغياث

ج

چه برهم کا عاشقي د چا مزاج حکيمان ئې درمانده شي په علاج
په آشنا پسې تل ژاړي په دوه سترګو د اوبو په ځاي خوناب کاندي اخراج
دواړه لاس ئې وي له دواړو کونو وللي ډوب وي تل د عاشقۍ په امواج
په هغو کښې چه څه بوي د عاشقۍ وي په کښې نه وي بوي د رسم و د رواج
ابراهيم ادهم څه هسي نادان نه وُ چه نظر ئې يا په تخت و يا په تاج
مجنون هسي رنګ مين په ليلي نه وُ چه په نورو ئې موقوف و احتياج
ليونتوب له ليونو ته تلوني نه دي که ئې راج په خونه ورشي که تاراج
که ئې سر لکه منصور غوندي په دار شي دغه دار دي و رحمان وته معراج

ح

په طلب د ماهرويانو سرګردان دي ځما روح
لکه باد د ګل په بوي پسې پريشان دي ځما روح

ستا د حسن و آفتاب ته چه سپارلي ځان شبنم دي
لکه صبح د ژړا په ځاي خندان دي ځما روح

چه مي ستا د جمال عکس دي ليدلي په خپل ځان کښې
هم په دا د آينې په ځير حيران دي ځما روح

ستا د مخ د آئينې له برکته ځما جانه
همېشه لکه طوطي هسي ګويان دي ځما روح

لکه رنګ د ميو نابو چه ليده شي په ښېښه کښې
هسي رنګ په ضعيف تن کښې نمايان دي ځما روح

منتظر يم د وصال و ګلستان ته تل تر تله
سر تر پايه د شبنم په ځير چشمان دي ځما روح

چه حاصل مي له حسنه روښنائي شوه په طلب کښې
شپه و ورځ لکه آفتاب په لار روان دي ځما روح

ستاه په زلفو په رخسار پسې رحمان شه بې وطنه
مسافر د هندوستان و خراسان دي ځما روح

ستا وصال دي را بخښلي ځما روح
ستا هجران دي را پرودلي ځما روح

ستا په مخ پسې مي درست وجود راهي شه
له صورته دي وتلي ځما روح

چه هر ګز مَلَكُ الَموُت پرې نه پوهيږي
هسي شان دي تا وکښلي ځما روح

ځان ئې هسي ستا په مينه پسې ورك کړ
چه هيڅا نه دي موندلي ځما روح

که وي هم به تا څخه وي که خداي کاندي
نه دي بله خوا ته تللي ځما روح

بلبل نه دي دا چه الوزي په ګلو
ستا په لور دي الوتلي ځما روح

چه ئې خاوري کړ صورت د ستا په در کښې
سر تر عرشه دي وکښلي ځما روح

ته ئې پيژنې چه څه دي يا څه نه دي
نور چا نه دي پيژاندلي ځما روح

زه رحمان له خپله ياره خبر نه يم
چه ئې خ څه شان دي کوتلي ځما روح

خ

چه پيدا شو ستا چشمان دا هسي شوخ نور به نه وي مردمان دا هسي شوخ
کج زلفان کج ابروان لکه چه ستا دي نه لړم شته نه ماران دا هسي شوخ
ډير غمونه شوخ شوخ سته په جهان کښې ولي نه لکه هجران دا هسي شوخ
مګر د يو وي چه بې غمه وي په هجران کښې ګڼه نه به وي انسان دا هسي شوخ
دا فتنې او فسادونه به وو چرې که پيدا نه وي آسمان دا هسي شوخ
د آشنا له غمه زړه د آشنا نه چوي آفريده کړ خداي جهان دا هسي شوخ
چه يوسف ئې د دنيا په متاع ورکړ پيدا مه شه بل کاروان دا هسي شوخ
چه بوسه له ياره غواړي بې ادبه خداي دي نه کاندي رحمان دا هسي شوخ

کله شو لا کله خريدار يم ستا د مخ تير تير سر ما له په بازار يم ستا د مخ
بې د ستا له مخه نور مي هيڅ په مخ کښې نشته هسي رنګ نتلي په ناتار يم ستا د مخ
هيڅ په سترګو نه وينم دا خپل صورت چه کوم دي ډوب تر هسي حده په انوار يم ستا د مخ
درد و آه کاږم بهانه د تماکو کړم سوي لوغړن مدام په نار يم ستا د مخ
نورو کړي واړه همګي د دنيا کار کا زه هميشه غرق په انتظار يم ستا د مخ
شکر چه ئې خلاص کړم د نور خلقو له مينه سر په سجده ايښي منت بار يم ستا د مخ
هره خوا چه دروم زه رحمان د زړه په سيل بل مطلب مي نشته طلبګار يم ستا د مخ

ما سحر سبا ليدلي وُ د چا مخ چه مي درسته ورځ و نه ليده دا ستا مخ
دا خو مخ ځما و تا وته خداي هيڅ کړ ګڼه هر يو آشنا ګوري د آشنا مخ
ډير مخونه د جفا دي را څرګند کړه لا به کله را څرګند کړې د وفا مخ
څو د مرګ په تماچه اوښتي نه دي اوښتوني له تا مه ګڼه ځما مخ
زه په تا پسې راغلي په دا مخ يم که ته نه وي ما به څه کول په دا مخ
ما به څه لره په تا پسې ژړا کړه که موندي شوي بل د ستا په څير زيبا مخ
د رقيب طمع مي نه وه ستا په در کښې په جنت کښې دي راښود د بلا مخ
زه به څه رنګ د رقيب و مخ ته ګورم کله اهل سنت ګوري د ترسا مخ
د چکنا چکنې بيلتون په نيمه شپه وي ستا ځما په حال غماز شه د صباح مخ
رحمان ستا په مخ دا ورانه دنيا ګوري خداي بې تا ور څرګند مه کړه د دنيا مخ

د

پادشاهانو که قصرونه کړل آباد ما د عشق عمارتونه کړل بنیاد
نوم د کوم یوه بادشاه هسي یادیږي لکه نوم دي د مجنون او د فرهاد
عشق عاشق لره یو هسي پیر استاد دي چه به نه وي بل دا هسي پیر استاد
دغه واړه کرامت د عاشقیِ دي چه څوك غوث کاندي څوك قطب څوك اوتاد
د دنیا چاري همه واړه فاني دي څوك به څه کا په دا چارو اعتماد
لکه سوري چه د نمر په مخ کښي ګرزي نه استوګنه چرته کاندي نه استاد
هیڅ وفا ئې له هیڅا سره و نه کړه که جمشید وُ که بهمن وُ که قباد
که جمشید وُ که بهمن که کی قباد وُ که نمرود وُ که فرعون وُ که شداد
رسولي ئې تر مراده هیڅوك نه دي همه واړه هسي پاتي شول نامراد
نه چا ختم نه دعا ورپسي وکړل که ئې آل که ئې عیال و که اولاد
زه رحمان د زمانې له جوره درومم خپل صاحب لره په داد و په فریاد

زه که لافي د وفا کړمه هر چند هغه یار مي باور نه کړي په سوګند
زه بې یاره هسي زیست کړم په جهان کښي لکه زیست وي په مجمر کښي د سپند
آبرو ئې د طالبانو خپل مطلب وي آبرو ئې د غلامانو خپل خاوند
لکه یار مي سر بلند دي په جهان کښي په تاثیر ئې هسي زه یم سر بلند
لکه یار چه مي څرګند دي په جهان کښي زه هم هسي په داد ور یم څرګند
چه مي مدحه د خوبانو کړه آغازه هر کلام مي د لپذیر شه دل پسند
لکه خوند لري ځما خوږې خبري په شکرو کښي هم نشته هسي خوند
هغه قند چه خداي ځما په خوله کښي کښیښود حلوایانو څخه نشته هسي قند
لکه زه چه سخندان و هنرمند یم بل به نه وي سخندان و هنرمند
په اشعار کښي قوتناك لکه زمري یم ولي نه یم د زمري په څیر ګزند
هم په مدح و هم په هجو نښه پوهیږم ولي نه یم په دا چارو ډیر خورسند
بې له عشقه که مي عیب که مي هنر دي ما غوڅ کړي دي له ځانه بل پیوند
زه عاشق یم سروکار مي دي له عشقه نه خلیل نه دوادزي یم نه مهمند
چه و ما ته نصیحت کا څوك په عشق کښي ګویا پلار ته نصیحت کاندي فرزند
هر سړی چه آئینه په لاس کښي خاندي ګویا کاندي په خپل ځان پوري ریشخند
رنګ ریزان دي اول خپله ږیره رنګ کا بیا هاله دي و رحمان ته وایي پند

که قاصد یې د مقصود آواره کړه زیان و سود
هر چه درشي ستا په وړاندي واړه وګڼه به بهبود
هر چه دي سوي له خدایه واړه وګڼه نابود
رضا پاسله و قضا ته مدام خوښ اوسه خشنود
و هستۍ وته جلوه کا لکه ابر هسي دود
ته و ځان وته نظر کړه چه قبول یې که مردود
نندارچي د خپل صورت شه چه مسلم یې که جهود
امتي د ابراهیم شه تابع مه شه د نمرود
د غفلت له خوبه پاڅه څو به اوسې خواب آلود
مقید و مشغول اوسه په دعا او په درود
آسمان طوره په رکوع شه زمین طوره په سجود
ټول اشیا د خداي ثنا کا په نغمه لکه داوود
که بیدار شې خود به واورې په هر لوري دا سرود
که ایاز غوندي بنده شې نور به نازکړې په محمود
ټول اسباب د ښو د بدو مهیا دي هم موجود
که دانا یې و بله بیل کړه فرموده و نافرمود
څو سپند نه شې په اورکښې نه وي خوند د بوي دعود
ځان له خبثه پاکیزه کړه لکه بحر نامعدود
هلاك ځکه شي رحمانه چه پاك نه شي دا وجود
رحمان بې د یار له ذکره نه زده بل ګفت و شنود

ډ

چه مي يار وليد په سيمه د اعيار ګډ له غيرته مي ليمه شو په خونبار ګډ
دغه حق د بلبالنو په جانب دي خداي دي نه کا منګيرك په لاله زار ګډ
زه په وصل کښي هجران هسي پيڅمه لکه څوك چه خالي لاس وي په بازار ګډ
په اميدو د زلفو ونښتم په دام کښي روهيلي وم ساده دل په هندو بار ګډ
د ديدن په ګدائي کښي مي ننګ نه شي درويزګر يم د بدانو په بازار ګډ
د وفا د ګلو پانې په کښي نشته کاشکي مه وي د دې دهر په ګلزار ګډ
زړه مي بې له خپل نګاره آرام نه کا که هر څو ئې کړم په نفس و په نګار ګډ
که پخوا تر آشنائي بيلتون ليده شوي هيڅ بنده به د خداي نه وُ په دا کار ګډ
زه رحمان ئې د فردوس له غمه خلاص کړم که په کلي په کوڅه شوم د خپل يار ګډ

ر

همره اوښي مي بهيږي په رخسار چه غرقاب مي هم ګريوان دي هم کنار
هغه يار مي هسي ناست د زړه په سر دي لکه ايښي د چا ګل وي په دستار
که څوک وايي چه مار کله په کټ خيژي زه خوړلي يم په کټ د زلفو مار
خود يار بيماري سترګي خداي خوني کړې ګڼه خون کله کولي شي بيمار
که په دار شم زه د يار له لاسه خوښ يم سروقد دي ځما يار ځما دلدار
بس کړه دا چه زه پهار پسي غوځ غوځ يم خداي دي نه کړي لکه زه يم هسي يار
همره جور لکه يار چه ما سره کا ياد مي نه دي همره جور د اغيار
دلبران کوډي جادو وکړي زړونه اخلي هغه وايه چه بې کوډو وي دلدار
چه د زړونو له نمانځلو بې پروا دي تروکه زړه د سړي يو سي څه پکار
په ګريوان ئې تل د اوښو باران ووري نه ورکيږي د رحمان د زړه غبار

چه دي زړه پوري ترلي استوار دا جهان دي د نيکه دي که د پلار
ته خپل پلار و نيکه وګوره چه څه شول هسي ستا دي هم په دوي پسې رفتار
تل وړنبي د ورستي پل دي پرې تيريږي کړي نه دي چا په پله باندي قرار
هسي نه چه زه يوازي تا ته وايم راغله لاړه ستا په طور صد هزار
دعوي مه کړه په ناحق به ئې خپل نه کړې پردی ښهر پردی ملك پردی ديار
چه استوګنه په پردي وطن کښي کاندي هغه نه لري د هيڅ واك و اختيار
که هزار قسمه وخوري په يو کار کښي نه کا څوك په مسافرو اعتبار
چه سبا شګفته کيږي مانښام رژي څه اميد دي په ګلونو د ګلزار
که دي ورور که دي عزيز وي که دي يار وي مه ئې ورور مه ئې عزيز ګڼه مه يار
چه پيدا شي همګي واړه فنا شي اې رحمانه دا جهان دي دا ئې کار

څو جفا قبوله نه کړې د اغيار و به نه ويني په سترګو مخ د يار
چه اول ئې خار زرغون شي په پهلو کښې عنچه هله شګفته شي په ګلزار
جنت چا په رضايت موندلي نه دي ولي بويه هر بنده لره خپل کار
که مونده شوي خوشخولي په خوشبوئي کښې پروت به نه وُ په چندن باندي ښامار
آب تر لعلو د لاله ګلونو ډير دي بخت دي دا چه څوک عزيز کاندي څوک خوار
هسي زيب کا په بياض د رحمان شعر لکه زلفي د خوبانو په رخسار

څوک دي را کاندي قسم په کردګار که درم لرم په کور کښې يا دينار
زه دينار و درم نه لرم په کون کښې ولي نور عالم مي بولي دنيا دار
هم په دا چه نه له ځايه چرته خوځم نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار
نه مي ښکته ملك ليدلي دي نه پورته خبر نه يم په يمين و په يسار
آب و خور لکه آسيا په ځاي را رسي په خپل کور کښې مي سکون دي هم رفتار
لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم که خزان را باندي راشي که بهار
توکل مي لاس پسې سره کړه په نکريزو چه په ځاي ئې کښينولي يم قرار
چه ځما په باب کښې کښلي دي را رسي که رحمت دي که زحمت دي وار په وار
چه هڅده هزار قومونه ئې پلار کړل مربّي مي دي هغه پرودګار
کار همه په اراده د خداي موقوف دي هيڅ موقوف نه دي د چا په انتظار
غم به هيڅري و نه کا په دنيا کښې که څه کيږي د رحمان په اختيار

که د عشق لاره اغزنه وي هر ګور د عاشق په پښو څپلیٰ دي داور
که ديدن د يار مونده په انتظار شي ځما سترګي دي شبنم غوندي ځاور
تيغ د اسپنو محتاج د نرم آب دي قرب و حلم يو په سل دي زيات په زور
له لوئي سر کشيِ ځما توبه ده خداي څوک مه کړه د آسمان په څير نسکور
خداي زده څه سودا به پيښه په بازار شي د بازار خبري نه شي په خپل کور
دا همه واړه عاشق لره پيدا دي که تهمت که ملامت دي که پيغور
جفا ناز وجور و کبر د خوبانو ما په ځان دي قبول کړي لکه پور
راحت بې زحمته نه دي چا موندلي غم ښادي د دې دهر خور و ورور
رحمان هسي په خپل يار پسې غوڅ غوڅ يم لکه غوڅ په خپل اولاد وي پلار و مور

دا څه مخ دي منور چه هم شمس دي هم قمر
دا څه زلفي دي مښکيني چه هم مښك دي هم عنبر
دا څه پيوسته ابرو دي چه هم نيش دي هم نشتر
دا څه سترگي دي قاتلي چه هم سيف دي هم خنجر
دا څه شونډي دي مي گوني چه هم مي دي هم شکر
دا څه سپين سپيخلي غاښ دي چه هم در دي هم گوهر
دا څه سيب زنخدان دي چه هم سيم دي هم ثمر
دا څه قد و څه قامت دي چه هم گل دي هم عرعر
دا څه ملا ده باريك وضعه چه هم موم دي هم کمر
دا څه زړه دي د خوبانو چه هم موم دي هم حجر
دا څه يار دي نه پوهيږم چه هم دل دي هم دلبر
دا څه بت دي ځما ربه چه هم بت دي هم بشر
دا څه شعر دي رحمانه چه هم گنج دي هم هنر

دغه يار دي دا اغيار دغه گل دي دغه خار
دغه گل دي دغه خار دا منصور دي دغه دار
دا رقيب دي دا حبيب دغه گنج دي دغه مار
دغه عشق دي دغه عقل دغه غم دي دا غمخوار
دا هجران دي دا وصال دا خزان دي دا بهار
دا طاعت دا معصيت دي دغه نور دي دغه نار
دا عالم دي دا جاهل دا خفته دي دا بيدار
دا رحمان دي دا جانان دا طبيب دي دا بيمار

هر چه نه وي خوار و زار په طلب د خپل دلدار
تر پرونې صدقه شه د هغه عاشق دستار
هزار حيف دي هزار حيف دي هزار څه لا صد هزار
چه عاشق په عاشقيِ کښې نه حلال وي نه مردار
نه پتنگ د خپل څراغ وي نه بلبل د خپل گلذار
نه مجنون غوندي رسوا وي نه منصور غوندي په دار
دواړه نه کيږي رحمانه يا به يار شي يا بيزار

هسي تله کاندي و ګور ته ياران زر زر لکه تله کاندي خپل کور ته کاروان زر زر
هسي زر زر مرګ په مونږ شتابي کا لکه لو د پاخه کښت کا دهقان زر زر
هسي زر زر دا دنيا و بله اوړي لکه اوړي و بله ريګ روان زر زر
هسي زر زر صورتونه دي نړيږي لکه رڼي لاله زار په خزان زر زر
هسي زر زر دا شيرين عمر تيريږي لکه بحر چه بهيږي روان زر زر
هسي زر زر ځنبول د بنو نه وي لکه درومي له جهانه رحمان زر زر

چه په زور ور سره نه ئې برابر د هغو تر څنګه مه کښينه زړه ور
زورآور اور و اوبه دي فهم وکړه چه ډوب نه شې يا و نه سيخې بشر
زندګي که بې اوبو بې اوره نه شي تل هم نه دي هيڅا ايښي په ټټر
خداي ور مه وله سيلاب د چا په خونه که په قطع هم اوبه وي د کوثر
و دي نه لګيږي اور په کور د هيڅا که رونړا ئې وي د شمس و د قمر
چه ئې درست صورت غلبيل شي په اغزيو وخوړ مه شه د هغې ونې ثمر
د هغه ديوال په سوري څوک کښي مه نه چه ولاړ وي لکه زوړند چاو د کمر
چه په ګيډه دي څوخيږي مخ ئې ورک شه که د سرو زرو چاړه وي يا خنجر
ناکرده سودونه ډير دي په جهان کښي سود هغه دي چه د خير وي نه د شر
و اوبو ته اچاوه نه شي ځان خوړ دي ګڼه ډير دي په درياب کښي در ګوهر
چة له آب و له حرمته سره نه وي خداي ور مه کړه و چا هسي سيم و زر
زور آور که رسوي و چا ته فيض له دې فيضه سره وګڼه ضرر
په ياري د زور آور و غلط مه شه مګر دا چه تر ده ته ئې زورآور
په هر وقت چه ته غالب و دي مغلوب وي ترو هاله ئې قدمونه ږده په سر
يا خو دا چه ته قدم ئې په در نه ږدې دغه پسه ئې ځان وګڼه پدر
چه هنر کنې ياري د زور آوارو زه رحمان کومه بول په دا هنر

پورته بدر را ښکاره شه ښکته نمر ښکته پورته واړه مخ دي د دلبر
نمر سپورمي مي په پالنګ د پاسه زغړي چه مي يار په بالښت ولګوي سر
په سرو سپينو درو لعلو ئې غوږ ډک شي چه مي غوږ کاندي د اوښو په در در
چه دي ووينم په مخ مي اوښي درومي لکه موم چه په آفتاب شي برابر
بل مذکور د سخنګويو سترګو نه زده بې له دې ذکره چه اللّٰهُ اکبر
په شرابو کښې خوند نشته د شکرو د يار شوندې هم شراب دي هم شکر
که سل ځله پټ تر شونډو لاندي خاندي نه پټيږي آب د لعل و د ګوهر
دا خو ما لره خداي را کړ ګڼه نشته هسي بت په بتخانه کښې د آذر
پس له دې به ئې په نام د ملَکَ بولم هم په دا چه نشته دا رنګه بشر
که رحمان صاحب نظر باله شي ښائې چه مدام د يار په مخ لري نظر

تل به نه وي شګفته ګلزار د عمر نه به جوړ وي هميشه بازار د عمر
لکه سيند د اباسيند په غورزي درومي هسي يون دي په تلوار تلوار د عمر
لکه برق چه مخ څرګند کاندي بيا نه وي هسي تيز دي بې سکون رفتار د عمر
سر کشي لري تر هسي حده پوري چه نيوی نه شي هيڅوک مهار د عمر
چه سمند ئې نه جلب لري نه واګي خود به پريوزي عاقبت شهوار د عمر
په ساعت د سلو کالو ياري پرې کا بې وفا په هسي رنګ دي يار د عمر
خپل صورت به د حباب په کمتر ګوري که څوک وکاندي په زړه کښې شمار د عمر
نه له کوره چرته ځمه نه سفر کړم بې سفر مي غوښيږي لار د عمر
عاقبت به د اجل په مقراض غوخ شي پيوسته به مدام نه وي تار د عمر
بيا ئې وار په دا دنيا نشته رحمانه په هر چا باندي چه تير شي وار د عمر

زه تـــيـــر شـــوي يـــم تـــر ســـر پـــه طـــلـــب د خـــپـــل دلـــبـــر
څـــو ژونـــدي يـــم پـــه دنـــيـــا کـــښـــي پـــرې بـــه نـــه ږدم دغـــه در
د آشـــنـــا پـــه طـــلـــب ګـــرزم وچـــي شـــونـــډي لـــيـــمـــه تـــر
يـــو قـــدم مـــي دي پـــه بـــحـــر بـــل قـــدم مـــي دي پـــر بـــر
دواړه لاس مـــي دي نـــيـــولـــي هـــم پـــه شـــام هـــم پـــه ســـحـــر
مـــنـــاجـــات مـــي دي و خـــداي تـــه کـــه ئـــې وويـــنـــم بـــشـــر
هـــمـــيـــشـــه لـــه خـــپـــلـــه بـــخـــتـــه ګـــلـــه مـــنـــد يـــم مـــرور
چـــه پـــه مـــا ئـــې پـــيـــرزو نـــه کـــړ د خـــوبـــانـــو يـــو نـــظـــر
هـــم ئـــې و نـــه ښـــوده مـــا تـــه بـــې لـــه عـــشـــقـــه بـــل هـــنـــر
عـــاشـــقـــي مـــي رب رســـوا کـــړه پـــه جـــهـــان کـــښـــي لـــکـــه نـــمـــر
نـــصـــيـــحـــت را بـــانـــدي نـــه کـــا لـــکـــه مـــوي هـــمـــره اثـــر
واوره غـــور بـــاســـه نـــاصـــحـــه کـــوتـــاه وايـــم مـــخـــتـــصـــر
پـــه مـــولـــیٰ مـــي دي ســـوګـــنـــد وي هـــم پـــه روح د پـــيـــغـــمـــبـــر
چـــاوا تـــه مـــي بـــيـــرتـــه نـــشـــتـــه چـــه عـــالـــم شـــه را خـــبـــر
تـــر نـــيـــنـــه بـــه ئـــې ځـــار کـــړم کـــه مـــي ســـيـــم دي کـــه مـــي زر
کـــه مـــي ســـيـــم دي کـــه مـــي زر دي کـــه مـــي درکـــه مـــي ګـــوهـــر
زه رحـــمـــان تـــر هـــر څـــه تـــيـــر يـــم تـــيـــر بـــه نـــه شـــم تـــر دلـــبـــر

په بزرګۍ د هغه پاك پرودګار موقوف مه شه په سړي د سړي کار
په سړي چه د سړي غرض موقوف شي نور بې آب و بې حرمته شي روزګار
احتياج هسي بلا ده په جهان کښي چه پلار زوي کا د زوي زوي پلار
په ساعت کښي ګدا شاه شاه ګدا کا دا فلك څکه باله شي کج رفتار
چه همه عمر ئې تاج وي په سر ايښي ور په سر کاندي ګيډي د خس و خار
چه قادر نه په درم و په دينار وي په هغو باندي ګنجونه کا انبار
زمانې د رحمان زړه دي کباب کړي له احواله ئې څوك نه دي خبردار

پس له مرګه که څوک ارت غواړي خپل کور
که حق وایم همره ارت دي بویه کور

تر ځان زیاته کمه چار څه پکار نه ده
ځان په لویشت کړه چه دي څو دي اوږده سور

چه جامه د چا کوتاه شي یا اوږده شي
ورکاوه شي هنرمند لره پیغور

هر سړي چه په حساب کښې تیر و بیر شي
ملامت پرې وایه کیږي لور په لور

چه لائق د ملامت او د تهمت شي
ځاي لري که بې عزت شي هم سر تور

چه عزت حرمت ئې نه وي په جهان کښې
هغه هسي ژوندون وسوزه په اور

بې عزت سړي به خوښ د هیڅا نه وي
مګر هسي بې عزت وي ځني نور

خپل مجلس ئې تر جمله مجلسو خوښ وي
په هر ځاي چه سره جمع شي خمسور

هر هم جنس د خپل هم جنس سره جوړ وي
زیب کا هره کشیده په خپل انځور

نا بینا په خپله سیمه کښې بینا وي
بینایان په پردي ملك شي کر و کور

درست صورت د یوه نوك په درد درد مند سي
وران شي ښهر د یوه سړي په تور

چه یو غاښ په خوله کښې زوړند شي یا ووزي
درسته خوله پرې بد نمایه شي هر کور

یو سړي چه په کوړمه کښې د چا بد شي
واړه بد شي که پنځه وي که څلور

بد کرداره زوي پیدا مه شه له موره
حبطه کاندي ناموس د پلار و مور

هر څوك خپله خوشنو دي له خدایه غواړي
باري نه شي دغه کار په زر و زور

خداي په خپل قدرت څوك لوي و څوك هلك کړه
نه چه هر یو ښهر ډهلي شه یا لاهور

د چا تاج زرین په سر تر ملا خنجر وي
د چا پنډ په سر په ملا ټونبلي لور

څوك ږیر کلي ګرزاوه شي په خره سور
څوك ږیر کلي ګرزاوه شي په خره سور

د تنګو پورونه هر څوك و بله کاندي
بخت هیڅا ور کړي نه دي چا له پور

اې رحمانه د خداي نوم به چا وا نه خست
که د خداي چاري په پلار شوي یا په مور

په نظر د بې بصر
لکه شام هسي سحر

لکه شام هسي سحر
لکه سنګ هسي ګوهر

لکه سنګ هسي ګوهر
لکه خاوري هسي زر

لکه خاوري هسي زر
لکه خیر هسي شر

په نظر ئې معلومیږي
همه واړه برابر

که څوك ښه ورسره کاندي
تر بدۍ وي لا بتر

که څوك بد ورسره کاندي
تر نیکۍ وي لا بهتر

نه په بدو زهیریږي
نه پرې ښه وي د چا زبر

په صواب و په خطاب ئې نه دلیل وي به نظر
نه آګاه په خپل بهبود وي نه آګاه په خپل ضرر
نه په عیب باندي پوهیږي نه پوهیږي په هنر
لکه ډوند وګون چه ګوري هسي هیڅ نه وي خبر
له طاعته له ګناهه څه خبر وي ځناور
ځناورو نور څه نه زده یا ئې خوب وي یا ئې څر
دا خو ته یې ځما نفسه چه دي زه کړم کور وکر
تمام ووتې له عقله په دنیا پسي اوتر
نه دي فرض د خداي ادا کړه نه سنت د پیغمبر
نه دي مرګ په زړه یادیږي نه خواریَ د محشر
اوده پروت ئې دا دي نه زده چه په خوا لرم سفر
په هر دم در څخه دروميي که پوهیږي دا بشر
هغه تور ویښته دي څه شول چه هم مښلك وو هم عنبر
هغه قدر دي مجنون بید شه چه چنار و پا نښتر
تن دي درست زیر و زبر شه زړه دي نه شه لروبر
تر پنځوس تر پنځه تیر شوې ته لا ځان بولې پسر
نه دي ترس شي نه دي ویره نه په زړه باندي اثر
بل بل نه وي لکه ته یې هسي شوخ و ځګر ور
په غفلت دي عمر تیر کړ نه رهرو شوې نه رهبر
عبادت دي په ریا شه لکه ډك په لاکو زر
لکه قلب ناسره مهر پټ په زروکښي حجر
لکه پټ وي په دانه کښي سل اغزیه د شجر
لکه سحر چه بر پاي کا سحرګر و جادوګر
لکه تش صورت بې روحه چه تصویر کا مصور
لکه تش کډو بې مغزه میان خالي و تن پرور
لکه زړي په میوکښي درون سنګ بیرون ثمر
لکه بې لاسه لستوني سر تر پاي پاي تر سر
لکه ټګ و دغا باز وي په مرغانو کښي ډکر
لکه بې نمکه ناوې چه په سر کاندي میزر
تر میزر لاندي چا څه زده چه دختر وي که مادر

نه ئې حسن نه جمال وي غولوي خلق په زيور
هي له هسي فريبيانو لکه زوړند چاو دکمر
نيم په زمکه کښې دننه نيم بر سيره لکه غر
په دستارکښې ئې مسواك وي تر بغل لاندي خنجر
په ايروکښې پټ بڅري په وښو کښې پټ ژور
په شپه ويني د مظلوم خوري صباح کښينې په منبر
په زړه تور لکه تبيئ وي په مخ سپين لکه قمر
د دنيا په طلب گرزي خپل ځان بولي قلندر
کلمه په ژبه وايي په زړه نه لري باور
په مثال د منافقو نه مسلم وي نه کافر
نه مسلم وي ن کافر وي نه پخلا ن مرور
پريشان گرزي سر وهلي کوي په کوي و در په در
همیشه رفت و آمد کا د زر دارو په گذر
په کوڅه د دنيا دارو گوخوري کا لکه خر
اورنگ زيب هم يو فقير وه چه ټوپی ئې وه په سر
و ټوپی وته ئې شا کړه چه قادر شه په افسر
خو ئې همره فقيري وه چه څه نه ووُ ميسر
چه فلك ئې ياري وکړه نور ئې ملك کړ مسخر
گوره څه چاري ئې وکړې په عيال د خپل پدر
وار په وار تر تيغ ئې تيرکړ د خورم تمام ټبر
يو ټبر د خورم څه وه ډير عالم ئې کړ ډبر
تمامي جهان ئې ونغړد چه ئې لاس شه باندي بر
په فريب فريب ئې خپل کړه بيجاپور او بهانگر
بيجاپور بهانگر څه ووُ لا جينچا و چينجاور
هم ئې هند په ډکه واخست هم کابل و پښاور
بيا ئې ذکر شوه په زړه کښې بادشاهي د هفت کشور
له حوص ورته هيڅ شو هم دارا هم سکندر
خيال ئې دا وه په خاطر کښې چه به خپل کړم بحر و بر
باري ورځ ور ځنې لاړه وقت پر راغي مازيگر

نه ئې مراد د زړه حاصل شه نه ئې یخ کړه خپل ټټر
همګي شو ځني پاتې که ئې ملك وه که لښکر
خالي لاس له دنیا ووت لکه عینې درویزګر
له دنیا ئې هیڅ یو نه وړه مګر شوئې یو څادر
خوار حیران په زمکه پروت بې بالینه و بې بستر
نه پوزي شه ترې د لاندي نه ترې لاندي شه ټغر
د بنې په حیر خفیف شه چه ثقیل وه لکه غر
د سیلاب په مخ کښې لاړ شه لکه خس وي یا وزر
حق ئې پاتې په ګردن شه د سپاهي و د چاکر
اوس ئې زه په روح دعا کړم که ئې خداي کا بهره ور
حق تعالي که ئې نصیب کا هغه شیرین حوض کوثر
د جنت په خوشبوئي ئې خداي دماغ کړه معطر
په درست هند باندي ئې حق وه هند یو شپه وه دي و نمر
د دې نمر په روښنائی تمام هند و منور
په رونړا ئې خلقو زیست کړ نه څه خوف و نه خطر
خو چه مخ ئې په غروب کړ نور پیدا شه شور و شر
چه په نوم د اورنګ زیب وُ و خورګاو هغه دفتر
اوس نوبت د شاه عالم دي دور طور شه دګر
خداي زده څه بازي شي پیښه عاشورا شي که اختر
رنګارنګ بازی کاندي د آسمان دي پازیګر
ګهي تلخ شي لکه زهر که شیرین لکه شکر
چه څه وشو هغه وشو لا به کیږي مقدر
ما خو نوم د اورنګ واخیست دا احوال دي د هرهر
هر سړي د خپلي خوني هم بادشاه دي هم سرور
هر چه اهل د دنیا دي واړه هسي دي اکثر
دا بیان دور و دراز دي رحمان وکړ مختصر

ړ

خراب زړه مي د دلبرو هوا يووړ د هوا له وړ يو چا زده چه چا يووړ
ګوښي ګوښي ښايسته مي زړه وکاږي زه و کوم يوه ته وايم چه تا يووړ
چه مي زړه لره د تورو زلفوو ځاي غوښت هغه زړه را څخه توري بلا يووړ
د سيلاب په مخ کښي کله د چا خوب شي شيرين خوب را څخه ډيري ژړا يووړ
هغه عقل چه ئې لاف د خود رايي کړ په يوه پياله ئې واړه ما يووړ
هغه رخت چه مي د صبر سکون وُ هيڅ را نه کړه مهرشانو ويړيا يووړ
که يې يووړ خسته زړه مي ترې قربان شه نا آشناؤ وړي نه دي آشنا يووړ
هيڅ نا حق پرې شوي نه دي که حق وايم معشوقې د رحمان زړه په رضا يووړ

ستا دې خواب آلودو سترګو خواب را څخه يووړ شونډو دي لذت د مي ناب را څخه يووړ
نه مي اوښي پاتي شوې نه صبر په صورت کښي ډيري بې صبرۍ د مخ آب را څخه يووړ
زړه مي په نغمو نغمو سوري کړ مطربانو عقل ساقيانو په شراب را څخه يووړ
يو ساقي بل يار دريم مطرب سره يو ځاي شو زړه ئې له ګوګله به شتاب را څخه يووړ
څه شوکه ئې يووړ خسته دل مي ترې قربان شه نور چا وړي نه دي خپل احباب را څخه يووړ
خط دي تور حرفونه مخ دي پانې د کتاب دي شغل دي کتاب دي بل کتاب را څخه يووړ
هر اسباب چه ما څخه د زهد د پرهيزو واړه تا د حسن په اسباب را څخه يووړ
کړي ما رحمان په زړه کښي نقش د محراب و ستا ابرو يو نقش د محراب را څخه يووړ

ز

لکه کاندي په کوترو نظر باز
هسي زه يم د دلبرو نظر باز

زه نور چا وته د راز خبري نه کړم
بې هغو چه موي مژګان لري دراز

بل بادشاه لره محال دي ملك د زړونو
مګر مخ د چا محمود شي خال ایاز

ستا د زني تر سیب پوري را ښکاریږي
نوري زني د خوبانو لکه پیاز

د تصویر له ګلو طمع د بوي مه ګړه
له منقوشو مرغو نه خیژي آواز

هغه یار که په خپل ناز خوښ و خور وي
زه هم خوښ یم همیشه د یار په ناز

که څوك آه و فریاد ښه ګڼي په عشق کښي
زه په عشق کښي دغه کار ګڼم غماز

ښادي هر چري ده غم په اندازه وي
هسي غم د دې دنیا وي په انداز

نیستي واړه د هستئ په دنبال ګرزي
نه ډوبیږي په اوبو کښي تش جهاز

دا قاعده ده لکه لوړ همره ژور وي
بو صورت دي هم نشیب شي هم فراز

همیشه مي لاس نیولي دي دا خواست کړم
چه مدام دي د یار ناز وي ځما نیاز

چه یکسان ګوري هم شاه و هم ګدا ته
هسي یار دي د رحمان غریب نواز

که بې ځایه زرکي نه وکښي آواز
نه صیاد ځني خبر وي نه شهباز

لکه له دې خبري هسي معلومیږي
چه خپل صوت دي هر سړي لره غماز

د منصور و حال ته ګوره حال ئې څه دي
خداي دي فاش د هیچا نه کاندي پټ راز

دریغه دریغه که ورستي عقل وړنبي وي
د انجام خبري نه شي په آغاز

نیك عمل د عالمانو نیك فرزند دي
خداي څوك مه کړه شراب خور و قمار باز

چه فرزند ئې شراب خور و قمار باز شي
نور ئې کانې شي د پلار په خونساز

خداي له هسي زاهو زاده امان وکړ
چه بې دین بې دیانت شي بې نماز

هچه منکر پرې اعتراض کولي نه شي
دا دي شعر دي رحمانه که اعجاز

بد اختر به نيك اختر نه شي هر گز مرغچيچ به دُر گوهر نه شي هر گز
كه مكان ئې په آسمان وي غزا وشوه ستاره به شمس و قمر نه شي هر گز
كه ئې اصل له يوې زمكي وي څه شو بيد به سرو و صنوبر نه شي هر گز
كه همه عمر باران ور باندي اوري خس به گل د پيغمبر نه شي هر گز
له نا اهلو د وفا طمع و مه كړه گنده نل به و نيشكر نه شي هر گز
كه تور غر له ځايه خوزي و به خوزي ولي نور به مقدر نه شي هر گز
د رحمان په باب چه وشو هغه وشو مكرر به دا دفتر نه شي هر گز

س

که څوك فخر کا په ننګ و په ناموس
دا په عشق کښې نه ارزيږي يو فلوس

که اغوستي ئې زري جامې دي څه شو
ګڼه يا مرغ زرين دي يا طاوس

که ئې تاج وي په سر ايښي غزا وشوه
په نظر ځما هدهد دي يا خروس

نه ئې فهم فراست وي نه ئې عقل
خالي نقش لکه عکس د معکوس

نه ئې مغز نه دانه وي په خرمن کښې
عبث هسي خالي لوني په سر بوس

د مجاز له ياره طمع د خير مه کړه
تمامي شر و شدت دي د الوس

وداني ئې همه واړه ويراني ده
راشه وګوره مانې د دي قيانوس

که ځما په ګفتګو کښې زيات و کم وي
څوك دي ګډ کا په دا ښهر کښې جاسوس

ساقي جام د باده راوړه چه بيخود شم
خداي څوك مه کړه په خودۍ کښې محبوس

که څوك وغواړي تمامه دنيا واړه
ځما يار غوندي به نه وي بل عروس

رحمان حسن د يار وينم په پرده کښې
نه پټيږي نور د شمع په قانوس

ويښته سپين، سترګي تاريکي، غاښ کنډاس
نه وګاړې د دنيا له چارو لاس

په هر لوري چه ئې مومې پسي درومې
نه په چپ لوري صرفه کړې نه په راس

يو ويښته د عقيدې دي په تن نشته
سر تر پايه هسي ډوب يې په وسواس

خداي رازق ګڼې او رذق ګڼې له کسبه
په دا شناخت و ځان ته وايه حق شناس

هسي رنګ په مذبذب صفت موصوف شوې
نه پوهيږمه چه ناس يې که خناس

په دويي کښې به ور نه شې تر توحيده
که پيشوا کړې مهتر خضر مهتر الياس

واړه زهر قاتل نغرې که پوهيږې
چه ته بې له خدايه نغرې هر انفاس

امر دا دي چه له نهي لاس کوتاه کړې
او که نه وي خپسر وګڼه مواس

خير دا دي چه له سره وجار ووزې
په دا چاره کښې هيڅ نشته کوز و پاس

که ځما ويل دروغ او کوز و پاس وي
ته پخپله په خپل زړه وکړه قياس

له سړيه غرض واړه سړيتوب دي
نه چه پټ وي د سرو زرو په لباس

څه په دا به عراقي او ترکي نه شي
که په خره باندي څوك سور شي که په آس

د تشنه خوله اوبو سره مطلب وي نه تش ايښي بې اوبو د زرو طاس
هر زاهد چه په ريا زهد نازيږي د خربښت ګمان ئې کيږي په آماس
اي رحمانه که څه کار دي خو د دين دي نور کارونه بې وفا دي بې اساس

تير شه درست عمر ځما په دا هوس که مي پوښتې چه څوك يې يا څه کس
يو پرسش د هغه يار را لره بس دي که څه کس وي خو يو ويې ور لره بس
هزار حيف دي چه په هر نفس ترې تښتم هغه لور ته چه مي تله دي هر نفس
چه ئې زه په هر نفس له خدايه غواړم هغه کله کله وينم په ډير پس
که يو خس وي په محتاجو لکه غر شي څوك دي نه کا خداي محتاج د يوه خس
هر مرغه په خپله جاله کښي هماي دي که قارغه که مښګيرك دي که ققنس
که شهباز لره سينه ده د تنزري عنکبوت لره سينه ده د مګس
خو چه خاورو لره ورشي برابر شي که چا غوندي وي اغوستي چا اطلس
هم هغه مي خندوي چه ژړي مي تل څوك نشته د رحمان فرياد رس

ښې

هسي بې له یاره زه یم په جهان کښې چه مي نه شي ځای په مځکه په آسمان کښې
سره ګلونه د چمن راته سور اور شي چه قدم بې یاره کیږدم په بوستان کښې
چه ئې مړ نه یم له ډیري بې نیازیه حیرانیږم د ناتوان صورت په توان کښې
که هر څو فکر له ځانه سره وکړم هیڅ د صبر طاقت نه وینم په ځان کښې
هیڅ ساتنه د سر کښې خاطر را نه شي څوك ساتلي شي بڅري په ګریوان کښې
تر هغه به بل نادان په جهان نه وي چه څوك مهر وفا غواړي په نادان کښې
که ئې سل ځله په ځار و قربان بولم غوږ رانه باسي په ځار و په قربان کښې
هسي رنګ ځما په ډیره ژړا خاندي لکه ګل د پسرلي خاندي په باران کښې
جوهري شي در و لعل کاندي پرځیره چه مي کښینې د دوو سترګو په دکان کښې
چه مي هیڅري په خوا په خاطر نه وو زمانې راته څرګند کړه په زمان کښې
چه په وصل کښې ئې اوښي نه وچیږي ترو به حال د رحمان څه وي په هجران کښې

زړه مي بایلو ستا په مینه محبت کښې عاشقي دي زهر راکړه په شربت کښې
لار ځما و یار ته مه ترې ناصحه ما موندلي دي دا یار په ډیر محنت کښې
که صورت د هغې مستي څرګند شي عقل هوش به دي هیڅ نه وي په صورت کښې
که د عشق تر کمره پریوزې سر به بایلې ته چه ما ته غاښې چیچې په نصیحت کښې
زه توبه په هغه تیر عمر وکاږم چه صرف شوي دي بې یاره په غفلت کښې
د آشنا د مینې پت به مي مات نه شي که مي سر له تنه درومي په دا پت کښې
له ادبه ئې و مخ ته کتی نه شم خدای را پیښه جدائي کړه په وصلت کښې
په قیامت که څوك له نیته پوشیده شي زه د یار د کوڅې خاوري یم په نیت کښې
د درګاه په خاك نشینو سختي نه وي د غمونو دخل نشته په جنت کښې
لکه زه چه ستا د در په خاورو خوښ یم خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کښې
د دنیا له دولتونو بې پروا یم زه رحمان د عاشقیې په ښه دولت کښې

مدام ناست یم وچ ګوګل سترګي په نم کښ
عشق را وښود بحر و بر په خپل حرم کښ

ما چه رحم ستا د توري په خوله کښل کړ
نور مي دا لذت بیا نه موند په مرهم کښ

خود مجنون چه سر په پښو د لیلي کیښود
سر فراز شه په عرب و په عجم کښ

زورآور مدام غالب وي په کم زوري
زه له نوره غمه خلاص یم ستا په غم کښ

لکه زه چه مستغرق یم ستا په غم کښ
بل به نه وي په جمله بني آدم کښ

لکه مړي د ژوندو تر میانه پروت وي
هسي بیل یم له عالمه په عالم کښ

هیڅ صحت مي د دم ګرو په دم نه شي
هم په دا چه ځما دم دي ستا په دم کښ

نه مي بې تا تګ و پونه جست و جو شته
مراد مي ته یې په هر دم په هر قدم کښ

که نصیب مي شي کوغالي ستا د سپیو
و به نه کړم نور نظر په جام د جم کښ

زړه مي هسي ستا په زلفو پسې ورك شه
لکه غوټه د چا پریوزي په تور تم کښ

سره په وینو د سرو ګلو په ځیر زانګي
هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کښ

زه رحمان کناره خوښ یم له عالمه
باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کښ

مغرور مه اوسه د عشق په کار و بار کښ
هر خسنړي تیره تیغ دي په دا لار کښ

دا سور ګل به دي دستار په وینو سور کا
چه دي ایښي زمانې دي په دستار کښ

مخ د ترکو چه تر آب حیات صاف دي
زه دې آب حیات سوي یم په نار کښ

چه د اوسپنو دانه پرې اوبه کیږي
ترو ځما د هستۍ څه دي په دیدار کښ

چه په هر وار ئې زه سترګو ته نظر کړم
لاس مي وللي دي له ځانه په هر وار کښ

یاره ته چه له ما صبر و قرار غواړې
عاشق کله وي په صبر و په قرار کښ

که مي سر و مال د ستا په مینه درومي
زه تر سر و مال تیر یم په دا کار کښ

ستا له دره له دیاره به وا نه وړم
څو و نه مرم ستا په در و په دیار کښ

کمبختان د یار په وصل کښ مهجور دي
د وچ ډګي بهره نه وي په بهار کښ

مفلسانو لره عین کوهستان دي
که همه عمر ئې کور وي په بازار کښ

و عیب جوي ته واړه عیب څرګندیږي
ښایسته که ځان یوسف کا په سنګار کښ

چه هنر عاشقۍ ئې خداي نصیب کړ
بې هنره نور څه نه ویني په یار کښ

دا داغونه د خپل زړه ور لره بس دي
څه حاجت دي د رحمان په لاله زار کښ

هسي خوښ يم ستا د در په خاکستارې کښ
لکه خوښ وي سرداران په سرداري کښ

عاشقي که نورو خلقو ته خواري ده
ما موندلي دا دولت دي په خواري کښ

و بيمار ته که ناخوښ وايي وګړي
خوښ يم زه د ستا د عشق په بيماري کښ

د خپل بام و دروازې وته نظر کړه
هسي سترګي دي ځما په بيداري کښ

يار د يار له سترګو اوښي پاکيزه کا
تا جاري کړې ځما اوښي په ياري کښ

ما له ډيري ناچاري و يار ته شا کړه
مړي عذر دي په ډيره ناچاري کښ

غم به هيڅ يوه هوښيار خوښ کړي نه وي
ما خوښ کړي دي ستا غم په هوښياري کښ

د رحمان اوښي به څه رنګ په قرار وي
چا ليدلي دي درياب په قراري کښ

زړه مي ډوب ډوب کيږي ستا د غم په غلبلو کښ
هسي لکه څوک چه مستغرق شي په اوبو کښ

ستا د عشق له موجه هيڅ لوري وتی نشم
دواړه لاس مي پريواته د عشق په لانبو کښ

سل توبې مي ماتي کړې وا نه وښتم له شقه
څه ويسا مي نوره پاتي نه شوه په توبو کښ

ته چه له ما درومې دا د اوښو باران ګوره
رخ د سفر هيڅ نه دي په دا ګڼو شيبو کښ

له يوه سپورمیې نه په آسمان کښ هزار ستوري
بې تا څوک څه کاندي د خلقو په جنبو کښ

عشق و عقل دواړه سره ضد دي که پوهيږې
کله کړي آرام د اور بڅري په پنبو کښ

هر څوک چه د عشق په آتش ځان سيزي رحمانه
خداي دي ابراهيم غوندي څوک نه کا په لنبو کښ

د بلبل له حاله زده کړه په خزان کښ
بيا د ګلو تماشا کړه په بوستان کښ

څو دي تير تلخائي تر ستوني نه شي
شيريني به خوند در نه کا په دهان کښ

ما په هجر کښ لذت د وصال بيا موند
له يوسفه ملاقي شوم په زندان کښ

لکه متن له معني معني له متنه
يار هم هسي دي ځما په دل و جان کښ

عاشقي آسانه مه ګڼه خبر شه
سر بازي ده هر نفس په دا ميدان کښ

د ناتوان له ناتوانيه وويريږه
که هزار ځله توانا يې په خپل ځان کښ

هم هغه به پس له مرګه آزاريږي
هر چه بل آزار وي په دا جهان کښ

په رحمان باندي بې ياره هسي حال دي
لکه حال د زندانيانو په زندان کښ

ستا د ميني ګوهر نشته په هر آب کښې مګر بيا موند شي د اوښو په درياب کښې
که ته وينې ځما پټې څښې دلبره رنګ د لبو دي ګواهي لي په دا باب کښې
په هر ځاي چه ستا د لبو نوم آغاز شي د لاله و باران اوري په احباب کښې
له خسته زړونه به څه دلستاني کا د خراج ګنجايش نشته په خراب کښې
زه حيران د ستا د وروځو په تور خال يم کافر څشکل سجده کا په محراب کښې
ګل له ډيري باريکۍ په شبنم خور شي نازکان زړه بد وي په صاف ځواب کښې
د بهار په ګلو اوري بارانونه د څخويکي طاقت نشته په حباب کښې
د رحمان غلطي وبخښه اې خدايه د اوترو چاري نه وي په حساب کښې

ښايسته مخ وي تور کودي شي په پيرۍ کښې سم قامت وي کور لرګي شي په پيرۍ کښې
لکه شمع د سحر آفتاب د ژمي هم بې تاب و هم زيړي شي په پيرۍ کښې
يو طرف ته ئې سر ريږدي بل خوا دروميِ خپل صورت تمام پردي شي په پيرۍ کښې
د مرده ؤ په حساب وي غزا وشوه که څرګند ليده ژوندي شي په پيرۍ کښې
مړ لا ښه دي پس له مرګه بيا ژوندي شي نشته دا چه څوک زلمي شي په پيرۍ کښې
که څه وخوري لکه زهر نه هضميږي نه څه څښې نه څه خوړې شي په پيرۍ کښې
دا ځواني ده چه څه اوري يا څه وينې نه ليدې نه اوريدې شي په پيرۍ کښې
اې رحمانه پيري هسي عاجزي ده که رستم وي زړه پرې سوي شي په پيرۍ کښې

ص

گوره څه بلند مقام دي د اخلاص چه جهان واړه غلام دي د اخلاص
که له زمکي و آسمان ته خاته گران دي دا سفر په يوه گام دي د اخلاص
چه خبر کا مخلصان له علم غيبه دا همه واړه الهام دي د اخلاص
د رواج و رسم عمر مدام نه وي لکه عمر چه مدام دي د اخلاص
بې اخلاصه حلاوة د اسلام نشته که اسلام دي خو اسلام دي د اخلاص
څه عجب دي که مستان وي ترې چاپيره هر ساقي څخه چه جام دي د اخلاص
څه عجب دي له هما ئې په دام نښلي هر صياد څخه چه دام دي د اخلاص
پس له مرگه به دا مهر و اخلاص نه وي که اخلاص کړې نن هنگام دي د اخلاص
د رحمان کلام په دا سبب شيرين دي چه ئې هر کلام کلام دي د اخلاص

هر ساعت چه څه گذران دي بې مخلصَ هزار بار ارمان ارمان دي بې مخلصَ
که څوك وايي چه له ځان شيرين څه نشته ولي ما ته ځان تاوان دي بې مخلصَ
لکه شمع په ورځ مرم و د شپې سوزم تمام عمر نقصان دي بې مخلصَ
په بلبل کله بهار کله خزان وي په ما کل واړه خزان دي بې مخلصَ
که شبنم د نور را باندي اوري په ما کانې د آسمان دي بې مخلصَ
ډير غمونه د هجران را باندي تير دي اوس يو دم را باندي گران دي بې مخلصَ
د آشنا د ميني اور و ما ته گل دي کل د اور په دود سوزان دي بې مخلصَ
په وصال کښې مي نه مرگ ليده نه تبه اوس مي مرگ په هر زمان دي بې مخلصَ
زه حيران د هغو خلقو په روزگار يم چه ژوندون ورته آسان دي بې مخلصَ
د رحمان د زړه دمه په هيڅا نه شي مسافر غوندي حيران دي بې مخلصَ

ض

که ته نه کړې په بل چا باندي غرض بل به نه کاندي په تا باندي غرض
که گدا د بل په غولي غرض نه کړي سپی به نه کړ په گدا باندي غرض
په ساحل کشتي د هیڅا نه ډوبیږي که څوك نه کا په دریا باندي غرض
خلوتیان په خپل خلوت کښې فراغت دي د رسوا دي په رسوا باندي غرض
دا دنیا په احمقانو ده ودانه دانا نه کا په دنیا باندي غرض
زه رحمان د عشق په درد کښې هسي خوښ یم چه مي نشته په دوا باندي غرض

ط

طمع مه کړه په دنیا کښې د نشاط بیا به نه مومې نشاط په دا بساط
لکه راغلې بیا به هسي ځني درومې دا جهان د رهروانو دي رباط
تر هر گام لاندي کوهي دي د دې دهر ایښي بویه هر قدم په احتیاط
و دانا وته په دا جهان ښکاریږي هم جنت و هم دوزخ و هم صراط
په عاشق به هیڅ دهشت د رقیب نه وُ که ئې نه کړي له خوبانو اختلاط
له کم ذات بې دیانته بې نمازه طمع مکړه د نیکۍ د یو قیراط
غم د ترکو تر رحمان هسي چاپیر شه لکه وسکني جامه په چا خیاط

ظ

اومه کله دي پاخه وايي واعظ هر چه وايي واړه ښه وايي واعظ
دی چه ما له خپله یاره لري باسي نور به ځه راته اومه وايي واعظ
جار واته ځما له یاره ډیر مشکل دي زیاتي ځه له دوباره وايي واعظ
په خوږو پستو خبرو ئې غلط شوې دا خواږه خواږه ترخه وايي واعظ
څوك به څه باور د ده په نصیحت کا چه له یاره جار واته وايي واعظ
زه بې عشقه بل یو کار کولي نه شم ډیر له عشقه تښتیده وايي واعظ
اعتبار ئې په نرمیِ په ګرمیِ مه کړه دا توده توده ساړه وايي واعظ
اوریدونګي ئې رحمان د ویل نه یم بهتر دا دي چه نور نه وايي واعظ

ع

په تندي چه آتش بل کړم مدام شمع ځکه بیا موده له خلقو آرام شمع
په انور ئې منور اهل ابصار شو لا به کله شي ښکاره د انعام شمع
پتنګان ئې لور په لور تر مخ څرخیږي ځکه نه کوي په سول کښې آرام شمع
وسیزه ته ځان ځما په شعله باندي کړ پتنګ ته په رموز کښې کلام شمع
ستا مجلس د خاص الخاصو سر فرازو د رحمان په څیر نه مومي هر عام شمع

غ

هر یو ګل د ستا د باغ روشن تر دي تر چراغ روشن تر دي تر چراغ هر یو ګل د ستا باغ
ستا د باغ و د بڼ زاغ په نظر ځما هماي دي په نظر ځما هماي دي ستا د باغ و د بڼ زاغ
د دردمندو په دماغ ستا د در خاوري عنبر دي ستا د در خاوري عنبر دي د دردمندو په دماغ
د عاشق د ټټ داغ په آسمان د عشق آفتاب دي په آسمان د عشق آفتاب دي د عاشق و ټټر داغ
د رحمان د زړه فراغ نه شي نه شي بې خوبانو نه شي نه شي بې خوبانو د رحمان د زړه فراغ

ف

اورنګ زيب و شاه جهان غوندي اشراف صدقه شه تر منصور غوندي نداف
که د تن په لويي لوي دي ته ئې څه کړې مه کړه خداي چه کوه طور شي کوه قاف
بلهوس دي عاشقیِ ته هوس نه کا دا دروغ دي چه زر دوز شي بوريا باف
د مکې په بزرګي کښې هيڅ شك نشته ولي خر به حاجي نه شي په طواف
که په سل دريا به غسل د ځان وکا ګمان مه کړه چه به سپی شي پاك و صاف
کشتي هم چه ډيره ډکه شي ډوبيږي د مسرف په ځان بلا شه خپل اسراف
صابرانو صبر پريښود حريصان شول نه څه عدل شته په چا کښې نه انصاف
دا څلور واړه مذهبه سره يو دي ما و تا په کښې پيدا کړ اختلاف
د همه واړه ملکونو څښتن خداي دي که دروغ دي که حنّت دي که اعراف
شهيدان نه دي هغه خون فروشان دي چه خوني ته خون بهانه کا معاف
د کاذب ژبه په خوله کښې وچه سې ده لکه توره د لرګي وي په غلاف
د ديوال په سر به څو زغلي تر کومه دروغژن چه په دروغو وهي لاف
آب و تاب د ناکره مهر وي همره څو نظر پرې شوي نه وي د صراف
د دنيا په دولت ناز مه کړه رحمانه دا يو موي دي په نظر د مو شګاف
مدح و هجو د حبيب و د رقيب کړم رحمان نه زده بله هجو نور اوصاف

ق

چه پاي بند شه د ليلي په اشتياق مجنون واچاوه و نورو ته طلاق
چه د مى و د طرب په خوند خبر شه فراموش کړه صوفي نفل د اشراق
جام د ميوو دي يا رقص د خوبانو په هر ځاي چه بله جمع شي عشاق
پة نسيه و نظر نه کاندي بې نقده که څوک حوري ورته ستايي يا براق
چه حاصله د دلبر يګانګي شي د دويۍ خبري نه کاندي مشتاق
حرکت له ځايه نه کا لکه شمع که ئې اور په سر بليږي په تاراق
خوښ وي هسي د خپل يار په درد و غم کښې ته به وايې چه بادشاه دي د آفاق
هسي محو وي د عشق په مي ناب کښې چه خبر نه وي په وصل په فراق
که ظاهر په صورت وي په معني نه وي لکه کښلي د لا لفظ وي په اوراق
څو ئې تن په کار و زار کښې فنا نه شي نه جار باسي مخ آسونه د عراق
د عراق آسونه کار په اشارت کا په وهل په کوتل کار وي د ايلاق
چه خداي پوه کړل د بنو په څښل پوه شو چه پوه نه شو نه پوهيږي په شلاق
که ئې سر ځي که ئې مال ځي خداي دي نه کا د طالب و مطلوب تر مينځ نفاق
د قسمت پارڅي په لاس نيولي ناست يم نه پوهيږم چه به جفت شي که به طاق
ته چه پند وايې ناصحه و رحمان ته کاشکي نور کړې هغه کښلي د ميثاق

خدايه څه شه هغه ښکلي ښکلي خلق په ظاهر په باطن سپين سپيڅلي خلق
هيڅ خندا مي له دې خلقو سره نه شي ژړوي مي هغه تللي تللي خلق
خبر نه يم چه و کومه خوا ته لاړ شه ليدل نه شي هغه ما ليدلي خلق
لکه ځګ چه د اوبو په مخ کښې درومي هسي درومي په دنيا راغلي خلق
دريغه يو ځله خو بيا په دنيا راغلي له جهانه په ارمان وتلي خلق
هزار حيف دي چه په خاورو کښې لاړه شي په چووا و په چندڼ لړلي خلق
رحمان هسي ګوښه خوند له خلقو بيا موند چه هر ګز نه دي دا خوند موندلي خلق

ك

زړه مي تراشي د بښو په تيره نوك ماتوي مي دو ديرش غاښ واړه په سوك
په غمزو د تورو سترګو يم وژلي ژوبل ژوبل پروکي پروکي يم ټوك ټوك
که نارې وهم که خاوري په سر لونم ناروا شه که پروا لري يو څوك
لکه ګل چه څوك د طفل په لاس ورکا هسي رنګ دي ځما زړه کړ شوك په شوك
د آسمان په نيلي سور لکه آفتاب شي د زربفتو دستار کيږدي په سر هوك
که له ډيره درد و غمه مي زړه وچوي ورته هيڅ دي ځما درد و ځما دوك
درست جهان ئې په غم ډوب کړ سر تر پايه که ګدا دي د دې دهر که ملوك
که انصاف لري په زړه کښې منصفانو راشي ګورئ د دلبرو دا سلوك
زه به ولي د خپل يار ثنا نه وايم چه سحر سحر نارې وهي تل غوك
چه مين د دلبرانو په جمال شوې اي رحمانه ځان وژاړه کوك په کوك

په ښايست ځما ديار نه دي خبر څوك که خبر شي پرې به نه ږدي دغه در څوك
د دنيا چاري همه واړه فاني دي بر ناحقه خاوري لوني په خپل سر څوك
چه قبول شي په درګاه د مهرويانو د هغه په څير به نه وي بختور څوك
که ځما د يار په مخ د چا نظر شي و به نه کاندي بل خوا وته نظر څوك
د ديدن طاقت ئې هيڅا څخه نشته و آفتاب ته کتي نه شي برابر څوك
که هر څو دلبران ډير دي په جهان کښې بل به نه وي ځما يار غوندي دلبر څوك
عاشقي يوه پايه ده عجائبه دغه کار کولي نه شي هم هر هر څوك
له هجرانه بله سخته بلا نشته خداي دي نه کاندي زخمي په دا نشتر څوك
مخ به بل خوا ته هر ګز و نه جار باسي چه شي ستا په خمارو سترګو ابتر څوك
و به نه رسيږي تا ته په آسانه ستا په غم چه خاوري نه کاندي په سر څوك
ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي چه حاصله ګونټه نه کا په شش در څوك
همره نوم د عاشقې ور باندي مه ږده چه د يار په غم کښې نه شي قلندر څوك
هغه نه کاندي نظر و سيم و زر ته چه په لور د خپل آشنا کاندي نظر څوك
په ګلونو د ګلزار به ميل نه کاندي چه خوبونه کا د يار په خاکستر څوك

بې رهبره يون د عشق په لاري ګران دي دلته بويه چه پيدا کاندي رهبر څوک
چه بيلتون په سترګو ويني آشنائي کا د رحمان په څير به نه وي بې هنر څوک

چه مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک نور به څه کا په دنيا کښې اشتغال څوک
چه ئې قيل و قال له ياره سره نه وي له نور چا سره به څه کا قيل و قال څوک
د بل خط په عبارت به نظر نه کا چه نظر وکاندي ستا په خط و خال څوک
چه په اصل کښې خداي نه دي پيدا کړي ترو به څه غواړي د ستا د مخ مثال څوک
نور خوبان دي ست تر مخه پوري هسي لکه بل کا د آفتاب په مخ مثال څوک
چه عنقا شو اهل دل په دا دنيا کښې ترو به څه وايي و چا وته احوال څوک
که عاشق په عشق کښې ژاړي هيڅ ګرم نه دي په دا هسي درد کښې نه لري مجال څوک
سر خروئی د هر سړي په جګر خون ده نه هغه چه په سر واچوي سور شال څوک
مخ رونې دي د عاشق په خپلو اوښو په دانه شي چه ئې مړي په رويمال څوک
سړی بويه چه په نيك عمل نازيږي نه چه ناز کا د دنيا په ملك و مال څوک
د دنيا چاري فاني دي مرد هغه دي چه نظر کا په حرام و په حلال څوک
هر چه کر کا دا وربوشو غنم غواړي له خاطره دي بيرون کا دغه خيال څوک
که ئې شعر د رحمان مهمند تر غوږ شي غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

چه علاج کولي نه شي د قسمت څوک ترو به څه وايي و چا ته نصيحت څوک
غم د چا په ځان پيرزو دي باري څه کا چه د خداي په کړه کښې نه لري قدرت څوک
هغه چاري چه موقوفي په تقدير دي کړي ئې نه شي په محنت په مشقت څوک
که نظر کا و قضا و هم رضا ته په هيڅا باندي دي نه کا ملامت څوک
د مطلوب جفا واړه هنر دي څه پوهيږي د حکماو په حکمت څوک
د ابليس و رياضت ته دي نظر کا چه غرور کا په طاعت په رياضت څوک
علت لاړ شي عادت نه ځي له سړی نه خداي ديې نه کاندي په بده چار عادت څوک
زه رحمان د بيلتانه سيلاب يم وړي که لاس را کاندي د خداي په محبت څوک

ماتوي مي خوله په سوك خراشي مي زړه په نوك
كه ناري وهم كه ژاړم پروا نه لري يو چوك
راشي گوري منصفانو د دلبرو دا سلوك
لكه گل په لاس د طفل ځما زړه كړي شوك په شوك
د چشمانو په غمزه ئې ژوبل ژوبل يم ټوك ټوك
د فلك په توسن سور شي دستار كيږدي په سر هوك
هيڅ اثر ور باندي نه كا د دردمندو درد و دوك
اې رحمانه چه عاشق شي ځان دي ژاړي كوك په كوك

چه په زړه مي تور لحد شي د خپل خاك بې مزه مي شي هم خوب هم مي خوراك
چه د خوب او د خوراك مزه شي ورکه نور له مرګه برابر شي هغه ژواك
غلط وايي چه څوك عمر ورته وايي هغه عمر چه تيريږي په پخساك
نن سپيره په خاورو ډكه خوله بهتر يم چه آخر مي دا خوراك دي دا پوشاك
ځاي لري كه ځان ژوندون په زمكه خښ كړم چه مي پس له مرګه ځاي دي يو مغاك
ګويا شوي دي هغه چه شدني دي زه پخوا تر هلاكته يم هلاك
زړه چه روغ وي ګريوان كله څيراوه شي له ګريوانه معلومږي د زړه چاك
تن و ځاي و جامه هله پاك پكار دي چه وړنبي شي د چا زړه له غيره پاك
سړي بويه چه درون بيرون ئې يو وي نه هغه چه بيرون زر وي درون لاك
له سړيه غرض واړه سړي هوښ دي نه چه سر كښې ئې طره وي يا مسواك
د دنيا چاري همه واړه فاني دي څوك يو دوه ورځي خوشحال وي څوك غمناك
په ساعت كښې څوك خوشحال كا څوك غمناك كا دا خويونه هميشه دي د افلاك
چه څه كاندي واړه خداي دي نور څه نشته رحمان څه دي څه ئې واك څه ئې ادراك

گ

زغره واغونده ملا وټره په جنګ دغه پسه معرکه کوه د ننګ
و بې ننګ وته د ننګ خبري مه کړه يا ځان وګڼه په خپلو وينو رنګ
ننګيالي چه يو ځل مخ کا په يو لوري نور هيڅ نه ويني کوهي وي که ګرنګ
هيڅ له ځايه له جهانه خبر نه وي چه څراغ په نظر کيوزي د پتنګ
د بلبلو و چمن وته پرواز وي سمندر کا مدام اور وته آهنګ
که جهان و بې هنرو ته فراخ وي يو لحد دي هنرمند و لره تنګ
هغه ښهر جوهري لره زندان وي چه يکسان وي په کښي لعل و مردار سنګ
آسمان زمکه دواړه ژامي د نهنګ دي څه به زيست کا څوك په خوله کښي د نهنګ
په ښادي ئې هيڅ ښاد مه شه که دانا ئې غم ښادي دي د دې دهر څنګ په څنګ
که رحمان د هغو تللیو وصال مومي تير به نه کا په دا دور کښي يو درنګ

ل

ايښي مي پر سر دي ستا د مخ د ميني ګل بيا ميتور ليمه دي ستا د زلفو تور سنبل
ته چه آئينه په لاس کښي واخلې حيرانيږي زه له کومه راوړم صبوري او تحمل
ګرزې په چمن کښي منګل ډکه وړې د ګلو خداي زده چه ګلونه وړې که زړونه په منګل
هم مي منبك ليدلي هم عنبر دي په جهان کښي شاباش شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل
نه به ستا د مخ په څير ګلشن وي چا ليدلي نه به وي ځما په څير آهونه د بلبل
هسي تغافل کا ستا په جور و په جفا کښي خلق حيرانيږي د رحمان په تغافل

هيڅ مي نه کړه په دا عمر کښي حاصل هسي پاتي شوم مردود و ناقابل
ما لا بوي هم د وصال موندلي نه دي تش په توره مي خداي نوم کړ واصل
هسي ډوب يم د ګناه په دريابونو چه په سترګو مي و نه ليده ساحل
له وطنه مي په هر زمان وباسي رقيبان ئې را پسې کړه محاصل
که بلا ده که جفا ده که وفا ده دا همه واړه په ما کړه خداي نازل
د دنيا په پليتۍ مي ځان پليت کړ حيف دي دا چه نه عالم شوم نه جاهل
توره ږيره مي شوه سپينه زه حيران يم چه رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل

مه غوږ باسه د نا اهلو قيل و قال پکار نه دي قيل و قال د بد سګال
يا به فخر په خپل اهل په نسب کا يا به فکر کا د مال و د منال
يا به هسي پوچ ګويي کاندي آغازه چه مضمون ئې نه مردار وي نه حلال
د دانا او د نادان صحبت دي هسي لکه ګډ شي و بله لعل و کوتي لال
لکه لعل و کوتي لال چه و بله ګډ شي يا صحبت شي د عيسي و د جلال
هغه عمر چه تيريږي بې هم جنسه ترو به څه وي د هغه عمر احوال
د دنيا چاري فاني دي مرد هغه دي چه خبر شي په ثواب و په وبال
آب د سيند لا څه محال لري په تله کښي د دنيا د چارو هيڅ نه وي مجال
د دنيا چاري په مثل خواب و خيال دي څوك به څه کا اعتماد په خواب و خيال
لکه مال و ملك په خوب کښي ور څرګند شي خو چه ويښ شي نه ئې ملك وي نه ئې مال
لکه ځګ چه د اوبو په سر ليده شي که ئې واخلي هيڅ ور نه شي په چنګال
لکه دود چه غرونه غرونه څرګنديږي تار په تار شي په يوه نري شمال

لکه یخ چه د سړو په زور شي جمع هیڅ ئې نه وي د آفتاب په مخ مجال
په یوه ساعت ئې ساز بیا ئې ویران کا خاوري ختې دي په لاس کښي د کلال
د مجاز په معشوقو کښي وفا نشته ما هزار ځله وکښلي دي دا فال
اعتماد ئې په ښادۍ و په غم مه کړه نه ئې هجر په قرار دي نه وصال
گاه تور کودي په مخ باندي را کیښ شي گاه ئې را کیښ شي په مخ باندي رویمال
لکه مالګه چه څوک کیږدي په اوبو کښي زه هم هسي سر زده یم په مثال
چه د مرګ و تاخت و باخت وته نظر کړم صورت وینم د میړي په څیر یا مال
که وصال مي د یار بیا موند هاله سیال یم ګڼه نه یم زه رحمان د هیڅا سیال

بیلتانه دي هسي خوار کړ ځما دل چه له ځانه ئې ویزار کړ ځما دل
عاشقۍ همره داغونه دي پرې ایښي چه تمام ئې لاله زار کړ ځما دل
چه د زلفو په کمند سره دي را کیښ په بلا دي ګرفتار کړ ځما دل
ستا چشمانو په کښي هسي مقام وینو چه له غیره ئې ویزار کړ ځما دل
لاس و پښې د خلقو نسي دعا غواړي مینې هسي منت بار کړ ځما دل
بې سببه چا آزار موندلي نه دي تا په څه سبب آزار کړ ځما دل
زه رحمان خو منت بار د عاشقۍ یم چه مین ئې په دلدار کړ ځما دل

چه له نازه پوشیده لري چشمان خپل څه به ویني مقتولان و مظلومان خپل
چه ښکنځل راته به قهر قهر کاندي دا لا وګڼې په ما باندي احسان خپل
ګفتګو په اشارت کاندي له نازه کله اسم د چا اخلي په زبان خپل
په ګریبان باندي چه ټک وهي غوټۍ عاشق کښیباسي لاسونه په ګریوان خپل
خریدار ئې له حیرته بې شعور شي چه د حسن رخت څرګند کا په دکان خپل
چه خپل مخ په آئینه کښي ور څرګند شي خود پخپله سرفرو کاندي په ځان خپل
چه هر څوک ئې عاشقۍ وته هوس کا ګویا لوبي کا په دین و په ایمان خپل
هیڅ صرفه د چا په سر و په مال نه کا ما لیدلي دي پخپله مطلوبان خپل
مجنون ملك د عاشقۍ خو هاله خپل کړ چه په اور باندي ئې وسو خان و مان خپل
هیڅ د سترګو غړولو خوند ئې نه وي چه رحمان په سترګو نه وینې جانان خپل

م

ژوبل ژوبل د خوبانو په نګاه يم لا تر دا نه زيات غوښيږم چه پناه يم
چه يوسف غوندي هزار په کښې پراته دي بنديوان د هغه سيب ذقن په چا يم
چه ئې قد و قامت ووينم په سترګو عندليب په سهي سرود خپل آه يم
د سپين مخ د تورو څنګو له رغبته منت بار د هر سفيد د هر سياه يم
د رقيب خبري وړم د يار دپاره دعا ګوي هم د نيك خواه هم د بد خواه يم
ښاخ د زلفو ئې پخپله خداي را ټيټ کړ ګڼه زه د يار تر قد پوري کوتاه يم
بې له عشقه که مي عيب که مي هنر دي نه خبر په عبادت نه په ګناه يم
ځان هر ګوره ناآګاه را څرګندیږي له هغي ورځي را هسي چه آګاه يم
بې صبرۍ که يار په وصل کښې مهجور کړم د پسرلي په مرغزار کښې وچ ګياه يم
له اوله ټټر ووهم بيا آه کړم په نارو نارو خروس د صبحګاه يم
په جذبو جذبو ئې را کښوم و ځان ته هغه يار مي کاهربا دي زه ئې کاه يم
لکه بار دوني پوخ شي ځني رژي زه هم هسي بار تړلي سر براه يم
اوس مي ځاي په دا جهان کښې پاتي نه شه خوزيدلي تر چهل و تر پنجاه يم
د رقيب علاج آسان دي بلا دا شوه زه رحمان له خپله ياره ناويساه يم

که مي څوك په فقيري شميري فقير يم که مي څوك په اميرۍ شميري امير يم
د دلبر و صدقې لره ئې غواړم هسي نه چه په دنيا پسې زهير يم
د خرقې خدمت مشکل دي او که نه وي زه هر دم و دغه چاري وته خير يم
هم پند اخلمه هم پند وايم هر چا ته زه د ځينو يم مريد د ځينو پير يم
په هجران کښې خيال د يار را سره مل دي په زندان کښې د يوسف سره اسير يم
په خندا کښې مي ژړا ده لکه شمع له عالمه پټ پنهم د ځان په وير يم
آزادي تر دا په هورته بله نشته چه بندي د يار د زلفو په زنځير يم
چه همیش په غوږ ناړې د هجران اورم رحمان ځکه د خپل يار و مخ ته ځير يم
خوشحالا و دولتا مي غلامان دي زه رحمان په پښتو ژبه عالمګير يم

زه يو دم د ستا له غمه بې غم نه يم بې غم ستا له ذکره فکره يو دم نه يم
هر زيارت لره چه ځمه مراد مي نه يې زه زائر د ميخانې د حرم نه يم
ستا د در په تورو خاورو باندي خوښ يم بې تا خوښ په تماشا د ارم نه يم
چه د ستا په تماشا يم خبر شوي نور خبر په تماشا د عالم نه يم
بې د ستا له زيبا مخه و بل مخ ته منتظر د يوې ستني تر سپم نه يم
که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډير دي زه په واړو کښې اول يم دويم نه يم
که له غمه دي و نه مرم هاله وايه چه يا ديو يم يا دواب يم آدم نه يم
زړه مي ستا په غمزه غوڅ دي غزا وشوه که په لاسو په پښو روغ يمه ګرم نه يم
سم قامت لکه الف يم په راستي کښې لکه غشي زه فساد لره سم نه يم
خم د زلفو يم محراب د کږو وروځو زه د مار و د لړم په څير خم نه يم
کم و بيش که مي له لاسه واقع کيږي يم سړي شکم لرم بې شکم نه يم
زه رحمان د بيلتانه له غمه ژاړم واقعه ده ډيره ګرانه هيڅ ګرم نه يم

زه دا هسي ديوانه او مجنون چا کړم له رواجه له رسومه بيرون چا کړم
نه پوهيږم چه دا چاري په ما څوک کا ليوني د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومي سترګي کوم باړه کومه غمزه ده ډوب شهيد غوندي په خاك و په خون چا کړم
توان توفيق خو د فتنو را څخه نه وو په فتنو د تورو سترګو مفتون چا کړم
رحمان هيڅ له خپله ځانه خبر نه يم چه دا هسي رنګ زبون و محزون چا کړم

زه له دې دنيا له تلوني په شتاب يم لکه پاڼه د خزان پښه په رکاب يم
که هزار آبادي کړمه په جهان کښې غرض دا چه نهايت خانه خراب يم
که مي اصل د حياتو له اوبو دي بيا خو دا چه د اوبو په سر حباب يم
دا جهان قصاب خانه کړه خداي و ما ته پابسته ولاړ به غولي د قصاب يم
چه د خداي له معرفته خبر نه شم معلوميږي چه يا ديو يم يا دواب يم
که صورت مي د سړي دي زه ئې څه کړم په معنىٰ کښې د چارپايو په حساب يم
لکه بت چه په رنړو سترګو اوده وي هسي زه په بيداري کښې وړي خواب يم
په طاعت په عبادت مي زړه يخ نه کړ هميشه د معصيت په اور کباب يم
سر د خداي و عبات ته ايښوي نشم مدام ډوب د ګناهونو په درياب يم
چه و خپلو ګناهونو ته نظر کړم سزاوار د هر عذاب د هر عتاب يم

لکه څوك چه په خره سور وي مخ ئې تور وي زه هم هسي تر څښتن پوري بې آب يم
غزا وشوه که گفتار کوم په ژبه زه رحمان چه کردار نه لرم کذاب يم

په يوه غمزه د سترګو ئې فنا شوم سر تر پايه بې بنياده بې بقا شوم
ما د يار له غمه دم وهلي نه دي که مي دم وهلي نه دي هم رسوا شوم
شبه چه تن مي توي تومنه شه په عشق کښې هاله څاڅکي د شبنم وم اوس دريا شوم
زه د يار و مخ ته ګورم يار و ما ته چه داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کښې که ګدا وم کند په غاړه په وصال کښې ئې بادشاه د امرا شوم
بادشاهي د ګدايانو په دعا شي زه رحمان ځکه بادشاه يم چه ګدا شوم

تر هغه حده په هورته بد سړی شوم چه د درست جهان په سترګو کښې اغزی شوم
دنيا واړه خپله زيست و روزګار کاندي خو يو زه په دغه بار کښې کور لرګی شوم
تمامي جهان لمن را څخه نغاړي سپين زړوکي مي اغوستي تور کودی شوم
هيڅ حاجت د هنر نشته و نصيب ته غزا وشوه که مهمند يا داودزی شوم
د نوح زوي هم د نيك نيکه نمسی و ګڼه زه هم د يو نيك نيکه نمسی شوم
کل وسواس له احتياطه پيدا کيږي زه له ډيري هوښياري نه ليونی شوم
اوس عطا د آدميت را باندي وشوه چه رحمان د هغه يار د کوڅې سپی شوم

د هجران له ډيره غمه ولي نه مرم له دې هسي رنګ ماتمه ولي نه مرم
چه يو يار له بله ياره جدا کيږي د دې دهر له ستمه ولي نه مرم
چه په هر سحر ځما په ژړا خاندي له دې هسي صبحدم ولي نه مرم
يار چه يار په سترګو نه وينې خو مرګ دي ترو زه بې له خپل صنمه ولي نه مرم
چه په لږه ګرمۍ شا کاندي و ګل ته له دې بې وفا شبنمه ولي نه مرم
چه د مرګ خواري په خوا لرې رحمانه لا پخوا تر دغه دمه ولي نه مرم

که مي ونماڅي ساقي په يوه جام تر دا هور ته به نور څه وي احترام
شبه دي ما لره دا فيض د شرابو چه پرې ووينځم دا د لق ازرق فام
مي خواري که په عالم کښې بد نامي ده ما تر پښو دي لاندي کړي ننګ و نام

په ميزان کښې يو سر لعل بل سر کانې مساوي ده عاشقي په خاص و عام
عاشقان د سپين رخسار د تورو زلفو څه پروا لري د کفر د اسلام
په مجنون باندي قلم راغلي نه دي که حلال ئې په مخ ورشي که حرام
حلال عشق دي په رحمان باندي راغلي په حلالو کښې مدام وي احترام

و محمود وته نظر کوه مدام چه غلام کړ خپلي مينې د غلام
د نيکانو مدعا خو نيك عمل وي ساعت نه ګوري که صبح وي که شام
چه د زړه حضور ئې نه وي په نمانځه کښې پکار نه دي مقتدي وي که امام
چه مجنون غوندي په مينه کښې صادق وي رحمان وايم په هغه باندي سلام
هم نغمې کاندي هم رقص کا هم خاندي د رحمان په شعر ترکي د باګرام

زه د يار په درد و غم کښې شادمان يم لکه ګل د پريشانۍ په وقت خندان يم
ته ځما و بې کسۍ ته نظر مه کړه خداي ساتلي لکه ګنج په بيابان يم
لکه ونه د ځنګل په ميوه پوره په ويرانه ويرانۍ کښې آبادان يم
يو ويښته مي د صورت بې عشقه نه دي څوکيدار په هر نفس د خپل کاروان يم
د وصال مرغه د اوښو دانو راکړ لکه لعل و در په غاړه د خوبان يم
د کاملي عقيدې له برکته د دونهي په غاړه ناست شاه جهان يم
روښنائي مي په طلب کښې شوه حاصله شپه و ورځ لکه آفتاب په لار روان يم
چه صفت د تورو زلفو د آشنا کړم پلي سر په لويه لار د هندوستان يم
بې مينه مي هيڅ حال د صورت نشته لکه بې مال و متاعه تش دکان يم
د هوس بلبل ويسا را باندي نه کا د افلاس په کبل ډکي د خزان يم
دلبرانو وته خاك تر تلي لاندي د دې نور جهان په سر لکه آسمان يم
چه د يار په ديدن سر و مال ښندمه خلقو واورئ زه هغه عبدالرحمن يم
په هر دم کښې نوې نوې تماشا کړم زه رحمان د خداي وکړو وته حيران يم

په ښه خوي له بد خواهانو بې پروا يم په نرمۍ لکه اوبه د اور سزا يم
و هر چا ته په خپل شکل څرګندېږم آئينه غوندي بې رويه بې ريا يم

قناعت مي تر خرقې لاندي اطلس دي پټ د درست جهان بادشاه ظاهر گدا يم
د غنچې په څير په سل ژبو خاموش يم لکه بوي هسي په پټه خوله گويا يم
په ژړا مي د خپل يار ديدن حاصل کړ د شبنم په څير له گل سره يکتا ينم
هم په دا سپينو جامو معلوميږم لکه ابر هم گوهر يم هم دريا يم
دراز عمر مي حاصل شه له راستيه لکه سرو مدام سبز و تازه پايم
که چا لار د عاشقي ده ورکه کړې زه رحمان د گمرهانو رهنما يم

که هزار ځله نزدې د زړه په ياد يم زه چه يار په سترگو وينم نا ښاد يم
که يار سل ځله وعدې د وصال وکا زه له ډيري تلوسې بې اعتقاد يم
په جفا و په وفا ئې لارغه نه شي پر حذر د ناز پرور په کړي داد يم
د بې نيازو په نياز څه اميد د کړو دي زه پرون سلطان خسرو وم نن فرهاد يم
که د يار له لاسه اور را باندي بل وي لکه شمع مستقيم په خپل استاد يم
بې مينه قراري را باندي زوک دي شپه او ورځ په حرکت کښي لکه باد يم
که همه عمر مي يار په غيږ کښي ناست وي زه له غمه به د هجر په فرياد يم
يو زمان مي د زړه مراد موندلي نه دي پيدا کړي خداي په اصل کښي نا مراد يم
د وصال په يوه کال مگر بر پاي شم د هفتې په هجر هسي بې بنياد يم
چه ئې نوره نتيجه نشته بې غمه حق حيران د عاشقې په دهه داد يم
په وصال کښي مي د هجر طمع نه وه اوس حيران مستحير په دا فساد يم
بې له عشقه چه مي پرې شه د پوزي گڼه نور له جملگي قيده آزاد يم
که مي پيري که مي پلوري چاره نشته زه رحمان د ښايسته و خانه زار يم

زه د يار په درد و غم کښي غرقاب خوښ يم په دا اورکښي يې طاقت و بې تاب خوښ يم
که ډوبيږم په اوبو که په اور سوزم د سرو شونډو په آتش و په آب خوښ يم
چه د يار د خط و خال نښي په کښې وي زوړند سر په مطالع د کتاب خوښ يم
تر دا پوچه گفتگو چه ئې زه اورم په نغمه په ترانه د رباب خوښ يم
د ريا تر ناقبوله عبادته د ساقي په ميو مست و خراب خوښ يم
چه نه علم نه تسبيح نه تلاوت وي له دې هسي بيداري زه په خواب خوښ يم
د طوبي د وني سوري مي خوښ نه دي ستا د مخ په لنبو سوي کباب خوښ يم

خاموشي که هر څو لويه مرتبه ده زه له يار سره په سوال و جواب خوښ يم
د يار ډيري غمخواریَ يم عاجز کړي رحمان ځکه په خوردن د شراب خوښ يم

صبح و شام مي لاس نيولي دي دعا کړم خواست له خدايه ستا د مهر و د دفا کړم
هيڅ دروغ رښتيا مي نه زده که باور کړې ستا دپاره هم دروغ و هم رښتيا کړم
واړه نه يې خندول که ژړول کړې زه پخپله نه خندا کړم نه ژړا کړم
که ته نه يې باري وايه راته څوك دي زه دا هسي ليوني و مجنون چا کړم
خوب خندا دبيلتانه په زمکه نشته څه آرام به په دا دشت کربلا کړم
هره ورځ چه مي تيريږي ستا په غم کښې زه په هره ورځ پوهيږم چه غزا کړم
يو ويښته مي د صورت کورِ شوي نه دي هسي رنګ دي پټ پنهم په زړه ادا کړم
زړه که يو وي ما خو تا له دي درکړي مګر نورو لره نور زړونه پيدا کړم
چه مي واغوست سر و پاي د عاشقیِ زه رحمان دې سروپا بې سروپا کړم

دا ستا درد به په هزار درمان ور نه کړم دانسته به دغه سود په زيان ور نه کړم
که څوك را کاندي دنيا و عقبیٰ دواړه عاشقي به دي په اين و آن ور نه کړم
که مي چري لاس د ستا په وسه بر شي دا نعمت به د جنت په خوان ور نه کړم
څو مي تيغ په پهلو نه دي لګيدلي ستا پهلو به و رقيب آسان ور نه کړم
څو و نه وينمه ستا سترګي که خداي کا عزرائيل لره به همره ځان ور نه کړم
معشوقه د عاشقانو دين ايمان دي زه به چا لره خپل دين ايمان ور نه کړم
ستا تر زلفو پوري نوري زلفي څه دي په خاشاك به د چمن ريحان ور نه کړم
په رحمان د ستا د لبو مي حرام دي څو د خپلو وينو جام تاوان ور نه کړم

دا يو څه رنګه ژوندون دي نه پوهيږم خواب و خيال دي که افسون دي نه پوهيږم
جام د ميو چه د ځان په وينو مومم ترو زلال که جګر خون دي نه پوهيږم
د پتنګ او د بلبل تر ميان حيران يم مخ دي اور دي که ګلګون دي نه پوهيږم
په شانه سره دي تار د زلفو بيل شه که غوځ شوي مي نارون دي نه پوهيږم
عشق به هسي رنګ مقام باندي قائم کړم چه وصال دي که بيلتون دي نه پوهيږم
د خپل زړه و علامت وته حيران يم چه موسیٰ دي که قارون دي نه پوهيږم
د رحمان چهره ئې زيړه تر زعفران کړه خداي زده عشق دي که طاعون دي نه پوهيږم

بيا دي نوي شراب څښلي دي پوهيږم په رخسار دي ګل کرلي دي پوهيږم
که هزار ځله لاس سره کړې په نکريزو تا ځما په وينو وللي دي پوهيږم
معرکه ځما د مراد نه ده نور څه ده رقيبان چه تا بللي دي پوهيږم
څه حاجت دي چه دي خط په ملا لولم چه ځما په باب دي کښلي دي پوهيږم
ته خپل جور و جفا څه وايې و ما ته ما همه واړه ليدلي دي پوهيږم
چه رقيب او تا غوږونه و بله وروړه ما هغه ساعت ژړلي دي پوهيږم
رقيبان ځکه تيري په رحمان کاندي چه تا خوا پوري نيولي دي پوهيږم

په ليمه کښې مي مدام عکس ګرزي د ګلفام
توري سترګي مي ګلګون شوې په آرزو د ګل اندام
بې د سترګو له خونابه نه باده لرم نه جام
په طلب د دلارام کښې ما و نه له ليده آرام
زنخدان ئې خداي کوهي کړ وښوئيږم په هر ګام
که ئې خال د مخ غلام دي زه غلام يم د غلام
که په عشق کښې ناکام ډير وي دا ناکام دي ځما کام
خوښ يم زه په عاشقئ کښې که نيک نام يم که بد نام
په يارئ کښې مي قبول دي ملامت د خاص و عام
د دعا په عوض غواړم د خپل يار د خولې دشنام
تر ښکنځلو به ئې ځارکړم دغه خپل دعا سلام
تلخ ګفتار ئې راته خوښ دي ترکشمش و تر بادام
هم هغه مي مسيحا دي چه ئې را کاندي سلام
مخ د يار ماه تمام دي رحمان وليده تمام

څو په صبر په جفا د يار کوم څو به موم د نمر و مخ ته ګرزوم
عاشقي او صبوري سره دروغ دي زه دا لافي په دروغ څه رنګ وهم
ته و ما ته نصيحت مه کړه ناصحه زه دا خپل تخم خپل ځان لره کرم
ما خو زده چه مينه اور ده خداي مين کړم دانسته خپسر وا ورته اچوم
سررشته مي خداي د يار په لاس کښې ورکړم په هر لور چه مي را کاږي پسي ځم

د آشنا د مینې لاس ځما ګریوان دي زه په دا کار کښې هیڅ عذر نلرم
عاشقانو باندي حق د معشوقو دي حق به ولي په باطله بدلوم
ما چه فرض په خپل ځان کړه د یار مینه ترو له فرضو غاړه څه رنګ غړوم
دا څه ژوند دي چه یار نه وینم په سترګو زه رحمان په جهان سترګې غړوم

چه له مرګه بې پروا یې په هر دم دغه هسې غم دي هیر دي په کوم غم
نور همه واړه غمونه به دي هیر شي که یو ځل در باندي راشي دا ماتم
چه زخمي ئې سبا نه مومې په بیعه مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم
د مرهمو تیاري در لره بویه چه لا نه یې د اجل په تیغ کړم
چه د تن له سرایه دروميې توښه واخله تر دا سراي په هورته سراي نشته محکم
د دې لاري تله څه هسې آسان نه دي مشکلات دي په هر دم په هر قدم
که دي ویره شي له ظلمه له ستمه ته هم مه کړه په هیڅا باندي ستم
که امید لرې له رحمه له کرمه ستا هم بویه په هر چا باندي کرم
له هر چا سره چه کړې هغه نه مومې د هیڅ تخم میوه نه دروميې برهم
اجر واړه د عمل په اندازه وي دغه دواړه سره یو دي هم درهم
اوس د ستا رضا نیکي کړې که بدي کړې نیك و بد دي دواړه کښوي شي په قلم
خداي د رزق په زیرمه مه هیروه کلك شه تر سړي د سړي رزق دي مقدم
که ګنې چه په حرص سره څه زیات شي زیات به نه شي د یوې ستني تر سپم
که هزار رنګه تالاش و تردد کړې د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم
ډیر هوا و حرص مه کوه خداي یاد کړه دي کافي دي د عرب و د عجم
په تا فرض عبادت د خپل څښتن دي نه لښکري خزانې نې ملک و حشم
ټوك روټۍ یوه شړۍ در لره بس ده نور همه واړه اسراف دي مسلم
له خوراکه غرض قوت لا یموت دي نه چه غوښې غوړي وریجي یا غنم
له پوشاکه غرض خپسر پټول دي نه اطلس و سقلات تاج و علم
که حرص در باندي زور شي مرګ ور یاد کړه دا علاج دي دغه رنځ لرم محکم
د لحد د تاریکۍ علاج به څه کړې چه ته دلته کښې ویریږي په تورتم
غفلت هیڅ مناسب نه دي د سپین ږیریو خوب روانه دي په وقت د صبحدم
مار چه سوړي لره ورشي ګوره سم شي ته د ګور په غاړه راغلې نه شوې سم

خم قامت د دنيا کار کړې عمر واړه او په دوه رکعته نفلو نه شوې خم
ځان په خوا تر هغه وژاړه که مرد يې چه په تا باندې ژړا کا نور عالم
نور عالم چه په تا ژاړي انصاف وکړه بې انصافه ته په څه يې خوښ خورم
که زه نه وايم ته خود سترګي رونې کړه کور دي خور شه ته چارپا يې که آدم
اې رحمانه لکه ته چه په خداي ګرم يې بل به نه وي په جهان کښې هسې ګرم

که په سر د هغه يار له لاسه سنګ خورم خداي دي نه کا چه به بله خوا ته څنګ خورم
عاشقي او ننګ و نام دي سره لري څو به عمر واړه غم د نام و ننګ خورم
خداي و ما وته شيرين کړه تر شکرو که د يار له لاسه غشي د خدنګ خورم
د آشنا د بيلتانه په کار و بار کښې هميشه په تندي توره د فرنګ خورم
نوکري د معشوقو کوم په عشق کښې مهينه د بهلول نه د اورنګ خورم
شين لوګي مي په سر چتر دونهه تخت دي ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم
هم په دا چه له خودۍ شمه بې خوري د هجران په غم کښې لپې لپې بنګ خورم
لکه څوك چه نعمتونه د دنيا خوري زه د يار د کوڅې خاوري په دا رنګ خورم
واړه زهر شي ځما تر ستوني درومي بې له ياره که همه لا چې لونګ خورم
زه رحمان به څو ژوندی په دنيا پايم چه په بلو لنبو څرخ لکه پتنګ خورم

ن

هســـــي تـــيـــز درومـــي دوران گـــويـــا بـــرق دي درخـــشـــان
د آســـيـــا پـــه څـيـــر گـــردش کـــا پـــه زمـــيـــن بـــانـــدي آســـمـــان
کـــکـــرې دي د ســـړيـــو چـــه ووړيـــږي تـــر دا مـــيـــان
پـــيـــدا کـــيـــږي فـــنـــا کـــيـــږي نـــه ئـــې حـــد شـــتـــه نـــه پـــايـــان
نـــه ئـــې حـــد و نـــه پـــايـــان شـــتـــه نـــه ئـــې ســـر شـــتـــه پـــه ســـامـــان
ځـــنـــي ډول وهـــي ښـــادي کـــا ځـــنـــي ويـــر کـــا د خـــپـــل ځـــان
ځـــنـــي شـــمـــع غـــونـــدي ژاړي ځـــنـــي ګـــل غـــونـــدي خـــنـــدان
کـــه يـــې ګـــورې يـــو ګـــلـــزار دي کـــه ئـــې ګـــورې يـــو بـــيـــابـــان
يـــوه هـــســـي تـــمـــاشـــا ده چـــه ئـــې هـــيـــڅ نـــشـــتـــه بـــيـــان
کـــيـــفـــيـــت ئـــې مـــونـــده نـــه شـــي پـــه دلـــيـــل و پـــه بـــرهـــان
چـــه ئـــې کـــومـــه خـــوا رفـــتـــن دي يـــا ئـــې چـــرتـــه دي مـــکـــان
خـــداي خـــبـــر دي پـــه دا عـــلـــم هـــيـــڅ خـــبـــر نـــه دي رحـــمـــان

ډير ياران وو د ګل خان و جمال خان پکار نه شه يو په وقت د زارستان
د همه واړو يارنو مخ دي تور شي که به څوك و بله ياري کا په دا شان
چه يو يار په سوري پروت وي بل په اورکښې و هغو ته به څوك څه وائي ياران
هيڅ تعريف مي په دا ژبه وايه نه شي صد رحمت شه په ياريِ د ګل خان
تر دا پورته د ياريِ شرطونه څه وي چه په اور کښې دواړه وسوزي يکسان
چه له آله له اولاده سره وسول خداي دي نه کا څوك دا هسي مظلومان
چه په اور کښې يو د بل دپاره سوزي ما ليدلي نه وو هسي مخلصان
څه رنګ شوخ و هغه اور و هغه خلق چه ئې مړ نه کړ د اوښو په باران
الغياث دي الغياث دي الغياث دي چه انسان کا هسي ظلم په انسان
د نمرود چاري مي وليدې په سترګو چه ئې اچول و اور ته نبيان
هم دې زمکي هم آسمان ته تعجب کړم چه نه زمکه په نارو شوه نه آسمان
هم دې لويو لويو غرونو ته حيران يم چه ونه لوښته له ويخه سر غلطان
له دې خپله سپيه نفسه مي زړه بد شه چه اوبه څکي يا خواړه خوري په جهان
عالم وايي چه قيامت به په جمعه وي وليد ما په يکشنبه په دا دوران

هزار حیف دي چه دا هسي رنګه چاري واقع کیږي د دنیا په سود و زیان
په عیسیٰ و په دجال کښي ګناه نشته دا مکرونه دي د نفس و د شیطان
عزیزان ئې څپله ووژل پخپله دا همه واړه تقدیر دي د سجان
هسي نه چه دا ئې وکړه نور به نه کړي چه ئې زړه شي هغه کاندي بادشاهان
شاه عالم اعظم وګوره چه ئې سخا کړ په خونونو واړه ملك د هندوستان
و دارا و اورنګ زیب وته حیران شم چه ئې څه چاري واقع شولې تر میان
د حسن حسین غزا دي څوك په زړه کا چه همه واړه په تیغ شو شهیدان
د دوي غوښي اوښو وینو رغړولې بې حسابه هسي خلق شه طوفان
هر چه اهل د دنیا دي حال ئې دا دي که سړی دي که پیری دي که حیوان
آدم زاد په زمکه یو بل سره وژني په دریاب کښي وبله غوښي خوري ماهیان
لکه غوښي چه ماهیان خوري په دریاب کښي په هوا کښي هم دغه کاندي مرغان
خزنده و پرنده دي د دې دهر همه واړه یو تر بل مشت و ګریبان
مرداري د دې دنیا خو هم دغه ده ځکه بیرته ځني ګرزي درویشان
مکاري د زمانې څه همره نه ده چه رحمان ئې چا ته وکاندي بیان

دنیا دار د دنیا کار کا زه د دین خوانین ځما په ملك دي خوشه چین
هیڅ کم نه دي تر سپین مخ د دلبرانو نلکه ښه دي ځما شعر نمکین
مراد له تورو سپیونو واړه دلبري ده موقوف نه دي دغه کار په تور و سپین
مرتبه د سلیمان چه چا له ورشي هیڅ پوره نیمګړي نه دي پر نګین
چه رنګین رنګین مضمون پرې ښکلي نه وي څه پکار دي د بیاض ورق رنګین
خوند په خوله دي نه په څکه نه په خواړه دي آب و خور که د چا تلخ وي که شیرین
غرض خوب دي که په خس وي که په خاوره څه حاجت دي په بستر و په بالین
مصرىٔ توره هم په بد غلاف کښي زنګ شي خداي څوك مه کړه د بدانو همنشین
څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماه شي د رحمان آشنا چنان دي هم چنین

چرته د یار شونډې چرته غم د دل و جان چرته کتي لال و چرته لعل د بدخشان
پاك ومنزه دي عشق د نفس له خاصیه چرته چاه د ګیډې چرته چاه د زنخدان
لږ تفاوت نه دي د رندىٔ د زاهدىٔ چرته زلمي جونه چرته کونډې یتیمان

واړه بې وقوف دي چه څوك دين په دنيا پلوري چرته پښځه ورځي چرته عمر جاودان
ځار شه د هوا و حرص خيال تر قناعت چرته ملك د مصر چرته ده د غلامان
نه شي د خانانو د ملنګو سره كلي چرته عزيز خان چرته ملنګ عبدالرحمن

كه پخوا تر آشناىۍ وي بيلتون ما به نه وُ له چا كړي پيوستون
چه مي يار په سترګو وليد ما ګمان كړ چه هم دا ساعت مي بيا مودنده ژوندون
په نيمګړي داد خبر د فلك نه وم چه به بيا شي په ستنه را څخه ستون
نن ساعت چه له دې حاله خبردار شوم سكه تر نن ورځي بهتره وه پرون
هر زحمت چه په ما راشي شكرانه كړم عاشقىۍ تر هسي حده كړم زبون
اوس كه لاس زه و بله مړم هيڅ سود نه كا هغه چاره چه له لاسه شوه بيرون
لكه نمر په څلورم آسمان ځليږي محبت ئې له حجابه كړم بيرون
چا چه نښه له ښه مخه را كوله اوس دي سور په نيلي ګرزي د ګردون
په دا هسي حال كښي څه رنګ صبوري شي چه دښمن دي كامراني كا ته محزون
كه په صبر سره تور كانې لعل كيږي لعل ئې مه كړه په دا هسي جګر خون
د دنيا هوس په ما باندي حرام شه د هوسىۍ هسي كړم شپه په ميرتون
دريغه يو ځله هغه ځما په حال شوي چه و ما ته لولوي صبر و سكون
و رحمان ته ځان هغه ګړىۍ آسمان شي چه د ستا په غم كښي ناست وي سر نګون

كه ترې ولوښته شاهان و سلطانان هيڅ نيمګړي په چا نه شه دا جهان
كه هزار هزار فنا شي په يو دم كښي بيا پيدا شي په يو دم كښي هزاران
د رفتن د آمدن حساب ئې نشته لكه بحر چه بهيږي بې پايان
يو د بل په غم نه نرم وي نه ګرم هم د هغه زده چه ور ئې شي په ځان
پيغمبر غوندي صاحب تر دنيا تير شه دا دنيا ويرانه نه شوه په هجران
چه دا هسي عالم لاندي شه تر خاورو د چا ياد دي ما و تا غوندي سګان
كه غلبيل كړم د تمامي دنيا خاوري بيا به نه مومم دارا و شاه جهان
بوي د نام و نشان ئې پاتي نه شه چه دعوى ئې كړه د نام و د نشان
كه دروغ وايم ته ورشه نظر وكړه د خپل پلار و د نيكه په ګورستان
چه ئې ته په دواړو سترګو ښكلولې ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان

چه مدام ئې په قربان قربان بللې اوس دي غږ در باندي وکا چه قربان
د رحمان و سوزان شعر ته حیران یم چه ئې اور بل شوي نه دي په دیوان

فراموش مي کړ د ستا په مینه ځان ځان لا څه دي بلکه عمر جاودان
لکه زه چه ستا د در په خاورو خوښ یم همره عیش و طرب نه لري شاهان
لکه زه چه ستا د غم پنډونه اخلم همره پنډ اخیستي نه شي پهلوان
هسي بې سر و سامان یم ستا په عشق کښې چه آګاه نه یم په سر و په سامان
هسي بې شرابو مست یم ستا په مینه چه خبر نه یم له زمکي له آسمان
دا به څه رنګ شي چه ته د کال وعده کړې په ما نه تیریږي بې تا یو زمان
تمامي عمر د ستا په طلب ورك یم لټوم دي په هر ښهر په بیابان
که له دره ئې شړې که ئې پریږدې ته ډیر مین دي ستا په مخ عبدالرحمٰن

ته چه هسي ګاه یې ترش ګاه یې خندان له عاشق سره کینه کړې که احسان
له احواله دي چا نه زده چه به څکړي کله جور کله لطف کړې عیان
رنځ راحت د عاشقانو واړه ته یې دا دروغ دي چه وصال دي یا هجران
هغه شونډې چه خوږې دي تر شکرو له ښکنځلو ئې عار نه کا عاشقان
رجوعات د ښایسته و چا ته نه وي هر ګز نه وي سرکوزي د سروشان
دغه هسي رنګ ښایست لکه چه ستا دي نشته دا رنګه ښایست د هیڅ انسان
کست تر هسي حده ولي کړې ګل رخه چه له ډیره نازه وژنې عاشقان
و هر چا وته چه ستا قوت رسیږي هلته نه رسي قوت د درست جهان
ستا له جوره زهره نه لري چه آه کا که کشور د عاشقانو شي ویران
خوار حیران لکه عاشق دي ستا له دره خداي دي هیڅوک هسي نه کا خوار حیران
لکه ډیر وایي د وصل راحتونه دغه هسي د فرقت دي سخت زندان
د رخسار نښې دي واړه د خورشید دي چه ئې درست جهان له نوره دي روښان
له هوسه دي هر ګل کره خندا شوه چه ئې ولید ستا د حسن ګلستان
کله وي چه نصیحت کاندي عاشق ته که له حسنه دي آګاه شي زاهدان
رنګ روي دي لري رنګ د سرو ګلونو توري څنې دي ښاخونه د ریحان
سیاهي د نوي خط دي هسي زیب کا لکه ښکلي واړه توري د قرآن
و کوهي ته چه لغزش کاکل خطر وي کل خیرت دي کوهي ستا د زنخدان

که د درو تجلي ده ډيره ډيره در تاريك شي چه ظاهر شي ستا دندان
ته سلطان د ښايسته و يې دلبره دا نور واړه ښايسته دي نوكران
كه دا نور ښايسته ستوري ويل كيږي ته خو رشيد غوندي صورت لرې روښان
له هر چا چه اوريده شي دغه وايي چه ښايست دي زړه نه لري نقصان
در و لعل شو ويل د رحمان ځكه چه د ستا د لعلو شونډو شه گويان

څو به شميرم زه غمونه د هجران همره ډير دي لكه ريگ د بيابان
د سړي د دښمنۍ طاقت مي نه وه خداي را پيښه دښمني كړه د اسمان
لكه څوك چه د اوښ بار په ميږي كيږدي هسي زه يم په خپل غم پوري ناتوان
لكه اور د بيلتانه چه په ما اوري چا ليدلي كنې اور دي په دا شان
د يار غم به مي هغه سړي په شمار كړي چه شميرلي ئې ويښته وي د خپل ځان
كه څوك وايي حال دي څه دي په هجران كښې په خاطر دي تصور كړي دوزخيان
نا قرار روح مي د يار په هوا والوت تش صورت مي په ځاي پاتي شه حيران
د يار دم مي زړه په غټو سترگو يووړ لكه بت چه په ديوال كښې شي حيران
ما وې زړه د مومن عرش دي خبر نه وم چه به عشق ځما دا عرش كاندي ويران
عاشقۍ ئې تر هغه حده بې هوښ كړم چه نه هوښ لرم نه سر و نه سامان
لور په لور ئې د تهمت په غوندو ويشت شم ملامت را باندي وايي درست جهان
چه دا حال وربانديي نه وي ورغلي په ويل به څه گروهيږي د رحمان

وركه عاشقي شه هم ئې نوم هم ئې نشان زه ئې هسي خوار كړم لكه خاك د بيابان
زه د عشق په كار كښې تير تر سره هم له مال يم دريغه كه په سر مي دا مشكل كا خداي آسان
كښيوتم د عشق په آدم خورو گردابونه نه په وړاندي تلي شم نه په بيرته گريزان
رنځ د عاشقۍ چه زه ظاهر كړم و طبيب ته هيڅ ويلي نه شي طبيبان و حكيمان
راشه عاشقي مه كړه رحمانه او كه نه وي تل په اور به ناست ئې كه پادشاه ئې د جهان

خان سلطان د دې جهان آخر دروميي خوار حيران
د قضا په ځيل تړلي په مشال د بنديوان
شيرين ځان ور څخه دروميي نه ئې زور شي نه ئې توان
كه ښندي مال و ملك واړه هيڅ رنگ نه ميي امان

نه ئې مل نه ئې حامي وي درد ئې ورشي په خپل ځان
در مانده وته ولاړ وي وزیران و وکیلان
هیڅ داروکولي نشي کوزکوزګوري حکیمان
بادشاهي ئې پاتي کیږي زړه ئې چوي په ډیر ارمان
چه ئې روح له تنه بیل شي نور پرې ژاړی فرزندان
یو ساعت وربانديژاړي آخر صبر کړي خواران
بیا ئې غسل لره واخلي په تخته باندي عریان
په جامو ئې خوشحالیږي مرده شو او غاسلان
چه له قبره ئې بازګشت شي مال ئې یوسي وارثان
په مسند ئې دعوي کاندي هم دوستان هم دښمنان
سهیلي ئې تالا کاندي هغه خپل مصاحبان
نام نشان ئې هسي ورك شي لکه عین بې نشان
نه ئې نقش پاتې کیږي نه ئې اسم په جهان
دا دنیا آب روان ده نه شي نقش په آب روان
که هزار رنګ آبادي کا نهایت خانه ویران
لکه باد هسي به تیر شي هغه دور هغه دوران
دا بیان دور و دراز دي کوته قطع کړ رحمان

و

که نظر کا څوک په کار د درویشانو خود به ووینې وقار د درویشانو
په دغه لاري به ورشي خداي رسول ته که څوك یون کاندي په لار د درویشانو
هر ګفتار به ئې د خداي په در قبول وي چه قبول ئې کړ ګفتار د درویشانو
هسي ګرم بازار بل په جهان نشته لکه ګرم دي بازار د درویشانو
په یوه قدم تر عرشه پوري رسي ما لیدلي دي رفتار د درویشانو
همره خلق ئې زیارت کا پس له مرګه چه بازار وي په مزار د درویشانو
پادشاهان د دې دنیا واړه پراته دي لکه خاوري په دربار د درویشانو
هر بهار لره خزان په جهان شته دي خزان نه لري بهار د درویشانو
د جنت د باغ ګلونه به ئې هیر شي که څوك ووینې ګلزار د درویشانو
چه دنیا ئې کړه د خداي د پاره ترکه صد رحمت شه په روزګار د درویشانو
د قارون و حال ته ګوره حال ئې څه شه راشه مه کوه انکار د درویشانو
په هر چا چه د عضب لنده کا ښخه خطا نه درومی ګذار د درویشانو
درست دیوان د رحمان ځار تر دا غزل شه چه بیان ئې کړ کردار د درویشانو

اوښې نه لري حساب ځما د سترګو بې حسابه شه سیلاب ځما د سترګو
سیاهي مي همه واړه سفیدي شوه هسي پریولی شي کتاب ځما د سترګو
که مي سره دي که مي سپین دي که مي تور دي اوښو یووړ هر اسباب ځما د سترګو
چه رخسار د هغه یار را څخه پټ شي حبطه شي آب و تاب ځما د سترګو
چه ګداز ئې په دا ګرمو اوښو نه شه مګر ګانې دي حباب ځما د سترګو
چه مي نقش په زړه سرې شونډې د یار شوې کان د لعلو شه ګرداب ځما د سترګو
که نور خلق د آفتاب په رونا زیست کا مخ د ترکو دي آفتاب ځما د سترګو
ما ئې خیال لره ابلق د سترګو زین کړ قدم نه ږدي په رکاب څما د سترګو
لکه تښتي وحشیان له مردمانو هسي وتښتیده خواب ځما د سترګو
ما رحمان چه سترګي رونې په خپل یار کړې اوس محال دي اجتناب ځما د سترګو

هیڅوك مه شه ګرفتار د تورو زلفو مه اسیر شه په کفار د تور زلفو
هم په شان د تورو زلفو به پریشان وي هر چه کاندی انتظار د تورو زلفو
د محشر عالم به کله په قرار وي څوك به څه غواړي قرار د تورو زلفو
څو ئې صبح د قیامت دمیده نه شي ورځ به نه شي شب تار د تورو زلفو
مګر شمع د سپین مخ شي باندی بله ګڼه نشته نور انوار د تورو زلفو
تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه چه حلقه شي تار په تار د تورو زلفو
چه تمام جهان ئې ننبتي دي په دم کښي څوك به څه کاندي انکار د تورو زلفو
زه له کوم یوه کمنده سر وکاږم کمندونه دي هزار د تورو زلفو
په تندی د محتسب کا درّه ما ته چه پرې راشی درّه دار د تورو زلفو
همره زړونه ئې پیلي په هر تار دي چه تسبیح کړ خداي زنار د تورو زلفو
ملك د هند و د حبش ئې واړه زیر کړ چه پیدا شه شهریار د تورو زلفو
ښامارانو غوندي ګرزي په ګنجونو نشي هیڅ په زړه کښي ډار د تورو زلفو
که به بل مار چیچل په لاسو یا په پښو کا په زړه خوله لګوي مار د تورو زلفو
د رحمان تر قلم مښك و عنبر اوري چه آغاز ئې کړ اشعار د تورو زلفو

که هر څو په صحرا سر شوم هم په کلیو بیا مي نه موند هیڅ خبر د هغه تللیو
خداي زده کومه خوا ته لاړل حال ئې څه شه خبر نه یم د ګړنګ له پریوتلیو
له دې غمه مي زړه چوي که څوك خبر وي لږ په ما هم خبر وکړئ خداي ساتلیو
پس له دې به چرته درومي ځاي مو کوم دي راته وائي د دنیا په سرای راغلیو
ګوندی ستاسو په مخ زه پسندیده شم لاس د خداي ورته ونسی پسندلیو
خبر نه یم چه په باب مي کښلی څه دي زه رحمان په اندیشه یم له دې ښکلیو

تور لیمه مي د فراق په ژړا سپین شو دوباره د زړه په وینو کښي رنګین شو
ما وې زه به لا دیدن کړم د یارانو خبر نه وم چه یاران په کوچ تعیین شو
چا پتنګ غوندي ځان واچاوه و اور ته څوك ژوندي لکه بلبل په آتشین شو
د مرده ؤ ته د مرګ خواری شوې پیښي او ژوندی په زندګۍ کښي اندوهګین شو
د قضا سپاهیانو هسي لاس په تاخت کړ چه پایمال هزار خسرو هزار شیرین شو
چه قدم ئې په آسمان ایښود له نازه هغه هسی ناز پرور زیر زمین شو

چه مدام ئې د سنجاب د پاسه خوب کړ اوس په زمکه بې بستر و بې بالین شو
د رحمان خاطر به ولي پریشان نه وي چه پریشان ور څخه جمع همنشین شو

تا چه رنګ و میو ورکړ د لبانو اور دي پوري کړ په کور د مي خورانو
چه دي جوړه کړه لنده د کږو وروځو خو به ښکار کړې په حرم د غزالانو
چه دي اسم د زنځیر په زلفو کښیښود معطر دي کړ دماغ د دیوانګانو
په رخسار چه دي د خط غبار څرګند شه سر بلنده شوه فرقه د خاکسارانو
کاږه غشي واړه بیرته ځي له ننبي زه آزار کړم ستا ګږو ګږو مژګانو
چه ځما د یار تر مینځه جدایي کا کانې پریوتي په خونه د بدانو
که مي چري خواست د خداي په در قبلیږي سوال به زه د عمر کړم د مهوشانو
سور پیزوان دي په سرو شونډو هسي زیب کا لکه جیم په قلم ښکلي کاتبانو
د سرو ټیك دي شهزاده په جبین پروت دي شینکی خال دي محاصل په بندیوانو
دواړه لیچي دي وکښلی مصرىٔ توري در پوهیږم سر به پریکړي د خوارانو
ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوزي لکه شمع په زیارت د شهیدانو

چه کوټلي دي په تیغ ستا د چشمانو سر حلقه دي د جمله ؤ شهیدانو
ستا وصال د سر پریکړیو دي دلبره ژوندی نه مومي جنت بې مردګانو
د پیری سوری عاقل لره ضرر دي دا مقام دي د سر تور د دیوانګانو
په سرپوښ محل کښې نور د آفتاب نه وي دا دولت دي نازل شوي په ډاګیانو
هم په دا ځما له سترګو وینې څاڅي چه دي نقش په کښې رنګ دي د لبانو
مشکین خال دي په سرو لبو هسي زیب کا لکه مهر په مخزن د در مرجانو
ما سوی له یاره هر چه دي رحمانه واړه کفر دي په دین د عاشقانو

هر ساعت ځما د غوږ په تاوولو د فلك لاسونه شنه شو تر څنګلو
همره غم د بیلتانه را باندي راغي چه حساب ئې نه په خوله شي نه په کښلو
هغه سترګي چه نرګس و هم بادام دي تیرې توري دي ځما په قتلولو
هغه شونډي چه شیرینې دي تر قندو ما هیڅ فیض ځني بیا نه موند بې ښکنځلو
دا کاږه کاږه بانې او کږې وروځي نور څه نه کا بې کږو کږو وهلو
په شپه نوکی د عاشق په وینو سرې کا سبا پوري کا نکریزي په منګلو

دا ځما د قاتل لاس دي نه پوهيږم که تر باغ وتلي ښاخ دي د سرو گلو
دريغه مرگ ئې په دنيا کښې نيمه خوا شوي ښايسته عنچې ئې پرې يستې د گلو
هسي بند شه په کمند د تورو زلفو چه حيران يم د رحمان په خلاصولو

۵

د دلـــــبـــــرو پـــــه درگـــــاه نـــه حـــرمـــت لـــرم نـــه جـــاه
غـــوځـــوي مـــي د زړه ولـــی د چـــشـــمـــانـــو پـــه نـــگـــاه
هـــمـــره قـــدر مـــي هـــم نـــشـــتـــه لـــکـــه قـــدر دگـــيـــاه
هـــيـــڅ خـــبـــر لـــه ځـــانـــه نـــه يـــم چـــه ئـــې ځـــه لـــرم گـــنـــاه
يـــو نـــظـــر را بـــانـــدی نـــه کـــا از بـــرای عـــنـــدالـــلّـــه
کـــه لـــه غـــمـــه ئـــې ســـر پـــټ کـــړم بـــل ســـر نـــه لـــرم پـــنـــاه
د رحـــمـــان پـــه ځـــيـــر دی نـــه شـــی حـــال احـــوال د چـــا تـــبـــاه

چه ئې وليده ستا حسن بې حسابه له دې قصده تاو پيدا شه له آفتابه
په آرزو دي د نرکس سترګي ځلور شوې غنچه سره د زړه په وينو شوه غرقابه
ستا په غم مي سترغلي سرې سرې ناغې شوې يا خيمې دي سياه پوشی سره طنابه
که دي زلفي په مخ پيچ و تاب شوې ښائي ويښته څه طاقت لري د اور له تابه
زه چه خداي د ستا د غم سره آشنا کړم خوشحالي مي نور نايابه شوه نايابه
سترغلي مي د فراق په ژړا سره شول د سبزې اثر ئې پاڅيده له آبه
ماه خورشيد دي په ښايست پوري شرميږي ځکه مخ فنا کوي تر کوه قابه
زه دي پيژنم په اصل کښې خاکي يې ځان به څو څنډې په گوته له ترابه
څو دي خيال د آشنا گرزي په ليمه کښې خبر زده کړه ته د اوښو له سيلابه
د رحمان به بخت هاله له خوبه ويښ شي که ته سترګي ورته پورته کړې له خوابه

تـــه شـــهـــا يـــې شـــکـــر لـــبـــه گـــل رخـــســـاره ســـيـــم غـــبـــغـــبـــه
پـــه نـــادروکـــښـــي نـــادره پـــه عـــجـــبـــوکـــښـــي عـــجـــبـــه
پـــه جـــمـــلـــه ؤ مـــعـــشـــوقـــوکـــښـــي بـــوالـــعـــجـــب يـــې مـــنـــتـــخـــبـــه
بـــې زيـــوره ښـــايـــســـتـــه يـــې بـــې تـــرتـــيـــبـــه مـــرتـــبـــه
دغـــــه داد د الـــــهـــــی دي بـــې تـــالاشـــه بـــې طـــلـــبـــه
آب حـــيـــات چـــه حـــيـــات مـــونـــد بـــيـــا ســـتـــا د شـــونـــډو لـــه ســـبـــبـــه
مـــخ دي ســـپـــيـــن تـــر ســـپـــيـــن ســـبـــا دي زلـــفـــي تـــوري تـــر تـــور شـــبـــه
ســـتـــا د مـــخ عـــرق دانـــه ؤ زيـــنـــت رانـــيـــولـــه کـــوکـــبـــه

د ښایست مخي دي نشته ترمشرقه تر مغربه
د وصال مونده دي ګران دي مګر فضل شي له ربه
چه د رب فضل پرې وشي هغه خلاص شي له غضبه
دا دولت د خداي په داد دي مونده نه شي له نسبه
عشق څه هسي علم نه دي چه حاصل شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وايي عشق سوی دي له مذهبه
د عاشق مذهب هم دا دي چه دم نه وي بې مطلبه
ستا د حسن په صفت کښې رحمان ګنګ شه له ادبه

په هر زړه چه د یار مینه شي غالبه بله مینه ئې هیڅ نه وي مناسبه
نوری واړه مرتبې به روته هیڅ شي که خبر شي څوك له هسو مراتبه
لیاقت ئې هر وګړي څخه نشته عاشقي یوه پایه ده عجائبه
د طلب له کوتاهۍ نه ویره وکړه که هر څو دي لار کوتاهه ده طالبه
عشق څرګند خزانه ده خوار هغه شه چه څرګنده خزانه شوه ترې غائبه
غوره خط د مهرویانو تر خط نشته که هزار رنګ کتابونه کړې کاتبه
هیڅ ئې مه پوښته له فرضو له واجبو په هغو چه عاشقي کړه خداي واجبه
عاشقان تر سرو و ماله یار ته تیر دي خداي دي دا طایفه نه کاندي کاذبه
زه رحمان د خپل صاحب په رضا زیست کړم څه پکار دي دا بنده بې خپل صاحبه

ورځ دي تیره په شومي کړه شپه له خوابه خداي به کله یادوې خانه خرابه
په شتاب شتاب دي تله دي که پوهیږې غافل مه شه د دې عمر له شتابه
دلته دم و قدم دواړه په حساب دي پل غلط د لاري مه ږده بې حسابه
راستولي خداي حساب دي په کتاب کښې خبر زده کړه له حسابه له کتابه
ته و خپلو نیکو بد وته نظر کړه چه بدي دي څو تیري کړي له ثوابه
په هغه جهان به څنګه ځواب وکړې چه پدې جهان عاجز یې له ځوابه
عاقبت به تورو خاورو لره درومې ځان به څو څنډې په ګوتو له ترابه
د کاغذ په کښتۍ سیل به کړې تر کومه دا کښتۍ به دي مرګي کاندي غرقابه
چه آفتاب یوه نیزه شي بیا به څه کړې اوس چه سوري له ور تښتې له آفتابه
په آزار د چا راضي مه شه رحمانه که خلاصي په قیامت غواړې له عذابه

په ورځ ناست ئې بې مطلبه
په شپه خوب کړې بې ادبه

لاس دي وخاته له دواړو
هم له روزه هم له شبه

نه دلې شوې نه هروې شوې
تر مينځ ډوب شوې مذبذبه

عبادت دي په ريا شه
په مذهب کښې بد مذهبه

مدام بند يې په سبب کښې
بې خبر له مسببه

واړه تشي شلونبې شازې
خبر نه شوې له مطلبه

ته اوده وربانديسور يې
آس دي يون کا بې جلبه

تن دي تش په وره وسه
آس دي داغ کړ بې منصبه

د راکب چه واك پردی شي
سود ئې څه وي له مرکبه

له ژوندیو سره ناست يې
له مرده ؤ مرکبه

هلک لوي شوې په اوبو کښې
اوبه نه پيژنې کبه

لکه کاڼي يا کودري
په درياب کښې تشنه لبه

نا آگاه ځان آکاه بولې
دا خبره ده عجبه

مراد له زهده معرفت دي
نه تش ځان وژل اقربه

د رحمان شراب له عشقه
نه انگور نه له عنبه

تا چه په دا تورو سترگو وکاته و ما ته
زړه دي ځما تور کړ له دې نوره مخلوقاته

ما خو چه ته وليدې هغه ساعت مي ووې
نوره به مي مينه د زړه نه شي له تا ماته

شيخ و زاهدان چه نصيحت وايي و ما ته
نه دي خبر شوی ستا د مخ له محسنا ته

څه شوه که زه انگشت نما شوم ستا په مينه
لا تر ما نه خوښ يې و قاضی ته هم ملا ته

مرم په دا چه ما له تا جار باسي هغه خلق
بيا دي په ديدن تر ما وړنبي در زغلي خوا ته

زه رحمان چه يار ووينم وايم خدايه خير کړې
گډه ښاپيرۍ ده د بنی آدم له ذاته

که د عقل څه اثر لرې و سر ته
لاس په سر مه شه د هر گيدي و در ته

په نظر د هغو خاوري سره زر کيږي
هر چه نه لري نظر و سيم و زر ته

بې منته جام د زهرو څښلي ښه دي
نه هغه چه منت بار شي و کوثر ته

د يوسف له جاله زده کړه دغه پسه
وايه حال د زمانې و برادر ته

دې فلك و چا ته هيڅ بخښلي نه دي
چه ئې نه دي راپيرو دي ځيني بيرته

د خروار دعوه ئې وگڼه ممکنه
که رتۍ يا جو دانه به ئې وي درته

که له خدایه دي خلقو وته مخ شي له فردوسه به دي مخ شي و سقر ته
همیشه به در په در گرزي رټلي د استوګنې ځاي به بیا مومي چرته
د دې سست بدن منت په رحمان باندي چه له خپله دره تلي نه شي بل درته

چه نظر کړم د خوبانو و رخسار ته آئینه غوندي حیران شم و دې کار ته
له دهشته ئې ریبار پوښتیدی نه شم خداي زده څه به ئې ویلي وي ریبار ته
خلوتیان لکه برده په کښې خرڅیږي غږ ئې نه خیژي د حسن و بازار ته
ته چه ما پوښتې د یار له حقیقته څوك د یار خبري کاندي و اغیار ته
درد و غم د عاشقیۍ څه همره نه دي چه ئې عقل د چا رسي و مقدار ته
زه و یار چه خپل غمونه سره شمار کړو یار و ما ته حیرانیږي زه و یار ته
رحمان هسي وزګار چري دي له عشقه چه غوږ ونیسي ناصح غوندي وزګار ته

ما د دهر غم وهلي دي په لته د پیالې د صراحی له برکته
که اوبه دي د حیاتو په تور تم کښې ساده رویو و ما راکړې بې ظلمته
هغه یار چه و ما جام د میو راکړ د دښنو ویني مي وڅښې بې شدته
بې خودۍ ئې د دنیا له غمه خلاص کړم لا مي بیا مونده بیرون له شش جهته
د دښمن په دښمنۍ می خندا کیږي لکه شمع د مقراض له خصومته
بې خیري مي کل په خیر ده شمیرلې د زمری په خوله کښې ناست یم فراغته
مړ بهتر دي تر هغه چه څوك بې پت وي په یارۍ کښې دي خداي نه کا بې پته
داستۍ چه په اور سوزي مراد یې دا دي زه په اور کښې سوې ښه یم نه بې پته
خداي هاله د سړي یاد شي چه درد مند شي کمه نه ده دردمندي تر عبادته
زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند یم لا د پاسه سور پیزوان شه بله نته

ستا په مخ کښې چه حساب د جمال نشته ځکه ما څخه د صبر مجال نشته
ته د سر و د مال ویره په ما مه کړه ویره ما څخه د سر و د مال نشته
زه په دا سبب له ویري سره ریږدم چه ستا ویره کښې ثواب دي وبال نشته
که وعده د یوې چاري یو ساعت کړې د هغې چاري امید مي په کال نشته
د شهید و حال ته ګوره حال ئې څه دي بې تا هسي ځما حال دي بل حال نشته
روشنائي مي د چشمانو ستا دیدن دي په دا کور کښې بل څراغ و مشال نشته

په جويبار ځما د سترګو سرو ته يې په دا نهر باندی بل څه نهال نشته
مخ دي بې خط و بې خاله هسي زيب کا چه ئې هيڅ حاجت په خط و په حال نشته
مخامخ که راته وګورې دلبره په کاته کښې دي ثواب دي وبال نشته
د آفتاب په مخ کښې هره ورځ زوال دي ستا د حسن په آفتاب کښې زوال نشته
ستا په يادو کښې رحمان هسي مشغول دي چه په زړه کښې ئې هيڅ غم د وصال نشته

مخ ته دي نمر وايم زلفي تار تار نشته سرو که ستا قد بولم د سرو يون رفتار نشته
هر څوك چه د ستا و آتشين رخسار ته ګل وايی پوچ وايی د اور په مخ کښې وقر د ګلزار نشته
زلفي دي ناحقه خلق بولي په سنبل ضمه ولي چه له منبکو سره هيڅ د ګياه کار نشته
ما چه غږ په غوږ و ستا د در د سپيو واورید هسي رنګ بلبله په چمن کښې په ګفتار نشته
ستا ديدن هغه کا چه ئې سر په تنه پاس نه وي ولي چه د سر د څښتن جور وته لار نشته
يار به د رقيب په لوري خداي نه کا رحمانه سم ولي چه د سپيو فرشتو سره څه کار نشته

تا خو زده ځما د زړه له احتياجه نور می څه پوښتې چه څه غواړې محتاجه
د طالب د مطلوب راز به ما در وښود که ته نه وې خبر دار له دې رواجه
يار که يار ته حال په خوله نه وايي څه شو و حکيم ته پټ څرګند وي له مزاجه
که ځما له حاله ما پوښتې حال دا دي چه بې تا مي ورځ تياره ده شب داجه
آشنائي به ما په کوم قوت کوله که خبر وي ستا د هجر له تاراجه
که په سولو کښې يو خواست د چا قبلیږی خداي دي هيڅوك رنځور نه کا بې علاجه
په رحمان بلا پسې که زهريږي ته مشغول اوسې له خپله تخت و تاجه

چه خبر شوم د ساقی د جام له راحه لکه مړي ملاقي شوم له ارواحه
زه چه زلفي د يار ووينم په خوب کښې په شپه منښك راباندي تر صباحه
سبا زيري د وصال په مهجور کاندی د هيواد خبر موندي شي له سياحه
که روا کا خون خوردن د عاشقانو څوك وتی شي د خوبانو له صلاحه
هر ساقي چه جام د عشق لري په لاس کښې دا پياله ئې په مستانو ده مباحه
مخ که بې مينې څوك ستايي ستايه نشي د ممدوح له قدره چا زده بې مداحه
د دنيا ناوې په عقد کښې دين غواړي ای رحمانه ځان ئې ژغوره له نکاحه

ولي تللي يې له ما مدامم په څه؟ ترهیدلی یې هر صبح و شام په څه؟
زه هر صبح و شام دعا کوم و تا ته ته و ما ته کوې دشنام په څه؟
همیشه لکه وحشي په وحشت ګرزې یو ساعت را سره نه یې رام په څه؟
همیشه را څخه درومې په وړاندې لکه عمر بیرته ته ږدې ګام په څه؟
راته وایه زه به هم هغه کومه غمازانو ته بخښې انعام په څه؟
لږ پرهیز کړه له رقیبه خداي د پاره ګډوې سره حلال حرام په څه؟
رحمان ستا په مخ بې څنو هم مین دي بیهوده دي ورته کیښود دام په څه؟

ولي نه ګورې و ما ته سم په څه؟ زیاتوې د غمزده ؤ غم په څه؟
ستا په غم کښې چه ما ویني عالم ژاړي ژړوې را سره نور عالم په څه؟
په مطلب دي د سرو شونډو نه پوهیرم چه می ویني د زړه څښې هر دم په څه؟
ستمګار چه ستم کا بهانه کاندې ته په ما باندې کوې ستم په څه؟
مه کړه خداي چه څوك بې یاره خوښ خورم وي زه به اوسم بې تا خوښ خورم په څه؟
و دې خپلو برندو سترګو ته دي وایه چه ورځني مي قلم قلم په څه؟
لږ ئې وپوښته چه حال دي د زړه څه دي د رحمان له سترګو څاڅي نم په څه؟
رحمان خود پخپله ګرم یم چه مین شوم ولي نور عالم مي بولي ګرم په څه؟

که څه وایم له هجرانه وایم څه؟ له دې درده بې درامنه وایم څه؟
توان د دم وهلو نه لرم و یار ته چه توان نه لرم بې توانه وایم څه؟
چه ئې ووینم له ځانه خبر نه یم چه خبر نه یم له ځانه وایم څه؟
د خپل زړه له حاله هیڅ را ویل نه شي له بې نامه بې نشانه وایم څه؟
د عشق راز چه هیڅا نه دي بیان کړي ترو به زه له بې بیانه وایم څه؟
د خپل یار له غمه درست په وینو ډوب یم له دې هسي رنګ طوفانه وایم څه؟
زه چه پروت یم د هجران په تناره کښې د وصال له ګلستانه وایم څه؟
سر و مال د سړي لوټ کړي زړه ئې یوسي له دې هسي دل ستانه وایم څه؟
زاغان بولي بلبلان شړي له باغه د دې دهر له باغبانه وایم څه؟
هر چه وایم تر همه واړو بهتر دي زه رحمان به له جانانه وایم څه؟

څه شوکه خاموش یم ستا د عشق له آه سرده ستا ځما له مینی خلقه واړه خبر ده
هیڅوك دي په خوله د عاشقیِ لافه و نه کا کله هم پټیږي وچي شونډي ګونه درده
اهل د دنیا واړه نامرد دي رنګ ئې ورك شه خداي دي ملامت د هیڅا نه کا له مامرده
کله بې دردانو لره زړه د چا ور درومی زه به صدقه کړم سل بې درد تر اهل درده
بې د ستا د عشق د شهیدانو له خاکدانه کله زرغونیږي سره لاله له هره ګرده
یو خوشحال یوکم سل ختڼك نور په طبیعت کښې ځار شه د رحمان سړه بني له یوه فرده

که ځما مینه په تا ده خطا نه ده که بې تا ده ناروا ده روا نه ده
څوك چه بې د ستا له مخه بل ته ګوري آئینه ئې نا صفا ده صفا نه ده
هر عاشق چه پخپل یار پسي ژړا کا دا ژړا واړه خندا ده ژړا نه ده
د دنیا په تماشا چه څوك نازیږي خو هم نن ئې تماشا ده سبا نه ده
که ته سل ځله له ما سره جفا کړې ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده
هغه تیر شو چه مي مینه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده
معشقوقه که د خپل سر په بها مومی و رحمان وته ویږیا ده بها نه ده

له اغیار سره خندا څه پکار نه ده له اغیار سره سودا څه پکار نه ده
سل یارې د یوه یار د پاره کیږي آشنائې د هر آشنا څه پکار نه ده
هر بلبل به دي ثنا کا که ته ګل شې په خپل ځان خپله ثنا څه پکار نه ده
عشق د بوي په څیر په پټه خوله څرګندوی په دا چارو کښې غوغا څه پکار نه ده
د عشق درد واړه عاشق لره راحت دي د دې هسي رنځ دوا څه پکار نه ده
بد له بدو سره بویه نیك له نیکو د جفا په ځاي وفا څه پکار نه ده
عاشقي حرص و هوا دي سره لري د بیمار په ځان هوا څه پکار نه ده
عاشقي یو نادر کار دي په جهان کښې ولې بې خدایه سودا څه پکار نه ده
که ئې کړم هم ئې هیڅ نه ګڼم سوګند دي وابستګي د دې دنیا څه پکار نه ده
د دنیا مینه بې کاره اوریدي شي چه مي ولیده رښتایا څه پکار نه ده
که رحمان په جهان ډیر پایم دلبره زندګي ځما بې تا څه پکار نه ده

ګوره بیا به څوك ادا کا په زړه غونډه چه دا هسي مسته درومي مخ بر بنډه
ته چه ګل د آشنائی له باغه غواړې خبر زده کړه د هجران له خارو خنډه

ما رستم د زمانې ولید په سترګو چه د یار له جوړه ژاړي لکه کونډه
طالبان که مرور دي هم پخلا دي بې مطلوبه به د چا نه رسي دا هنډه
د عاشق د لاغرۍ سبب هم دا دي چه فرقه د معشوقو شوه په زړه ټنډه
زه به حوري د جنت بې یاره څه کړم خداي دي سرو د چا نه کاندي ارهنډه
سخت ساعت د بیلتانه به مي هیر نه شي که را ډکه شي د تور لحد ګور هنډه
زه رحمان د هغه حسن ثنا خوان یم چه جرګه د عاشقانو وي پرې پنډه

ستا په عشق کښې هسي خلاص یم له شعوره چه یوه خبره نه لرم منظوره
طبیبان وایی چه صبر دي دارو دي خداي ځمونږ فرقه پیدا کړه نا صبوره
توري هر چري ټرلي په دښمن شي یاره ستا سترګي دوستان وژني په توره
معشوقې د زمانې شوې سره ټولي د زړه خونه مي ئې ولوټله چوره
زه تنها په ضرور نه یم ستا له غمه پیدا شوې عاشقي ده له ضروره
هري شپې لره ورځ شته ده په دنیا کښې ځما عمر جدایي کړ بې له نوره
مهرویان وفا له هیڅا سره نه کا دا خبره په عالم کښې ده مشهوره
له حیرته واړه ګوتي په غاښ نسي په هجران کښې چه خبر شي له مهجوره
د رقیب له ندو سترګو دي ځان ژغوري هر عاشق چه بهره مند شي له حضوره
همره توان و توفیق نه ګنېم په بخت کښې چه تایب کا ما له فسق و فجوره
په نظر د مدعیانو تور کودی وي که ئې کښینوم د کټ د پاسه حوره
د رحمان د سترګو نم به هاله وچ شي که وچ شوي د چا نم وي له ناسوره

زه عار نه لرم په عشق کښې له پیغوره بې پروا یم د ستۍ په څیر له اوره
ږدی په خوله د سمندر مهر د مومو چه څوك ما منع کوي د عشق له شوره
بې هجرانه ځما بله خواري نشته ولي نشته تر دا بله خواري نوره
لکه ته چه خداي هر ګوره ښائسته کړې زه ئې هم هسي بې صبره کړم هر ګوره
چه په تور و سپین مي اړوي دا څوك دي که ته نه یې په مخ سپینه په زړه توره
د رقیب له بده خویه به څه وایم لا چه یار ور سره مل شي هاله ګوره
چه ئې پور د مرګ تر پوره پوري هیڅ دي هۍ توبه د بیلتانه له بده پوره
عاشقي سړی مجنون کاندي رحمانه کنې څوك په هوښیارۍ ور وزي له کوره

ما چه جور و جفا بيا مونده له ياره د وفا طمع به څه کړم له اغياره
له دښنو به د ښادۍ طمع څوك كا چه د دوست له لاسه غم شي ورد و څاره
دا گله هم ډيره ډيره له هغو شي هر چه طمع تري د ښو کيږي بسياره
دل آزار كه دل آزار كا ماڼه نه شي حيف خو دا دي چه دلدار شي دل آزاره
طالبان خو تر مطلوبه پوري پړه دي خداي دي تا بې وفا نه كا وفاداره
كه له ډيري حيا نه گورې و چا ته څو خو مخ کړه د رحمان د زړه دپاره

نه رسيږي ستا و حسن وته حوره څه به رسي و ميرمن وته مزدوره
ستا تر قده تر قامته نه رسيږي كه نښتر كه سپاري وي كه كجوره
تر قامت پوري دي سرو ده سر كوزې تر رخسار پوري دي شمعه ده بې نوره
هر سړي چه دي و حسن ته نظر كا ښاپيرۍ ئې په نظر وي نا منظوره
چه تا مي د خپلو شونډو ور په خوله کړه طايفه دي د صوفيانو کړه مخموره
اوس ته وايه چه په څه رنگ دي وستايم زه خو ستا په مينه لاړم له شعوره
دا جذبه د عاشقۍ نه ده نور څه ده گڼه كله څوك وتي شي له دستوره
اوس به زه د شب خيزۍ څه منت وكړم چه چهره دي کړه په خوب كښي را حضوره
چه په ننگ و په ناموس تر لوره كم وي صدقه شه نا قابله زوی تر لوره
ننگيالي تربرونه ښه وي او كه نه وي ننگيالۍ ترله هم ښه ده له تربوره
خوب روئي بې دلبرۍ څه په كار نه ده لكه ونه بې ميوې په پانړو گوره
كه د غلوزي لباس وكا غزا وشوه شهد نه دي چا موندلي له زنبوره
په رحمان د ښايسته ؤ قدر ډير دي د طبيب له قدره چا زده بې رنځوره

چه په وقت د ځكندن وكاږې ږيره ترو نن ولي هسي رنگ يې بې تدبيره
هر سړي چه كانده غم په مخ كښي وينې له هغه غمه لا نن گرزي دلگيره
چه سبا ارمانوې پند د پيرانو ولي نن د پير طلب نه کړې بې پيره
د يار ياد نه دي ځاي څه رنگ په زړه نسي ياد د غير چه لري نه کړې له ضميره
چه د ټوك په طلب گرزې خداي دي هير دي فقيري دا هسي چري وي فقيره
دغه غم دي خداي بدل كا په شادۍ زهير مه شې په آشنا پسي زهيره
هر سړي د هغه مخ په رونړا گرزي چه ئې خونه د خاطر وي پرې منيره
همیشه پراته په اور و په اوبو وی عاشقان د لعللو لبو له تاثيره

که هر څو ښایسته ډیر دي په جهان کښې و هر چا ته خپل آشنا دي بې نظیره
زه رحمان د آزادۍ په طلب گرزم باري نه د تورو زلفو له زنځیره

وقت د نو بهار دي زه جدا له خپله یاره دریغه دریغه دریغه چه بې یاره ځې بهاره
اور د خوږو زړونو چه د غره په سر بلیږي شنې لوخړي خیژي له نښترو له چناره
دا څه عاجزي ده چه زه کښم په کاغذ باندي راشه وویږیره د عاشقو له آزاره
دا څه اوښې نه دي چه بهیږي له چشمانو ویني دي بهیږي د زړګوټي له پرهاره
رنځ مي هسي سخت دي هر زمان په ما زیاتیږي راشه اې طبیبه ګوندي مرم د رب دپاره
غرونه دي نړیږي چه په حال ځما خبریږي سیند د اوښو درومي چه راغلي له کهساره
نور څه نه دي واړه دا ناړې د بیلتانه دي راشه که ئې اوري د رباب له هره تاره
زه یو خوار و زار یمه رحمان په عاشقي کښې خپل دي که پردي دي راته نه ګوري له عاره

خود به وران شې د دنیا بازاره تاړه هر ساعت د بیلتانه په تاخت لتاړه
لا غنچې په باغ کښې سترګي سپړ دي نه وي باد خزان ئې د زړه مینه کړه ویجاړه
هسي باد پرې د فنا لوري والوت د لاله قوله ئې پریسته له ناړه
څه بزرګي به ئې د باز و د همای وي زباني ذکر که سل رنګ کا خړاړه
که سل زر کاله پرې تیر شي په اوبو کښې په نرمۍ به نرمه نه شي وچه تراړه
تر دا هسي عمره نه عمر بهتر دي هر چه حال ئې ځانکندن شي عمر واړه
تروله خلاصه بندي ښه یې اې رحمانه چه د یار د زلفو ځیل دي شي په غاړه

کله په نمر سوزې کله ریږدې په ساړه کله مرې له لوږي کله مرې په ډیر خواړه
واړه په غوغا دي چه راغلي په دنیا دي نه ئې هغه وږي په قرار دي نه ماړه
کله لاس په سر و بل ته کیږدي توضع کړي کله وبله کیږدي لاس په توره په چاړه
خاوري د آدم چه کړې خمیر فرشتګانو درست ئې په غمونو په دردونو ولاړه
څه شو که څوك نن ساعت وهل کا یا ټرل کا پیښ به په هغه شي چه واهه شي هم تاړه
ښائي که څوك پس له مرګه خاندي په لحد کښې هر چا چه په دا ژوندون کښې خپسر وژاړه
ویني واړه تلوني هیڅوك نه دي پاتي شوي یون دي په دا لاري هم د ځوان هم د زاړه
زلفي د دلدار دي چه هر څوك ئې طلبګار دي لوي دي که هلك دي که عټان دي که واړه

سخ د هغه چا دي چه په درکښې ئې قبول شي زار د هغه چا چه ئې له دره وشاړه
ما عبدالرحمن غوندي سلام کړ ورته سلو خداي خبر چه کوم یو هغي ترکي ولاړه

چه غرقاب شي تور مژګان په غم د زړه نور خراب شي خان و مان په غم د زړه
عبث وایې غم د زړه و بلهوس ته څه پوهیږي هلکان په غم د زړه
په بل مخ باندي سوا د یار له مخه ما تړلي دي چشمان محکم د زړه
چه ئې عرش و کرسي لاندي تر قدم دي بالا تر دې هسي شان قدم د زړه
د خلیل تر کعبې دا کعبه ده لویه که آباد کا څوك ویران حرم د زړه
که نور خلق قدمونه ږدي په زمکه ما دي ایښي په آسمان قدم د زړه
دا مکان چه د اسمان زمکي تر میان دي یو خلوت دي د امکان سلم د زړه
زه مرهم د زړه له چا غواړم بې ربه چه کړي نه شي طبیبان مرهم د زړه
صورتي همدمان ډیر دي په دنیا کښې ولي نه مومي رحمان همدم د زړه

ساقي پورته شه د میو جام تیار کړه عمر هیڅ معطلي نه کاندي تلوار کړه
هر دم تیغ د ستا ځما په ګلو ګرزي هر نفس د خپل نفس له تیغه ډار کړه
تر خودۍ په هورته بله بلا نشته خاد مي د بیخودانو په دلبار کړه
دا پنځه ورځي ژوندون چه غنیمت دي شکرانه په دا نعمت د کردګار کړه
که غمخوار غواړې په غم و په اندوه کښې ښیښه ډکه د شرابو اختیار کړه
څو دي دوه سترګي غړیږي په جهان کښې ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه
هغه څوك دي چه تهمت پرې وایه نشي غوږ په هیڅا باندي مه باسه خپل کار کړه
مدعي چه په خوله ورشي هغه وایي ګوش و هوش د محبانو په ګفتار کړه
بې وفا دي د دې دهر یاران واړه چه دي پس له مرګه یار شي هغه یار کړه
رحمان وایي د دنیا چاري فاني دي البته په نا خبرو اعتبار کړه

باړه وتړه هاله کښت و زراعت کړه تقویٰ دار شه هاله طمع د جنت کړه
عاقلان په وړاندي ځي په ورستو ګوري په دنیا کښې سر انجام د آخرت کړه
سم د لاسه کار هر ګوره ډیر مشکل دي څو لا نه یې غریب زیرمه د غربت کړه
چه نور خلق ملامت در باندي وایی لا پخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړه
چه عقبیٰ ته د دنیا په اجر مومې خو هم دا عمارت هلته عمارت کړه

څو به ګوري د قيامت و ورځو شپو ته خو هم دا جهان په ځان باندي قيامت کړه
چه نيکي بدي په ته کښي تلل شي خود پخپله ته واخله عدالت کړه
که لښکر د حرص هوا درباندي زور شي سر دننه په قلعه د قناعت کړه
دا به نشي چه ستا څټ او د حق مخ وی که حق غواړې ته هم مخ په حقيقت کړه
هغه زړه چه عرش الله دي ګوره کوم دي څو دي توان شي د جمله زړونو خدمت کړه
وړاندني هم واړه ستا په څير سړي وو ته هم پاڅه د هغو په څير همت کړه
د دنيا چاري همه واړه فاني دي باري پورته شه يو بل رنګه حکمت کړه
په طبيعت د عاشقانو دارو نه شي درومه بله خوا دارو د خپل زحمت کړه
څو دي حق موندلي نه دي مه جار ووزه په دا مرسته دا جهان واړه لت پت کړه
اې رحمانه اول ته نصيحت واخله دغه پسه بيا و بل ته نصيحت کړه

چه می مينه خداي په تا باندي پيدا کړه ترکه ما په هغه ورځ خپله رضا کړه
اوس د ستا رضا جفا کړې که وفا کړې ما د ستا جفا قبوله په وفا کړه
ګل په لعلو و په ګوهر کله څوك پيري بې له ما چه تا خندا کړه ما ژړا کړه
بې له ما چه د ستا غم په هوس پيرم کوم وګړی په هوس د غم سودا کړه
دوه ياران به دا رنګ نه وي چا ليدلي چه يوه ورته ښکنځل کړه بل دعا کړه
ما و درست جهان ته شا و تا ته مخ کړ تا و درست جهان ته مخ و ما ته شا کړه
ډير هندکی په جهان ګرزی د چا ياد دي عشق عالی پايه د هير او د رانجا کړه
هم په دا ئې تر همه ؤ نام بلند شه چه قبوله غندليب د ګل جفا کړه
نا آشنا د بيلتانه له غمه څه زده خداي دغه خواري په بحره د آشنا کړه
عاشقان د يار تر سپيو هم ځاريږي ګڼه ما د رقيبانو څه پروا کړه
زه رحمان چه ستا د حسن ثنا خوان يم ستا له رويه درست جهان ځما ثنا کړه

نه يم خوښ د سرو ګلونو په سايا زه خوښ يم ستا د مخ په اور باندی جليا زه
په اور سوي ښهر وران وي څه حکمت دي سوي ستا د مخ په اور يمه بسيا زه
خپلوم به دي په هر رنګ چه خپليږې که دي مومم په دروغ که په رښتيا زه
نن راغلي په جهان يې که ديدن کړې نه به ته په دنيا راشې نه به بيا زه
دا اوږدې وعدې چه ته کوې صنمه کاشکی بيا مومم فرصت په دا دنيا زه
چه له ډيري حيا نه ګورې و چا ته غوځ کړم غوځ کړم د ستا ډيري حيا زه

چه له غمه له اندوه دي مړ نه يم سنګ آهن يم آدم نه يمه ګويا زه
که جوړه تلي څوك و قبرو ته دريغه ژاړم دا چه يا به ته نه يې او يا زه
هميهشه د خپلو اوښو له سيلابه سرګردان يم تر فلك و تر آسيا زه
که څوك قياس ځما د ډيرو اوښو وکا هسي ګرزم لکه خس پاس په دريا زه
زه رحمان د يار ثنا کولی نه شم کاشکي مه وي په جهان کښې څه ګويا زه

اي ځما د زړه آرامه راشه راشه سر و قده ګل اندامه راشه راشه
چه همه واړه خوبان دي مقتديان دي د همه واړو امامه راشه راشه
بې تا نشته هيڅ حرمت د عاشقانو د مشتاقو احترامه راشه راشه
خداي زده بيا به هسی وقت وي او که نه وي زه ويريږم له ايامه راشه راشه
نن هنګام دي که وفا کړې که جفا کړې چاري نه شي بې هنګامه راشه راشه
دا جهان د مسافرو رباط دي تله دي تله دي له دې ګرامه راشه راشه
پري رويه سنبل مويه ملك خويه عنبر بويه لاله فامه راشه راشه
شپه لا پريږده رونړا ورځ را باندي شپه شوه د رحمان ماه تمامه راشه راشه

بيا می زړه د تورو زلفو مسخر شه چپ و راست می د حبشو تور لښکر شه
هر طرف مي د دعا غشی ګذار کړل ولي يو هم هسي نه وُ چه کارګر شه
و هر لور ته چه غوږ باسمه غوغا ده يا ناري د بيلتانه دي يا محشر شه
واعظان خو وعظ کاندي باري څه کا چه د عشق په ليونيو ئې ګذر شه
چه پدر غوندي ئې ما ته نصيحت کړ په ديدن د ستا هغه ځما پسر شه
ستا په در کښې چه پراته دي نيکبختان دي چه د ستا له دره ووت در بدر شه
د عشق زخم به څوك څه ګڼې رحمانه چه ګڼون ئې په پرهر باندي پرهر شه

په دوران می هسي رنګ دلبر پيدا شه ګويا بل د نمر د پاسه نمر پيدا شه
يا طالع د زمانې يا ځما بخت دي چه دا هسي رنګ شيرين بشر پيدا شه
چه قاصد د ورك يوسف زيري پرې وکړ د يعقوب د سترګو بيا نظر پيدا شه
عشق دي دا که يو فساد دي نه پوهيږم په جهان کښې چه دا شور و شر پيدا شه
دريغه نخل د عشق مه وي زرغون شوي چه له ښاخه ئې د غم ثمر پيدا شه
ملائك د عشق له غمه خبر نه دي خو هم ما لره دا سخت سفر پيدا شه

یو د ترکو بې نیازي بل عاشقی شوه په پرهر باندي مي بل پرهر پیدا شه
بیا به روغ د عاشقیِ له رنځه نه شي په هر تن کښې چه دغه اثر پیدا شه
د نا اهل زوي په پلار په څه ښادي کا چه له پشته ئې لئیم پسر پیدا شه
چه هنر عیب کوي عیب هنر کا د رحمان په دور دا هنر پیدا شه

هیڅ می نه زده نه پوهیږم دا څه پیر شه چه دلدار مي د اغیار په شکل ځیر شه
زمانه مي د رقیب له لاسه وژني چه مي سپی ګانې هغه را باندي شیر شه
د هجران غمونو هسي په عذاب کړم هغه عیب چه مي لږ ګانې اوس ډیر شه
چه په تیغ مي لوبي کړې سزا مي دا وه ښه چه غوڅ مي زړه د ترکو په شمشیر شه
تیر ساعت به د هیڅا په لاس کښیوزي اوس به څه وایم و چا وته چه تیر شه
چه مي نوشه د هجران پیاله کړه تلخه د وصال دولت مي کل زهر و ګنډ هیر شه
چه ئې نه په وفا یادنه په جفا وي سکه رحمان د هغه یار له دله هیر شه

چه نصیب ئې سینه چاکه زړه افګار شه جرس ځکه په فریاد و په چغار شه
چه ندا د عاشقیِ په عاشق وشوه د غفلت له خوبه پاڅیده بیدار شه
عبادت د ریا کار څه پکار نه دي لکه غوك هسي په بحر کښې مردار شه
د جاهل زهد په زهد حساب نه دي لکه مال په خمرو خرڅ د خمر خوار شه
مشقت د نادانانو واړه پوچ دي لکه بې بارانه ابر تش غبار شه
علمیت د بې عملو عالمانو لکه ګنج د کتابونو په خره بار شه
چه ئې کاندي و نا اهل و نا قابل ته نصیحت د ناصحانو څه په کار شه
د رحمان کلام په غوږ د بې هنرو لکه در په لاس د طفل هسي خوار شه

که په عقل پسې لاړم پکار نه شه که له بخته مي یاري غوښته یار نه شه
غرونه غرونه خوب په ځاځکي اوبو درومي یار په سیند ځما د اوښو بیدار نه شه
معلومیږي چه کم بخت د درست جهان یم چه د درست جهان دلدار مي دلدار شه
